# د ربیع الاول پښتو بیانونه

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

د اجتماعِ میلاد (1442ھ)، او هفته وارې اجتماع 29اکتوبر 2020 بیان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# اِختیاراتِ مُصطفٰی ﷺ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. او ضِمناً به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

زمونږه د خوږ نبي، مَدَني تاجدار **مُحَمَّدِ** مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "**بیشکه اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ یوه فرښته زما په قبر مقرره کړي ده او هغې ته ئې د ټول مخلوق د آوازونو اوریدلو طاقت ورکړے دے، پس د

قيامته پورې چې څوك په ما باندې درود شريف لوَلي نو هغه ما ته د هغه او د هغه د پلار نوم پيش كوي. وائي، فلاني بن فلاني په تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاك لوستلے دے.'' (مجمعُ الزّوائِد ج ۱۰ ص ۲۵۱ حديث ۱۷۲۹۱)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

جہاں کے مولا جہاں کے سرور سلام تم پر سلام تم پر
طبیبِ عالم حبیبِ داور، سلام تم پر سلام تم پر

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ''**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**'' د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

❁ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروعِ نه تر آخرې پورې بيان واورئ ❁ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ❁ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ-

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

[1] .... معجم كبير سهل بن سعد الساعدی... الخ، ۶/۱۸۵، حديث ۵۹۴۲

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اول خو مونږ له د **الله** پاک شکر ادا کول پکار دي چې هغه مونږ ته یو ځل بیا د دولسم رَبِیْعُ الْاَوَّل شریف مُقَدَّسه نُوراني شپه رانصیب کړه- نن ډیره اهمه شپه ده، دا شپه ډیره عظیم الشانه شپه ده، دا شپه د ډیرو فضائلو او برکتونو شپه ده ۞ دا هغه عظیمه شپه ده کومه شپه چې د کائنات د ټولو نه زیات د شان و شوکت والا هستئ سیِّدُ الانبیاء، حبیبِ کِبریا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره نسبت لري ۞ دا هغه عظیمه شپه ده چې د شَبِ قَدر نه هُم غوره ده - (**ماثبت بالسنة،ص۱۵۳**)، ۞ دا هغه عظیمه شپه ده په کومه شپه چې د حضرتِ آمِنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د رحمتونو ډک کور نه یو داسې نُور اوځلیدلو چې ټول عالم ئې روښانه کړو او هر طرف ته نُور خور شو ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې پکښې هر طرف ته خوشحالئ خورے شوې ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې د کُفر او شِرک تِیارے پکښې ختمې شوې ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې **الله** پاک په مسلمانانو باندې عظیم احسان کړے دے ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې شیطان سره د خپلو ملګرو رُسوا شو ۞ **په دې عظیمه شپه** د آسمان ستوري هُم دُنیا طرف ته مائل شو ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې د شپو سرداره ده ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې د فرښتو سردار حضرت جبرائیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام په مشرق او مغرب کښې او د خانه کعبې د پاسه جنډے اولګولې (خصائصِ کبریٰ،۱/۸۲ملخصاً) ۞ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې په دې شپه کښې د **الله** پاک د **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو په وجه د ایران د بادشاه کِسریٰ په **محل** زلزله راغله

او په هغې کښې چاودونه اوشو ۞ **دا هغه عظيمه شپه ده چې په دې شپه** د اِيران د زرو کالو نه بله آتش کَده [يعني لوئ اور] ېچپله مړ شو ۞ **دا هغه عظيمه شپه ده چې** په دې کښې د **الله** پاک په حُکم د آسمانونو او جَنَّت دروازے بيرته کړے شوے ۞ **دا هغه عظيمه شپه ده** په کومه شپه چې د آسمان نه د نُور باران را وريدلے وو ۞ **دا هغه عظيمه شپه ده** په کومه شپه چې فرښتو د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړلو باندې ډيرې ډيرې خوشحالئ کړې وے ۞ **دا هغه عظيمه شپه ده چې** په دې شپه مَکِّي مَدَني تاجدار، شهنشاهِ عرب و عَجَم، شفاعت کوونکي، د خلقو غم درد لرې کوونکي، نُور والا آقا جنابِ احمد مُجتَبىٰ مُحَمَّدِ مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دُنيا ته تشريف راوړلو او د کُفر و شِرک تهولې تيارے لرې شوے- مولانا حسن رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې بَرَکتونو والا، عظمتونو والا، رحمتونو والا مبارکې شپے نه د فيضان [يعني بَرَکتونه] حاصلولو د پاره څه ښه فرمائي:

سحابِ رحمتِ باری ہے بارھویں تاریخ
کرم کا چشمۂ جاری ہے بارھویں تاریخ

ہمیں تو جان سے پیاری ہے بارھویں تاریخ
عَدُو کے دل کو کٹاری ہے بارھویں تاریخ

ہزار عید ہوں ایک ایک لَحظہ پر قُرباں
خُوشی دلوں پہ وہ طاری ہے بارھویں تاریخ

تمام ہوگئی میلادِ انبیا کی خوشی
ہمیشہ اب تِری باری ہے بارھویں تاریخ

دلوں کے میل دُھلے گُل کِھلے سُرُوْر ملے
عجیب چشمۂ جاری ہے بارھویں تاریخ

چڑھی ہے اَوج پہ تقدیر خاکساروں کی
خُدا نے جب سے اُتاری ہے بارھویں تاریخ

خُدا کے فضل سے ایمان میں ہیں ہم پورے — کہ اپنی روح میں ساری ہے بارہویں تاریخ
ولادتِ شہِ دیں ہر خُوشی کی باعث ہے — ہزار عید سے بھاری ہے بارہویں تاریخ
ہمیشہ تُو نے غلاموں کے دل کئے ٹھنڈے — جلے جو تجھ سے وہ ناری ہے بارہویں تاریخ
حَسَن ولادتِ سرکار سے ہوا روشن — مرے خُدا کو بھی پیاری ہے بارہویں تاریخ

(ذوقِ نعت، ص۱۲۱-۱۲۲)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوریدل چې دا ځومره عظیمه شپه ده چې په دې کښې **نَبِیِّ رَحمت، شَفِیْعِ اُمَّت، شَهَنْشَاهِ نُبُوَّت، تاجدارِ رِسالت** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دُنیا ته تشریف راوړے دے، راځئ چې اول د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه عطا کړو د مرحبا یا مُصطَفیٰ په نعرو د دې نُوراني شپې استقبال کوو- که کیدے شي نو مَدَني جنډے اوپړقوئ او ښه په جوش او جذبه او مَحبَّت او عقیدت د مرحبا یا مُصطَفیٰ نعرے اولګوئ-

سرکار کی آمد مرحبا — سردار کی آمد مرحبا
آمنہ کے پھول کی آمد مرحبا — رسولِ مقبول کی آمد مرحبا
پیارے کی آمد مرحبا — اچھے کی آمد مرحبا
سچے کی آمد مرحبا — سوہنے کی آمد مرحبا

موہنے کی آمد مرحبا مختار کی آمد مرحبا
پرنور کی آمد مرحبا سراپا نور کی آمد مرحبا

[راځئ چې اوس پښتو کښې هُم نعرے اولګوو،

د سرکار آمد مرحبا د سردار آمد مرحبا
د آمنه د دِلدار آمد مرحبا د شاندار آمد مرحبا
د خوږ نبي آمد مرحبا د ګران نبي آمد مرحبا
د ریښتوني آمد مرحبا د ښائسته آمد مرحبا
د ښکلي آمد مرحبا د مُختار آمد مرحبا
د سترګو د تور آمد مرحبا د زړه د ټکور آمد مرحبا

**مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده "**اختیاراتِ مُصطفیٰ** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم" اِنْ شَآءَاللّٰه په دې کښې به مونږه ډیرې ښکلې ښکلې خبرې اورو۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې مونږه

د دوارِو جهانو د سردار مَکّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر وو چې د قبیلهٔ بنه سُلَیم یو کس سَمسَره ښکار کړي وه او په خپل لِستونړي کښې ئې پټه کړي وه او په هغه ځائے تیریدلو، هغه چې زمونږ ګنړه اولیدله نو تپوس ئې اوکړو چې دا خلق څوک دي؟ نو هغه ته چا اُووئیل چې دا د هغه کس مجلِس دے چې هغه ځان ته د **اللّٰه** رسول وائي- هغه چې دا واوریدل نو د خپلې سوَرلۍ نه کُوز شو او د خلقو په مینځ کښې ورتیر شو او د **اللّٰه** پاک آخري رسول **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ئې بد رد وئیل شروع کړل- حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې د هغه دا ګُستاخي اولیدله نو عرض ئې اوکړو: **یا رَسُولَ اللّٰه** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اجازت راکړئ چې سر ترینه کټ کړم- خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیل: اے عُمَره! آیا تا ته نه ده معلومه چې حِلم و درګُزر [یعني نرمي او معاف کول] د نُبُوَّت د اوصافو نه دي، بیا خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه طرف ته مُتَوَجِّه شولو نو هغه اُووئیل: په لات او عُزّیٰ (بُتانو) مې دِ قَسَم وي! زه به په تاسو ایمان نه راوړم- خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اُوفرمائیل: اے اَعرابي! ته چا او کومې خبرې دې خبرې ته را اُوپارولې او مجبوره ئې کړې چې ته داسې خبرې اوکړې او زما د مجلِس عِزَّت اونکړې- اَعرابي اُووئیل: په لات او عُزّیٰ (بُتانو) مې دِ قَسَم وي! زه به په تاسو هله ایمان راوړم چې زما دا سَمسَره په تاسو ایمان راوړي- دا ئې اُووئیل او سَمسَره ئې د لِستونړي نه را اُووِیستله او د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخې ته ئې کیښودله- خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سَمسَرے ته آواز اوکړو نو هغې

په ډېر زيات ادب عرض اوکړو: **لَبَّيْکَ وَسَعْدَيْکَ** يعني يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه حاضره يم او زه په دې حاضرئ باندې ډېر فخر لرم- ټولو حاضرو خلقو د هغې خبره واوريدله او پرې پوهه شو- بيا ترينه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس اوکړلو: ستا معبُود څوک دے؟ هغې عرض اوکړو: زما معبُود هغه دے د چا عرش چې په آسمان کښې دے او هُم د هغه بادشاهي په زمکه هُم ده، د هغه رحمت په جَنَّت کښې دے او د هغه عذاب په جَهنَّم کښې دے- بيا ترينه خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس اوکړلو: اے سَمسَرے دا اُووايه چې زه څوک يم؟ هغې په اوچت آواز کښې اُووئيل: **اَنْتَ رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ** يعني تاسو د ټولو جهانونو د **ربّ** رَسُول او آخري نبي ئې، **وَقَدْ خَابَ مَنْ كَذَّبَکَ** او چا چې تاسو دروغ اوګنړلئ هغه نامُراده شو- دا منظر ئې چې اوليدلو نو هغه اَعرابي دومره متاثره شو چې فوراً ئې کلمه اُووئيله او مسلمان شو او عرض ئې اوکړو: **يارَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه چې کله راغلم نو زما په نظر کښې د زمکې په سر باندې ستاسو نه زيات بل څوک ناخوښه سړے نه وو خو اوس زما دا حال دے چې تاسو زما په نزد زما د ځان او زما د مور و پلار نه ما ته زيات ګران ئې- خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيل: د **الله** د پاره **حَمد** دے چې تا ته ئې د داسې دِين هدايت درکړو چې دا به هميشه غالب اوسي او کله به نه مغلُوب کيږي- بيا خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته د **سُوْرَةُ الْفَاتِحَه** او **سُوْرَةُ الْاِخلاص** تعليم ورکړو نو هغه چې د قرآنِ پاک دا دوه آيتونه واوريدل نو عرض ئې اوکړو: ما



www.dawateislami.net

غتې غتې فصيح و بَلِيغ (خواږه کلامونه) اوکږده او مختصر هر قِسم کلامونه اوريدلي دي خو قَسَم په خُدائے! ما تر نن پورې د دې نه اوچت او د دې نه بهتر کلام کله هُم نه دے اوريدلے-[1]

د آقا آمد مرحبا　　　د داتا آمد مرحبا
د مولیٰ آمد مرحبا　　　د اَولیٰ آمد مرحبا

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله** پاک خپل آخري نبي **مُحَمَّدِ عَـرَبِـي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د زمکې او آسمان حکومت عطا کړے دے، چنانچه څنګه چې د خوږ مُصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکومت په انسانانو دے هُم دغسې په پيريانو او ځناورو، په هوا کښې الوتلو والا مرغو او په ونو او کانړو هُم د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکومت دے، د هغوئي حکومت په فرش هُم دے او په عرش هُم دے-

اَميرِ اَهلِسُنَّت په وسائل بخشش کښې څه ښکلي ليکي:

تِری فرش پر حکومت تِری عرش پر حکومت
تُو شہنشہِ زمانہ مدنی مدینے والے
بَعطائے ربِّ حاکم تُو ہے رِزق کا بھی قاسم
ہے تِرا سب آب ودانہ مدنی مدینے والے[2]

**صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُـحَـمَّـد**

---

[1]... معجم اوسط، ج4، ص283، حدیث:5996 مختصراً

[2]...وسائل بخشش، مرمم ص ۴۲۵۔

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل چي سَمسَره (چې يو بے زبانه ځناور دے هغې) څنګه د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سوالونو جوابونه ورکړل، د **اللّٰه** پاک د معبُود کيدلو او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي کيدلو ګواهي ئې هُم ورکړه- دا زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دے چې د سرکشو پيريانو او انسانانو نه سِوا هر مخلوق هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاک رَسُول مني- څنګه چې

حضرت جابِر بِن عبدُاللّٰه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږه د نبيانو د سردار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د يو سفر نه واپس راتللو کښې د (قبيله) بَنُو نَجّار د يو باغ خوا ته اورسيدلو نو مونږ ته معلومه شوه چې په باغ کښې يو سرکشه اوښ دے چې هغه هيڅ خوک هُم باغ ته ننوتلو ته نه پريږدي، چې خوک داخليدل غواړي په هغه حمله کوي-

حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وائي چې خلقو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دي خبرې ذِکر اوکړو نو خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او باغ ته داخل شولو او اُوښ ئې را اوبللو نو هغه خپل خټ په زمکه باندې راښکلو راښکلو کښې د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو- بيا خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه پړے را اوغوښتلو او ور وائې چولو او مالک ته ئې حواله کړو- بيا خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خلقو طرف ته مُتَوَجّه شولو او اُوئې فرمائيل: بے شکه په زمکه او آسمان کښې د سرکشو پيريانو او [سرکشو] انسانانو نه سِوا هر څيز دا تسليموي چې زه د **اللّٰه** رَسُول يم-[1]

---

[1]...مسند امام احمد بن حنبل، ج:۳۰، ص:۳۱۰۔

اے عاشقانِ رَسُول! **اللہ** پاک خپل آخري نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د خپلو خزانو کُنجیانې [یعني چابیانې] ورکړي دي- او ټول جهانونه ئې د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تَصَرُّف کښې ورکړي دي چې تاسو چا ته څه غواړئ ورکړئ، چې څنګه غواړئ ورکړئ-

*اِنہیں خدا نے کیا اپنے ملک کا مالک اِنہیں کے قبضے میں رب کے خزانے آئے ہیں*[1]

حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡه فرمائي: حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **اللہ** پاک نائبِ مُطلق دے، ټول جهان د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اختیار کښې ورکړے شو او د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حُکم لاندې کړے شو، چې څه غواړي هغه کولے شي، چا ته چې څه اوغواړي ورکولے شي او د چا نه چې څه غواړي واپس ئې اخستلے شي، په ټول جهان کښې د هغوئي حُکم بدلولو والا هيڅ څوک نشته، ټول جهان د هغوئي محکوم دے او هغوئي د خپل **ربّ** تعالیٰ نه سِوا د هيڅ چا محکُوم نه دے، د ټولو انسانانو مالِک دے، څوک چې حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل مالِک نه ګڼړي هغه به د سُنَّتو د خوږوالي نه محرومه اوسي، ټوله زمکه د مَکِّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مِلک ده، تمام جَنَّت د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جاګير دے، **مَلَكُوْتُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ** (یعني د آسمانونو اور زمکې ټوله بادشاهی) د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان تر لاندې (یعني حُکم منلو والا) دي، حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته

---

[1]...سامانِ بخشش، ص۱۳۹۔



www.dawateislami.net

د جَنَّت او دوزخ کُنجیاني [چابیانې] په لاس مبارک کښې ورکړے شوې، رِزق او خیر او د هر قِسمه عطاګانې د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار نه تقسیمیږي، دُنیا او آخرت د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عطا یوه حِصَّه ده.[1]

رَسُولُ اللہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل **ربّ** تعالیٰ په عطا د جَنَّت مالِک دے، جَنَّت عطا کوونکے دے، چا ته چې غواړي ور عطا ئې کړي.[2] د بخاري شریف په حدیث نمبر 17 کښې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: **اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَّاللّٰہُ یُعْطِیْ** یعني **اللّٰه** ئې ما ته عطا کوي او زه ئې تقسیموم.[3]

د مکّی آمد مرحبا  د مَدَنی آمد مرحبا
د عَرَبی آمد مرحبا  د قَرَشی آمد مرحبا
د ہاشِمی آمد مرحبا  د مُطَّلِبی آمد مرحبا

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!  صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

اے **عاشقانِ مِیلاد!** زمونږ د خوږ آقا مَکِّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه ښکلې عطاګانې دي- د سوالګرو جُولئ څنګه ډکوي او څنګه د جَنَّت خوشخبري ورکوي، راځئ چې په دې باره کښې یو حدیثِ پاك واورو چنانچه: حضرتِ سَیِّدُنا رَبِیعه بِن **کَعْب** اسلمي

1... بہارِ شریعت، ۱/ ۸۱-۸۳، حصہ: ۱۔ بتغیر قلیل
2... فتاویٰ رضویہ، ۱۴/ ۶۶۷.
3... بخاری، کتاب العلم، باب من یرد اللہ بہ خیرا یفقہ فی الدین، ۱/ ۴۲، حدیث: ۷۱.

رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما به شپه د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې تیروله، نو ما د اوداسه اوبه او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ضرورت څیزونه (لکه مِسواك) ځان سره واخستل او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شوم، نو رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: **سَلْ!** یعني اوغواړه څه غواړې؟ ما عرض اوکړو: اَسْئَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِی الْجَنَّة یعني (آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) **په جَنَّت کښې ستاسو رَفاقَت (یعني ګاونډ) غواړم.** (لکه داسې عرض چې کوي)

*تجھ سے تجھی کو مانگ لوں تو سب کچھ مل جائے*
*سو سُوالوں سے یہی ایک سُوال اچھا ہے*

(د رحمت دریاب نور په جوش کښې راغے او) اوئې فرمائیل: "اَوَ غَیْرَ ذٰلِكَ یعني نور هُم څه غواړې؟" ما عرض اوکړو: بس صرف هُم دا۔"

*تجھ سے تجھی کو مانگ کر مانگ لی ساری کائنات*
*مجھ سا کوئی گدا نہیں تجھ سا کوئی سخی نہیں*

(چې حضرتِ سَیِّدُنا رَبیعه بِن کَعْب اَسلمي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په جَنَّت کښې ګاونډ اوغوښتو او نور ئې د څه حاجت طلب کولو نه انکار اوکړو) نو سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: "فَاَعِنِّیْ عَلٰی نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْد" یعني په خپل نفس باندې د کثرتِ سُجُود (یعني زیاتو نفلونو) په ذریعه زما مدد اوکړه. (مُسلِم ص.۲۵۳ حدیث۴۸۹)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## څه چې غواړې اوغواړه!

سُبْحٰنَ اللهِ ! سُبْحٰنَ اللهِ ! سُبْحٰنَ اللهِ ! دې حديثِ مبارك خو زمونږه ايمان تازه كړو. حضرتِ سَيِّدُنا شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: د سركار مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بغير د څه تَقْيِيد وتَخْصِيص نه مُطلَقاً دا فرمائيل: **سَلْ**؟ يعني اوغواړه څه غواړې؟ دا خبره ظاهروي چې ټول مُعاملات د سرورِ كائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مباركو لاسو كښې دي، هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څه غواړي، چا له چې غواړي د خپل **ربّ** عَزَّوَجَلَّ په حُكم ئې وركوي.

رُسل اُنہیں کا تو مژدہ سنانے آئے ہیں　　اُنہیں کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں
فرشتے آج جو دُھومیں مچانے آئے ہیں　　اُنہیں کے آنے کی شادی رَچانے آئے ہیں
یہ سیدھا راستہ حق کا بتانے آئے ہیں　　یہ حق کے بندوں کو حق سے ملانے آئے ہیں
یہ بھولے بچھڑوں کو رَستے پہ لانے آئے ہیں　　یہ بھولے بھٹکوں کو ہادی بنانے آئے ہیں
اِنہیں خدا نے کیا اپنے ملک کا مالک　　اِنہیں کے قبضے میں رب کے خزانے آئے ہیں
جو چاہیں گے جسے چاہیں گے یہ اسے دیں گے　　کریم ہیں یہ خزانے لُٹانے آئے ہیں
سُنو گے ''لا'' نہ زبانِ کریم سے نوری　　یہ فیض و جُود کے دریا بہانے آئے ہیں[1]

سلطان کی آمد مرحبا　　ذیشان کی آمد مرحبا
غیب دان کی آمد مرحبا　　آقائے عطار کی آمد مرحبا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]...سامانِ بخشش، ص۱۳۹۔

اے عاشقانِ رَسُول! آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **اللّٰه** پاک هغه اختیارات ورکړي دي چې د هغې څه انتها نشته، **اللّٰه** پاک په قرآنِ مجید کښي اِرشاد فرمائي: **وَ مَاۤ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُۗ وَ مَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْاۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِۘ۝** [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او څه چې تاسو ته رَسُول عطا کړي هغه واخلئ او د څه نه مو چې منع کړي هغې نه منع اوسئ او د **اللّٰه** نه اوېَرېږئ، بیشکه د **اللّٰه** عذاب سخت دے- (سورہ حشر، آیت7) یعني رسولِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تاسو ته څه حُکم درکړي د هغې اِتِّباع اوکړئ ځکه چې په هر حُکم کښي د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اطاعت واجِب دے او د څه نه مو چې منع کړي د هغې نه منع اوسئ -[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د **اللّٰه** پاک په عطا سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دا اختیار هُم حاصل دے چې څه څیز غواړي فرض او واجب ئې کړي یا ناجائز او حرام ئې کړي او د یو عام حُکم نه چې څوک غواړي مُستثنٰی (یعني جُدا) کړي دا د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خصوصیاتو کښې یو عظیم الشّان خصوصیت دے او دا لویو لویو فُقَهائے کرامو، مُفَسِّرینو، مُحَدِّثینو او مجتهدینو بیان کړي دي- امام اَهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکي: ائمۂ مُحَقِّقِین تصریح (یعني واضح طور) فرمائي چې اَحکامِ شریعت حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حواله کړے شوي دي،

---

1... تفسیر صراط الجنان، ج۱۰، ص۵۵-

چې څه خبره غواړي واجبه ئې کړي، چې څه غواړي ناجائزه ئې کړي، کوم څیز یا کوم کس چې د څه حُکم وغیره نه غواړي مُستثنیٰ (یعني جُدا) کړي۔

د **اللّٰہ** پاک د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خصوصي اختیار دلیل د قرآن و حدیث نه ثابت دے، واورئ:

## د حلال یا حرام قرار کولو اختیار

د قرآنِ کریم د ډېرو آیتونو او ډېرو حدیثونو نه ثابته ده چې رَسُوْلُ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څه څیز غواړي حلال یا حرام، فرض یا واجب ئې کړي۔

**اللّٰہ** تعالیٰ د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه صفتونه دا بیان کړي دي:

| | |
|---|---|
| وَ يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَ يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ (پارہ 9، سورۂ اعراف، آیت 157) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او پاک څیزونه به د هغوئي د پاره حلال قرار کوي او ګنده څیزونه به پرې حرام کوي۔ |

په حدیث مبارک کښې دي: [یعني حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله فرمائي] **اِنِّيْ حَرَّمْتُ كُلَّ مُسْكِرٍ** یعني بیشکه نشه راوړونکے هر څیز ما حرام کړے دے۔[1]

[1]...نسائی، ص۸۶۶، حدیث: ۵۶۱۴۔



www.dawateislami.net

۩ د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کوم څیز حلال قرار کول یا حرام قرار کول، دا خصوصیت صرف د یو څواحکامو د پاره نه وو بلکه د ټولو احکامو د پاره عام وو بلکه زمونږه آقا و مَولا **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **الله** پاک تر دې پورې اختیار ورکړے وو چې تاسو څه حُکم غواړئ، د چا د پاره ئې چې غواړئ خاص ئې کړئ- **ښکله چې**

۩ دا شرعي اختیار هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې **د یو صحابي د پاره ئې د پینځؤ په ځائے دوه لـمونځونه فرض کړل-**

۩ دا شرعي اختیار حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې صرف د **اَبُرده** رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د پاره ئې د شپږو میاشتې د چیلۍ قرباني جائز قرار کړه-

۩ دا شرعي اختیار هُم حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې یواځې د حضرت خُزَیمه بن ثابت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ګواهي ئې د دوو قائم مقام قرار کړه-

۩ دا شرعي اختیار هُم حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې په حرمِ مَکّه کښې ئې اِذخَر بوټے کټ کول حلال قرار کړو-

۩ دا شرعي اختیار هُم حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې پخپله ئې ریښم حرام قرار کړو او هُم دا حُرمت ئې د حضرت زُبیر بِن عوام او حضرت عبدُ الرَّحمٰن بِن عوف رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا په حق کښې حلال قرار کړو-

۩ دا شرعي اختیار هُم حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د حضرت اَسماء بنتِ عُمیس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د پاره ئې د خاوند د وفات عِدَّت درې ورځې قرار کړو-

- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د قرآنِ پاک آیت ورښودل ئې حق مهر قرار کړو۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې حضرت بَراء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ئې د سرو زرو د ګوتئ اچولو اجازت عطا کړو۔
- او دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو د حضرت سُراقه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره ئې د سرو زرو کړې [بنګړي] اچول جائز قرار کړل۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې [د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مازديګر د لمانځه د پاره ئې] پريوتلے لمر بيرته را اوخيژولو۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې سپوږمئ ئې دوه ټکړے کړه۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې سپوږمئ به د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اشاره اخوا او ديخوا کيدله۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د ګوتو مبارکو نه ئې د اوبو چينے رواني شوے۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د حبيب بِن يَساف کټ شوے لاس ئې بيرته اولګولو۔
- دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د حضرتِ عبدُالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماته شوي پنډئ ئې جوړه کړه۔

۩ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې په غَزوۂ بَدر کښې ئې حضرت عُکّاشه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته لرګے ورکړو او د هغې نه تُوره جوړه شوه۔

شاہِ کونین جلوہ نما ہو گیا ـــ رنگ عالم کا بالکل نیا ہو گیا
ایسا اعزاز کس کو خدا نے دیا ـــ جیسا بالا ترا مرتبہ ہو گیا
ایسی نافذ تمہاری حکومت ہوئی ـــ تم نے جس وقت جو کچھ کہا ہو گیا[1]

د شاہِ کون ومکان آمد مرحبا ـــ د رب د محبوب آمد مرحبا
د سلطانِ عَرب آمد مرحبا ـــ د رسولِ عَجَم و عَرَب آمد مرحبا

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د زمکې د خزانو مالِک

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** تاجدارِ رِسالَت، شهنشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپل **ربّ** په بارګاه کښې هغه کمال حاصل دے چې د دوئي نه مخکښې يو نبي ته هُم حاصل نه وو- **الله** پاک د زمکو د خزانو کُنجيانې [يعني چابياني] ور عطا کړي دي ځنګه چې

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې سرکارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: زه اُوده ووم چې د زمکې ټولې خزانے راوړے شوې او زما په دواړو لاسو کښې کيښودے شوې-[1]

[1]... قبالۂ بخشش، ص ۴۴۔



www.dawateislami.net

کُنجی تمہیں دی اپنے خزانوں کی خدا نے　　محبوب کیا مالک و مختار بنایا
کونین بنائے گئے سرکار کی خاطر　　کونین کی خاطر تمہیں سرکار بنایا[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د لاسونو مبارکو بَرَکت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله** پاک چې کله یو بنده ته څه نعمت ورکوي نو هغه ته د هغې د استعمال اختیار هُم ورکوي، لکه مونږ ته ئې چې سترګې راکړې دي نو مونږ ته ئې اختیار هُم راکړے دے چې کله غواړو پټې ئې کړو او چې کله غواړو اوئې غړوو- چنانچه

**الله** پاک چې کله خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ټول نعمتونه ورکړل نو په هر څیز کښې د خیرِ کثیر سره سره ئې د زمکې د ټولو خزانو کُنجیانې هُم ورکړې او دا اختیار ئې هُم ورکړو چې چا ته غواړئ د دُنیا دولت ورکړئ غني ئې کړئ او چا ته چې غواړئ د آخرت نعمتونه ورکړئ او د **الله** ولِي ئې کړئ- که غواړئ نو په خپل بَرَکت سره ورله یو مُوټے څیز ډیر کړئ- څنګه چې

حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ فرمائي: زما آقا **مُحَمَّدِ** مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله حضرت زَینَب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهَا سره نکاح اوکړله نو زما مور اُمِّ سُلَیم ما ته اُوفرمائیل: آیا مونږه د خوږ آقا **مُحَمَّدِ** مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

[1]... بخاری، کتاب الاعتصام، ج ۴، ص ۵۴، دار طوق النجاۃ، صحیح مسلم کتاب المساجد، ج ۱، ص ۳۷۲، دار احیاء
[2]... ذوقِ نعت ص ۴۷

وَسَلَّم په خدمت کښې څه نذرانه اُو نه لیږو؟ ما عرض اوکړو: جي بالکل! داسې ضرور اوکړئ- نو زما مور کجورې، غوړي او پنیر واخستل او حلوه ئې پخه کړه، بیا ئې هغه په یو لوښي کښې واچوله او اوئې فرمائي: اے اَنَس! دا لوښے زما د آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته یوسه او عرض اوکړه چې یارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا زما مور رالیږلي دہ، هغې ستاسو په خدمت کښې سلام پیش کړے دے او عرض ئې کړے دے چې دا معمولي شان تُحفه زمونږ له طرفه قبوله کړئ- [حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ] فرمائي: زه د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شوم او څه مې چې والِده فرمائیلي وو هُم هغسې عرض مې اوکړو، نو حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: دا کیږده- بیا ئې اُوفرمائیل: لاړ شه او فلانکے فلانکے را اُوغواړه او د دې نه علاوه چې څوک هُم تا سره په لاره کښې میلاو شي هغوئي ته هُم دعوت ورکړه- زه اُووتلم او د کوم کوم کس چې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم اخستے وو، هغوئي ته مې دعوت ورکړو او څوک چې را ته په لاره کښې میلاویدل هغوئي ته مې هُم دعوت ورکولو- چې کله کور ته بیرته راغلم نو څه گورم چې کور د صحابۂ کرامو نه ډک دے- دلته د حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه تپوس اوکړے شو چې ستاسو د ټولو شمیر څومره وو؟ هغوئي اُوفرمائیل: درې سوه (300)- فرمائي چې بیا ما اولیدل چې سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارک په هغه حلوه کیښودلو او څه چې **الله** پاک اوغوښتل هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه اُولوستل- بیا خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لس لس کسان راغوښتل شروع کړل- هغوئي به د هغه

لوښي نه خوړله او دوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ورته فرمائيل چې د **الله** نوم اخلئ او هر كس دِ د خپلې مخې نه خوري-

فرمائي چې هغه ټولو ځان ښه موړ كړو- يوه ډله به وتله نو بله به را داخله شوه، تر دې چې ټولو اوخوړله نو ماته ئې أُوفرمائيل: اے اَنَس! لوښے اوچت كړه، ما اوچت كړو، زه نه پوهيږم چې حلوه هغه وخت زياته وه چې كله ما هغه كيښودي وه او كه هغه وخت چې كله ما اوچته كړه-[1]

كرديا اپنے خزانوں كا خدا نے مالك — بے طلب جس كو جو چاہيں عطا كرتے ہيں
ميں تيری دَين كے قرباں كہ تيرے منگتا — تجھ سے جو چاہتے ہيں مانگ ليا كرتے ہيں[2]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا هُم هغه انس بِن مالِك رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دے چې كله خپلې والده اُمِّ سُليم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دربار نبوي كښې حاضر كړے وو او عرض ئې كړے وو چې: **يَا رَسُوْلَ الله** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا زما ځوئ ستاسو خادِم دے- تاسو صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ده د پاره دُعا اوكړئ- چې دا ئې واوريدل نو د **الله** پاك حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوكړه: يا **الله**! د ده په مال كښې بَرَكت عطا كړې، د ده مال زيات كړې، د ده اولاد زيات كړې او څه چې تا اَنَس ته عطا كړي دي په هغې كښې بَرَكت وركړې-[3]

1... بخاری، ح۵۱۶۳، ص۱۳۲۳، دار المعرفه، مشكاة المصابيح، كتاب احوال القيامة، ح۵۹۱۳، ج۴، ص۳۹۱، دار الكتب العلميه، بيروت

2... قبالۂ بخشش، ص186

3... مشكوة، ص۵۷۵۔

دا دُعا داسې قبوله شوه چې په عامو باغونو کښې به په کال کښې يو ځل میوه کیدله خو د حضرت اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په باغونو کښې به په کال کښې دوه ځله میوه کیدله، په اولاد کښې ئې داسې بَرَکت اوشو چې يو سل اته وِیشت (128) ځامن او دوه لونړه ئې پیدا شوې، او د لـمسو شمیر خو ئې هډو معلوم نه دے او **الله** پاک يو کم سل (99) کاله عمر ورکړو- دا ټول بَرَکتونه د **الله** پاک د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دعا په وجه ورکړے شُو-[1]

نہ ہے تم سا نہ کوئی ہو گا آگے | نہ اے آقا کوئی تم سا ہوا ہے
تری مرضی رضائے حق ہے مولیٰ | رضائے حق تری مرضی شہا ہے[2]

د سرکار آمد مرحبا | د سردار آمد مرحبا
د آقا آمد مرحبا | د داتا آمد مرحبا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! | صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** شهَنشاهِ ختمِ نُبُوَّت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له **الله** پاک يو جُدا شان ورکړے دے، چنانچه

## په کجورو کښې دومره بَرَکت

حضرتِ سیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: په یوه غزوه کښې اسلامي

[1]... مشکوۃ، ص۵۷۵۔

[2]... سامانِ بخشش، ص۲۱۴



www.dawateislami.net

لښکر سره د خوراك د پاره هيڅ هم پاتې نه شو. د الله عَزَّوَجَلَّ خوږ رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: تا سره څه شته دے؟ ما عرض اوکړو، په **توښه دان** کښې لږې شان کجورې شته دے. اوئې فرمائيل: راوړه. ما حاضرې کړې او هغه ټولې يو وِيشت (21) وے. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې باندې خپل **لاس مُبارك** کيښودو او دُعا ئې اوکړه بيا ئې اوفرمائيل: **لس کسان** را اوبله! ما را اوبلل، هغوئې راغلل او ښه په مړه ئې اوخوړلې او لاړل. بيا ئې **د لسو کسانو** رابللو حُکم اوفرمائيلو، هغوئې هم اوخوړلې او لاړل. دغسې لس لس کسان راتلل او په مړه به ئې خوړلې او تلل به، تر دې چې ټول لښکر اوخوړلې او څه چې باقي پاتې شوې د هغې په باره کښې ئې اوفرمائيل: اے ابوهُريره! دا په خپل **توښه دان** کښې اوساته او چې کله غواړې لاس پکښې دننه کوه او د دې نه ئې را اوباسه خو **توښه دان** مه نسکوروه! حضرتِ سيّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند او بيا د حضرتِ سيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق او د حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم او د حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د خِلافت د زمانے پورې د هم هغه کجورو نه خوړلې او خرچ کولې تخميناً (يعني اندازاً) پنځوس وَسقه خو مې فِي سبيلِ الله ورکړې دي او دوه سوه وَسقه نه زياتې ما خوړلې دي. چې کله حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهيد شو نو هغه **توښه دان** زما د کور نه غلا شو.

کس سے ممکن ہے صفت حضرت رَسُولُ اللہ کی — جب کہ خالق خود کرے مِدحت رَسُولُ اللہ کی

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** یو وَسق شپیته صاع او یو صاع 70 تولے (یعني درې سیره شپږ چیټاکۍ) وي. په دې حِساب باندې د هغه یو وِیشت کجورو نه د زر منه نه زیاتې کجورې اوخوړے شوې. دا ټول د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د کرم لوئي شان دے چې هغه خپل خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته بیشمیره اختیارات او عظِیمُ الشَّانه مُعجِزات ورکړي دي. یقیناً د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك شان خو ډیر لوئي دے.

## یخني ئې په ګرمئ کښې بدله کړه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکومت په هر څیز وو تر دې چې یخني او ګرمي هُم د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابِع وو، چې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به یخنئ ته حُکم اوکړو نو هغه به په ګرمئ کښې بدله شوه، څنګه چې

حضرتِ سَیِّدُنا بِلال حبشي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما په یوه یخه شپه د سحر اذان اوکړو نو څوک لـمانځه له رانغلل، ما بیا اذان اوکړو- بیا څوک رانغلل، نو خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را نه تپوس اوکړو: اے بِلال! څه معامله ده؟ ما عرض اوکړو: زما مور ا وپلار دِ په تاسو قربان وي، یخنئ هغوئي په مَشَقَّت کښې اچولي دي- خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دعا اوکړه: یا **اللّٰه** د دوئي نه یخني ختمه کړې- حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما د دې دُعا نه پس اولیدل چې خلقو ځان ته ببوزے [پکے] وهلو-[1]

---

[1]... دلائل النبوۃ، ج٦، ص٢٢٤، دار الکتب العلمیہ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږ به جَشنِ وِلادَت ولے نه کوو چې هُم دا خو هغه کریم آقا دے چې د خپل **ربّ** محبوب او د کائنات د تخلِیق باعث دے۔

حضرتِ سَیّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: **الله** پاک فرمائي: **وَعِزَّ تِي وَجَلَالِي لَوْلَا کَ مَا خَلَقْتُ الْجَنَّةَ لَوْلَا کَ مَا خَلَقْتُ الدُّنْيَا** يعني زما دِ په خپل عِزَّت و جلال قَسَم وي! اے **محبوبه**! که ته نه وے نو ما به جَنَّت نه پیدا کولے، که ته نه وے نو ما به دُنیا نه پیدا کولے۔[1]

هغه هستي زمونږه خوږ آقا مَکّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے د چا د راتلو خوشخبریانې به چې انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ورکولې نو بیا به مونږه هُم د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتلو خوشحالئ ولے نه کوو او ولے به د مرحبا نعرے نه لګوو۔

| | |
|---|---|
| آمدِ مصطفیٰ مرحبا مرحبا | اَحمدِ مُجتبیٰ مرحبا مرحبا |
| یارسولِ خدا مرحبا مرحبا | جان تم پر فدا مرحبا مرحبا |
| آئے پیارے نبی ہر طرف تھی خوشی | چار سُو شور تھا مرحبا مرحبا |
| د سیّد آمد مرحبا | د جیّد آمد مرحبا |
| د طیّب آمد مرحبا | د طاہر آمد مرحبا |
| د حاضِر آمد مرحبا | د ناظِر آمد مرحبا |

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

[1]... فردوس الاخبار، ۲/ ۴۵۸، حدیث: ۸۰۹۵

# د ګرمۍ او يخنۍ نه ئې بے نيازه کړلو

حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما د پاره دُعا اوکړله: يا **اللّٰه**! دې د يخنۍ او ګرمۍ نه بے نيازه کړې، فرمائي: د هغه ورځې نه پس زما نه کله ګرمي شوي ده او نه کله يخني- هغوئي به په سخته ګرمۍ کښې پيرہ قبا اغوستله او په سخته يخنۍ کښې به ئې دوه نرۍ کپړے واغوستلې-[1]

# د زړو کالو د عبادت ثواب

اے **عاشقانِ رَسُول**! په دولس رَبِيعُ الْاَوَّل روژه اونيسۍ چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت شريف په ورځ روژه نيول د **ربّ** کريم د نعمت شُکر دے او په دې کښې ډير زيات اجر و ثواب دے- زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر ګُل په ورځ روژه نيوله او دغسې به ئې خپل يَومِ وِلادت مناوولو، ځنګه چې حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو قَتاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د ګُل د ورځې د روژے تپوس اوکړے شو نو اِرشاد ئې اُوفرمائيل: په هُم دې ورځ زما وِلادت [يعني پيدائش] شوے وو او په هُم دې ورځ په ما وحي نازله شوي وه،

په دې فرمان عاليشان کښې د داسې ورځو د روژو د **مُسْتَحَب** کيدلو طرف ته اشاره ده په کومو ورځو کښې چې د **اللّٰه** پاک نعمتونه نازل شوي وي، په دې اُمَّت باندې چې د **اللّٰه** پاک کوم د ټولو نه لوئي نعمت نازل

[1]... سيرتِ حلبيه، غزوه خيبر، ج ۳، ص ۵۳، دار الکتب العلميه

شوے دے هغه د حضرت مُحَمَّدِ مُصطَفیٰ احمدِ مُجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وِلادت [یعني پیدائش] دے ځکه د دې لوئي نعمت د نازلیدلو په ورځ روژه نیول ډیره ښه خبره ده و لِهذا په دې میاشت کښې ډیرې روژے نیول پکار دي-

په جواهِرِ غَیبِي کښې دي چې د دولسم رَبِیعُ الْاَوَّل په ورځ روژه نیولو والا ته د زرو (1000) کالو د عبادت ثواب میلاویږي، د دې نه علاوه د 5، 16 او 26 رَبِیعُ الْاَوَّل د روژے نیولو هُم ډیر ثواب دے-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! کوشش اوکړئ چې د 12 رَبِیعُ الْاَوَّل روژه اونیسئ او خپل خوږ خوږ آقا مَکِّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ئې اِیصالِ ثواب کړئ او دغسې خپل خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د خپل مَحبَّت اِظهار اوکړئ-

## د تیلي تهون ترغیب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه دعوتِ اسلامي په ټوله دُنیا کښې د دعوتِ اسلامي د 108 نه زیات شُعبه جات قائم دي، په دې شُعبه جاتو کښې مَدرَسةُ الْمَدینه او جامِعَةُ الْمدِینه هُم شامل دي، چې په دې کښې د علمِ دین او د قرآنِ مجید د حِفظ و ناظِره فِیْ سَبِیْلِ اللّٰه تعلیم ورکولے کیږي- په مُلک او بیرونِ مُلک کښې 851 (اته سوه او یو پنځوس) جامِعَاتُ الْمدِینه او 4201 (څلور زره، دوه سوه او یو) مَدارِسُ الْمَدینه کښې تقریباً 258947 (دوه لاکه اته پنځوس زره نهه سوه او ووه څلویښت) طَلَبه و

[1]...جواہر غیبی، ص۲۱۷۔

طالِبات دیني تعلیم حاصلولو او د قرآنِ کریم په حفظ و ناظره کښې مشغول دي، صرف د دې دوو شُعبه جاتو سالانه اخراجات په کروړونو کښې دي۔

اِنْ شَآءَالله 15 نومبر 2020، 28 رَبِیْعُ الْاَوَّل 1442 هجري د اتوار په ورځ به د ورځې 2:00 بجو نه واخله بله ورځ سحر 5:00 بجے پورې د تیلي تهون (یعني د چنده جمع کولو د مُهم) سلسله وي، د پاکستاني کرنسۍ مطابق به یو یُونټ 10 زره روپۍ وي، د ملک او بیرونِ ملک مَدارِسُ الْمَدِینه او جامِعَاتُ الْمدِینه د قیام و انتظام او جُمله اخراجاتو د پاره ډیر ډیر تعان اوکړۍ۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او

قبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2 . . . القول البديع، الباب الثاني، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مینځ کښې کښینولو، په دې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْھُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيع اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چې د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د آقا ﷺ د خپل اُمّت سره مَحبَّت

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَارَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرتِ سَیِّدُنا احمد بِن ثابِت رَحمَةُاللهِعَلَيه فرمائي چې د دُرُود و سلام د فضائلو نه چې ما کوم لیدلي دي یو دا هُم دے چې یوه شپه په خوب کښې څه وینم چې د پیریانو د یوې ډلے مخې ته ولاړ یم، ما د هغوئي نه تپوس اوکړو چې تاسو د کوم ځائے نه راغلي ئې؟ هغوئي د یو بُزُرګ نوم واخستلو، [یعني د هغوئي د خوا نه]، هغه بُزُرګ زمونږه نزدې خپلوانو نه یو وو ، ما ترینه بیا تپوس اوکړو چې د دې نه پس به تاسو چرته ځئ؟ هغوئي اُووئیل: اِنْ شَآءَاللّٰه د مَکّے مُکرَّمے او د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَوضے مبارکې اِراده مو ده. ما ورته اُووئیل: ما هُم ځان سره بوځئ. هغوئي اُووئیل: که اراده

مو وي نو **اللّٰه** پاک به بَرَکت درکړي. زه پاڅیدلم او هغوئي ځان سره واخستم او د بجلۍ د تیزۍ په شان الوتل ئې شروع کړل، یو ساعت پس مونږ په مَکّه مُکرَّمه کښې وو. هغوئي اُووئیل: دغه دے بَیْتُ الْحَرام. هغوئي طواف شروع کړو نو ما هُم د هغوئي سره طواف پوره کړو، بیا هغوئي د **اللّٰه** پاک نوم واخستو او زه ئې ځان سره واخستم او درنګ ساعت له مونږ په مسجدِ نَبَوي کښې وو، چې څنګه کښیناستلو نو یو ښکلي کس په لاس کښې یو غټ لوښے راوړو چې په هغې کښې په ښوروا کښې ماته شوي ډوډۍ او شهد وو، او اوئې وئیل: شروع کړئ. ما هغه ته اُووئیل: زه د خپل آقا، مَکّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدار کول غواړم. هغه اُووئیل: مخکښې طعام اوخوره، خوږ آقا احمدِ مُجتبٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هُم تشریف راوړي او اِنْ شَآءَاللّٰه ته به د هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دیدار خپلې سترګې هُم روښانه کړې. ما په زړه کښې اُووئیل، څنګه د حیرانتیا خبره ده، اوس اوس د خپله کوره راروان شوے یم او په لږ ساعت کښې مې د مَکّے مُکرَّمے او د حُضُور نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضے مبارکې د حاضرۍ شرف هُم حاصل کړو، ما ته دا هُم نه ده معلومه چې د کومو خلقو سره ما دا فاصله طے کړه هغوئي څوک دي او د هغوئي نسب څه دے؟ بیا زه د هغوئي طرف ته مُتَوَجِّه شوم او هغوئي ته مې اُووئیل: زه تاسو ته د رَبِّ **غفُور** او د هغه د **محبوب** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د **اللّٰه** پاک د نبي حضرتِ سَیِّدُنا **داوُد** عَلَیْهِ السَّلَام خاطر در اچووم، ما ته دا اووائې چې تاسو چرته اوسیږئ او ستاسو نَسَب څه دے؟ هغوئي سرونه ښکته کړل او اوئې وئیل: مونږ همیشه د مدینے

مُنَوَّرے اوسیدونکي پیریان یُو. ما اُووئیل: زه د مَدَني سلطان، محبوبِ رحمٰن ﷺ دیدار کول غواړم، هغوئي اُووئیل: طعام اوخوره اِنْ شَآءَاللّٰه دیدار به هُم اوشي. ما طعام اوخوړلو. بیا مونږه اووتلو نو څه ګورم چې مَدَني تاجدار د دواړو جهانو مالِک و مُختار ﷺ د یوې ډلے سره تشریف راوړي. د خوږ نبي ﷺ قد مبارکه د ټولو نه اوچت او د اوګو مبارکو په لحاظ د ټولو نه اعلٰی شان دے، زما د آقا مَدَني مُصطَفٰی ﷺ نظر چې په ما پریوتلو نو اوئې فرمائیل: ''احمد! آیا ټولې نیکئ په یو ځل راټولول غواړې؟ په خپل نفس نرمي کوه، هُم دا په تا لازِمه ده'' ورسره ورسره ئې دا هُم اِرشاد اُوفرمائیل: ''ما باندې کثرت سره دُرُود لوَله ستا د پاره بهتري او بهتري ده.'' ما عرض اوکړو: ''یَارَسُوْلَ اللّٰه ﷺ! تاسو زما ضامِن شئ؟'' خوږ مَدَني آقا ﷺ اُوفرمائیل: په ما باندې دُرُود وئیل لازِم کړه چې څه غواړې ملاویږي به.[1]

مانگ مَن مانتی مُنہ مانگی مُرادیں لے گا

نہ یہاں ''نا'' ہے نہ منگتے سے یہ کہنا ''کیا ہے''[(2)]

**د شعر مختصر وضاحَت:** زما د آقا مَکِّي مَدَني مُصطَفٰی ﷺ نُوراني دربار داسې دربار دے چې هلته مو زړه څه وائي غواړئ ملاویږي به ځکه چې په دغه دربار کښې سوالګرو ته انکار نه کیږي او نه رټلے کیږي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] سعادة الدارین، الباب الرابع فیماورد من لطائف المرائی والحکایات... الخ، اللطیفة السادسة عشرة، ص ۱۳۱

[2] ... حدائقِ بخشش، ص ۱۷۱



www.dawateislami.net

**مُحترمو اسلامي وروڼو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

❁ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بیان واورئ ❁ پوره تَوجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ❁ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده "**د آقا ﷺ د خپل اُمّت سره مَحبَّت**" په دې بیان کښې به مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره د مَحبَّت ښکلي ښکلي حدیثونه او واقعات اورو، لِهذا تَوجُّه سره د اول نه تر آخرې پورې د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

[1] (معجم کبیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲)

# په ورځ د قیامت د اُمَّت د فِکر انداز

حضور نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د قیامت په ورځ به ټول انبیاءِ کرام عَلَیْہِمُ السَّلَام د سرو زرو په مِنبرونو بانديې تشریف فرما وي، زما مِنبر به خالي وي ځکه چې زه به د خپل ربّ په حُضُور کښې خاموشه ولاړ یم چې چرته داسې اونشي چې اللّٰه پاک ما ته جَنَّت د تللو حُکم اُوفرمائي او زما اُمَّت زما نه پس پریشانه ګرځي. اللّٰه پاک به فرمائي: اے محبوب! ستا د اُمَّت په باره کښې به هُم هغه فیصله کووم کومه چې ته غواړې. زه به عرض کووم: اَللّٰهُمَّ عَجِّلْ حِسَابَهُمْ یعني یا اللّٰه! د دوئي حساب زر واخلې. ځکه چې زه دوئي ځان سره جَنَّت ته بوتلل غواړم. زه به مسلسل دا عرض کووم تر دې چې ما ته به زما د هغه اُمَّتیانو فهرست راکړے شي کوم به چې جَهنَّم ته داخل شوي وي، زه به د هغوئي شفاعت کووم او د جَهنَّم نه به ئې بهر را اُوباسم، را اُوباسم تر دې چې په یو یو راویستلو به ټول بهر ته را اُوباسم، بیا به زما د اُمَّت یو کس هُم په عذابِ اِلٰهی کښې نه وي.[1]

ڈر تھا کہ عصیاں کی سزا، اب ہو گی یا روزِ جزا
دی اُن کی رحمت نے صدا، یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں [2]

د شعر وضاحت: یعني د ګناهونو د کثرت په وجه یَریدلم چې معلومه

---

[1]... کنز العمال، ج۷ص۱۴ رقم۳۹۱۱۱ دار الکتب العلمیۃ بیروت ملخصاً

[2]... حدائق بخشش، ۱۱۰



www.dawateislami.net

نه ده د ګناهونو سزا به په دُنیا کښې راکولے کیږي او که په آخرت کښې.
خو د رحمتونو والا خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت پریشاني چرته ګواره
کولے شوه، د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت آواز اوکړو چې پریشانه کیږه مه نه
به په دُنیا کښې درکولے کیږي او نه په آخرت کښې.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**سُبْحٰنَ الله!** لږ سوچ خو کړئ چې حُضُورِ انور شافِعِ مَحشر صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
زمونږ سره څومره مَحبَّت کوي چې کوم مِنبر به د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره
لګولے کیږي په هغې به نه تشریف فرما کیږي بلکه د خپلو اُمَّتیانو د پاره
به پریشانه وي او هغوئي ته به د مصیبتونو نه نجات ورکوي او جَنَّت ته به ئې
داخلوي. د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سلوک به دا وي چې زمونږ په یو آواز به
فوراً زمونږ مدد کوي خو بل طرف ته زمونږ معامله دا ده چې مونږه د
هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمان باندې د عمل کولو نه ډډه کوو.

*تری وحشتوں سے اے دل مجھے کیوں نہ عار آئے*
*تو اُنہیں سے دور بھاگے جنہیں تجھ پہ پیار آئے*[1]

زمونږ خوږ آقا مَکّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو مونږ ته نزدې
خپلوانو سره د صِلۂ رِحمي حُکم فرمائي، خو زمونږ عمل دا دے چې
مونږ د تعلقاتو نورو ښو کولو په ځائے په وړو وړو خبرو تعلقات ماتوو.
✿ زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو دا فرمائي چې څوک ستا سره تَعَلُّق

[1]...ذوقِ نعت، ص ۲۴۲

پریږدي، ته هغه سره تَعَلُّق جوړ کړه، څوک چې درسره بد سُلوک اوکړي ته هغه سره ښه سُلوک اوکړه خو زمونږه عمل د دې خلاف دے ❁ زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د ګاونډیانو دومره حُقُوق بیان کړي دي چې د یو صحابي شک پیدا شو چې چرې ګاونډیان په وراثَت کښې حِصَّه دار جوړ نه کړے شي، خو زمونږه طرزِ عمل دا دے چې د خپلو ګاونډیانو هیڅ خبر نه اخلو ❁ نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د لمانځه په باره کښې فرمائي چې لمونځ زما د سترګو یخوالے دے، خو زمونږه حالت دومره خراب شوے دے چې د جُمات نه راتلونکے پینځه وخته د اذان آوازونه اورو خو جُمات طرف ته زمونږه قدم نه اوچتیږي، کله د سستۍ په وجه او کله په کښې دُکانداري رُکاوټ جوړه شي.

اے **عاشقانِ رَسُول!** د مَحبَّت خپل څه اُصول وي، مَحبَّت د دواړو طرف نه د کیدلو تقاضه کوي خو افسوس! چې زمونږه په مَحبَّت کښې کمي دا ده چې رَسُولِ پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو زمونږ سره دومره مَحبَّت کوي چې په دُنیا کښې به ئې هُم په ژبه مبارکه اُمَّتي اُمَّتي وو، په خپل قبر مبارک کښې هُم اُمَّتي اُمَّتي وائي او صبا د قیامت په ورځ به ئې هُم په ژبه مبارکه **اُمَّتي اُمَّتي** وي، او مونږه په خُله خو د مَحبَّت دعویٰ کوو خو زمونږه کردار زمونږ د الفاظو خلاف دے، مونږ دعویٰ خو دا کوو چې د رَسُول په غلامۍ کښې، ځا مو قربان دے خو په سُنَّتِ رَسُول باندې د عمل کولو ذهن نه لرو. د عِلمِ دِین زده کولو او ښودولو د پاره راسره وخت نه وي. یاد ساتئ! څوک

چې د چا سره مَحبَّت کوي، د هغه ښودلي هره خبره د پوره کولو کوشش کوي، د هغه د انداز خپلولو کوشش هُم کوي.

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مَحبَّتِ رَسُول تقاضه دا ده چې په **فرائضو او واجباتو** باندې عمل کولو سره سره د آقا کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې عمل هُم اوکړے شي، چې هر وخت مو په ژبه د حُضُور تذکره وي او زړه مو د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په یاد کښې بے قراره اوسي، سحر ماښام مو په ژبه د دُرُود و سلام ترانے وي. چې کله داسې شو نو بیا به دُنیا هُم ښه شي او آخرت به مو ښه شي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د داسې سوچ او جذبه حاصلولو د پاره هر وخت د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه د مَدَني ماحول په بَرَکت به **خوفِ خُدا** درنصیب شي، د مَدَني ماحول په بَرَکت به د عِشقِ رَسُول دولت درنصیب شي، د مَدَني ماحول په بَرَکت به زمونږه نسلونو ته هُم په عِشقِ رَسُول کښې ژړیدل نصیب شي اِنۡ شَآءَاللّٰه.

**اے عاشقانِ مِیلاد! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه** مونږ چې د کوم آ قا و مولا، مَکِّـي مَدَني مُصطَفیٰ جَشنِ وِلادَت مناو کړے دے، نن مونږه د هُم هغه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره د مَحبَّت په باره کښې د بیان اوریدلو سعادت حاصلوو.

زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د یو یو کس سره د ډیر زیات مَحبَّت او د هغوئي د نجات او مغفرت د فِکر او د شفقت او رحمت په

کیفیت باندې قرآنِ کریم کښې د **اللّٰه** پاک دا فرمان ګواه دے.

چنانچه سُوْرَۃُالتَّوْبه سیپاره 11 آیت نمبر 128 کښې اِرشاد کیږي:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ (۱۲۸)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بے شکه تاسو ته تشریف دروړلو ستاسو نه هغه رسول په چا چې ستاسو مشقَّت کښې پریوتل ګران دي، ستاسو د ښیګړې ډیر زیات غوښتونکے، په مسلمانانو باندې کمال مهربان مهربان.

په تفسیر صِراطُ الْجِنان کښې دي: یعني اے د عرب خلقو! بیشکه تاسو ته ستاسو نه د **اللّٰه** پاک عظیم رَسُول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف دروړلو چې عربي او قَرَشي دے. تاسو ته د هغوئي حسب او نسب معلوم دے چې هغوئي په تاسو کښې د ټولو نه اوچت نسب والا دے. تاسو ته د هغوئي صِدق و امانت، زُهد و تقویٰ، طهارت او پاکیزګي او اخلاقِ حمیده هُم ډیر ښه معلوم دي. هغوئي داسې رَسُول دے چې ستاسو په مشَقَّت کښې پریوتل بالخصوص د **اللّٰه** د عذاب په مشَقَّت کښې پریوتل په هغوئي ډیر ګران تیریږي. هغوئي د هُم دغې [تکلیفونو] لرې کولو د پاره رالیږلے شوے دے، او په دُنیا او آخرت کښې تاسو ته د ښیګړو حاصلیدلو حِرص لري. په دې آیت کښې **اللّٰه** پاک خپل حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دوو نومونو مُشرف کړے دے. دا د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم



www.dawateislami.net

لوئي عِزَّت دے. سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دُنيا کښې هُم رَءُوْف و رَحِيْم دے او په آخرت کښې هُم.1

## الله پاک د حُضُور ﷺ رِضا غواړي

حضرتِ سَيِّدُنا عَمرو بِن عاص رَضِیَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي چې خوږ مَکِّي مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم عَلَیْهِ السَّلَام د قول او د حضرتِ سَيِّدُنا عيسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام په قول مشتمل آيتونه مبارک تلاوت کړل، چنانچه،

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے زما رَبـه! بے شکه بُتانو ډير خلق گُمراه کړل، نو چا چې زما ملګرتيا اوکړه هغه زما دے او چا چې زما خبره اُو نه منله نو بے شکه ته بخښونکے او مهربانه ئې.2

او حضرت عيسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام په بارګاهِ اِلٰهی کښې عرض کړے وو،

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: که ته هغوئي ته عذاب ورکړې نو هغه ستا بندګان دي.3

بيا حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل دواړه لاسونه اوچت کړل او اوئې فرمائيل: اُمَّـتِي اُمَّـتِي يعني زما اُمَّت زما اُمَّت. دا ئې چې څنګه اُوفرمائيل نو د سترګو نه ئې د اوښکو سيلاب روان شو. **الله** کريم حضرت جِبريل عَلَیْهِ السَّلَام ته اُوفرمائيل: اے جِبرِيل! **مُحَمَّد** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ورشه او معلومه کړه چې هغه څه څيز اوژړولو؟ جبريل امين په خدمت کښې حاضر شولو او د سبب تپوس ئې اوکړو نو رَحمتِ عَالَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: زه د خپل

1... تفسیر صراط الجنان، ج ٤، ص ٢٧١، ملخصاً

2... پ١٣، ابراھیم: ٣٦

3... پ٧، المائدہ: ١١٨

اُمَّت په غم کښې ژاړم. حالانکه **الله** پاک ته ښه معلومه ده. **الله** پاک اِرشاد اُوفرمائیلو: اے جِبرِیل **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ورشه او هغوئي ته اُووایه: نزدې به مونږه تا لره ستا د اُمَّت په باره کښې راضي کوو او په دې معامله کښې به تا نه خفه کوو.1

**حضرت** مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک لاندې لیکي: د دوو **محبوب** نبیانو د شفاعت ذِکر ئې چې اولوستلو نو د **الله** پاک د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت دریاب په جوش کښې راغے، خپل ګنهګار اُمَّت وریاد شو او هغه وخت ئې شفاعت اوکړلو. معلومه شوه چې [بنده] په قرآنِ پاک کښې د خنګه آیت تلاوت اوکړي هُم د هغې په شان دُعا دِ اوکړي، دا د **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. د دُعا په وخت کښې ژړل د قَبولِیَّت نښه ده، نو بیا د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژړا او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوښکې **سُبْحٰنَ الله**! د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژړا زمونږه د خندا او خوشحالئ ذریعه ده، چې وریځې ژاړي نو چمن خاندي. او **الله** پاک به فرمائي اے **محبوب**! د خپل اُمَّت مُتَعَلِّق چې به ته څه غواړې او وائې مونږ به هُم هغه کوو.

په حدیثونو کښې دي چې په دې باندې حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرض اوکړو: ستا په عِزَّت مې دِ قَسَم وي! زه به تر هغې پورې نه راضي کیږم تر څو پورې چې زما یو اُمَّــتِي هُم په دوزخ کښې وي. **الله** پاک دِ اوکړي چې مونږه په اُمَّت کښې پاتې شو.

---

1... مسلم، کتاب الایمان، باب دعاء النبی لاُمّته وبکائه شفقة علیهم، ص۱۳۰، حدیث:۲۰۲

د حضرت اِبراهِيم عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام په شفاعت او زمونږ د خوږ آقا مَکِّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت کښې ډير فرق دے "زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت واضح دے، زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت نوم واخستو او تفصلي شفاعت ئې اوکړو چې که ګنهګار هُم وي خو چې زما اُمَّـتِ وي مغفرت ئې اوکړې او په دې شفاعت کښې اګر مګر نشته يقين سره دُعا ده چې [يا الله] ضرور ئې اوبخښې د دې حديث شريف نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لوئي شان، په اُمَّت باندې لوئي کرم او د اُمَّتِ محمديه ډير خوش نصيب کيدل معلوم شو. ټول بندګان د الله پاک رضا غواړي، الله پاک حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالول غواړي.

خدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالم　　خدا چاہتا ہے رضائے **مُحَمَّد**[1]

**الله** پاک په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

**وَ لَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ﴿۵﴾** (پ۳۰،الضحیٰ:۵)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او نزدې ده چې ستا رب به تا ته دومره درکړي چې ته به راضي شې.[2]

تفسير **خزائنُ العرفان** کښې د دې آيتِ مبارک لاندې ليکي: د الله پاک د خپل حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره دا کريمان وعده ټولو نعمتونو ته شامله ده

1... مرآۃ المناجیح،۷/۴۲۶،بتغیر..
2... حدائق بخشش،۴۹

کوم چې دُنیا کښې هغوئي ته ورکړے شو او دا آیتِ کریمه په ډیر واضحه انداز کښې په دې خبره دلالت کوي چې **اللّٰه** پاک به هُم هغه کوي په څه چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي کیږي او د شفاعت د حدیث نه دا ثابت دي چې د حُضُور نبیِّ کریم رَءُوفٌ رَّحِیْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالي په دې خبره کښې ده چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت ټول ګنهګاران اوبخښلے شي. د دې آیت او حدیثونو نه یقیني طور دا نتیجه اُوځي چې زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت مقبول دے او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوښې مطابق به د هغوئي د اُمَّت ګنهګار بخښلے کیږي.

سُبْحٰنَ الله! زما د آقا و مولا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مرتبه څومره اوچته ده چې د کوم ربِّ کریم د رضا د پاره ټول مُقَرَّبِین تکلیفونه برداشت کوي او کوششونه کوي، هُم هغه ربِّ کریم د شَهنشاهِ دوعالَم، محبوبِ اعظم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راضي کولو د پاره خپلې عامې عطانې کوي.[1]

خدائے پاک کی چاہیں گے اگلے پچھلے خوشی
خدائے پاک خوشی ان کی چاہتا ہو گا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تر قیامته به اُمَّتِي اُمَّتِي فرمائي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په مَدارِجُ النُّبُوَّة کښې دي: حضرتِ

[1]...حکایتیں اور نصیحتیں، ۲۵۵

سَیِّدُنا قُثَم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ هغه کس وو چې خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قبر ته کوزلو نه پس د ټولو نه آخره کښې د قبرِ انور نه بهر راغلے وو، د هغوئي بیان دے چې هُم زه هغه آخري کس یم چا چې د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارک په قبر کښې لیدلے وو، ما اولیدل چې د حضورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شونډې مبارکې په قبرِ انور کښې خوزیدلې، ما د **اللہ** پاک د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خُلې مبارکې ته غوږ نزدې کړو نو ما واوریدل چې حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیل: ربِّ **اُمَّتِی** ربِّ **اُمَّتِی** یا رب! زما اُمَّت، یا رب! زما اُمَّت.[1]

یو بل **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ: د **اللہ** پاک آخري نبي مَکِّي مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: چې کلي زه وفات شم نو زه به په خپل قبر کښې همیشه دا وایم: **یاربِّ اُمَّتِی اُمَّتِی** اے زما رَبه! زما اُمَّت، زما اُمَّت تر دې چې دویم صُور به اُوپوکلے شي.[2]

اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په بارګاهِ رِسالت کښې څه ښکلے عرض کوي:

جنھیں مرقد میں تا حشر اُمّتی کہہ کر پکارو گے
ہمیں بھی یاد کر لو اُن میں صدقہ اپنی رحمت کا[3]

1... مدارج النبوۃ، ۲/۴۴۲

2... کنز العمال، کتاب القیامۃ، الشفاعۃ، الحدیث: ۳۹۱۰۸، ج ۷، الجزء: ۱۴، ص ۱۷۸، مدارج النبوۃ، ج ۲، ص ۴۴۲

3... حکایتیں اور نصیحتیں، ۲۵۵

## اُمَّتی اُمَّتی ئې په ژبه جاري وو

مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت علامه مولانا سردار احمد قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائیلو چې حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو به ټول عُمر مونږ په **اُمَّتی اُمَّتی** وئیلو یادولو، په قبرِ انور کښې هم **اُمَّتی اُمَّتی** فرمائي او د حشر پورې به فرمائي تر دې چې د محشر په ورځ به هم **اُمَّتی اُمَّتی** فرمائي. حق خو دا دے چې که صرف یو ځل ئې هم **اُمَّتی** فرمائیلے وے او مونږه ټول ژوند **یا نبي یا نبـي، یا رَسُولَ الله، یا حَبِیْبَ الله** وئیلے نو بیا هم مونږه د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د یو ځل **اُمَّتی** وئیلو حق نه شو ادا کولے.[1]

حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څنګه دُنیا ته تشریف راوړلو نو سجده ئې اوکړه او هغه وخت ئې په مبارکو شونډو باندې دا دُعا جاري وه: **رَبِّ هَبْ لِیْ اُمَّتِیْ** یعني اے زما رَبه! زما اُمَّت ما ته حواله کړې.[2]

پہلے سجدے پہ روزِ ازل سے درود
یادگاریٔ اُمّت پہ لاکھوں سلام

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!          صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دُنیا ته تشریف راوړل او د اُمَّت فکر

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ د غریبانو مدد ګار آقا

---

[1]... عاشقِ اکبر، ۵۳

[2]... فتاویٰ رضویہ، ج ۳۰، ص ۷۱۲



www.dawateislami.net

ﷺ د خپل وِلادتِ مبارَکه نه واخله تر وصالِ ظاهري پورې او د هغې نه پس بيا ټوله زمانه کښې په خپل اُمَت باندې مسلسل رحم او شَفقَت فرمائيلے دے او اوس هم دا سلسله جاري ده، د پيدائش په وخت کښې هم خوږ آقا ﷺ مونږ اُمّتيان ياد کړي يو، د معراج په شپه ئې هم د الله پاك په بارګاه کښې ياد ساتلي يو، د خوږ نبـي ﷺ د اُمَّت سره محبت اوګورئ چې صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرضوان عرض اوکړو: يارسولَ الله ﷺ! دُعا اوکړئ چه الله پاک مشرکان هلاك کړي. هغوئي ﷺ اوفرمائيل: زه لعنت کوونکے نه يم رالېږلے شوے زه خو رحمت جوړ کړے شوے رالېږلے شوے يم.

د خوږ آقا ﷺ د اُمَّت سره محبت اوګورئ چې صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرضوان عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله ﷺ! د ثقيف غشو مونږه اوسيزلو، هغوئي ته ښيرے اوکړئ. زمونږ خوږ نبـي ﷺ د الله په بارګاه کښې دُعا اوکړه! اے زما رَبـه! ثقيف ته هدايت ورکړې.

د خوږ آقا ﷺ د اُمَّت سره محبت اوګورئ چې يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنۡه د خپل قوم شکايت اوکړو او د هغوئي د پاره ئې د ښيرو کولو خواهش ښکاره کړو، رسولُ الله ﷺ د الله پاك په بارګاه کښې دُعا اوکړه: اے زما رحيمه ربه! قبيلهٔ دُوس ته هدايت عطا کړې او هغوئي دلته راولے.

د خوږ آقا ﷺ د اُمَّت سره محبت اوګورئ چې په جنګِ

اُحُد کښې کافرانو د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تره، د شهيدانو سردار حضرتِ سَیِّدُنا امير حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْه شهيد کړو او ښځپله د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غاښونه مبارك په کاڼړي اولګيدل، د مخ مبارك نه ئې وينه مبارکه صفا کوله خو بيا ئې هم دُعا کوله: يا **الله**! زما قوم ته هدايت ورکړې دوئي نه پوهيږي. د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت سره **محبت** اوګورئ چې په طائف کښې هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په کاڼړو اُووِيشتلے شو، ماشومان او شرارتيان خلق ئې ورپسے کړل، دواړه ښپے مبارکې ئې په وينو سرے شوې، جبريلِ امين عليهِ السَّلام د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: اجازت راکړئ چې په دې آبادئ باندې خوا و شا دواړه غرونه را اُوغورزوو او هلاك ئې کړو خو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: زه نه غواړم چې دا خلق هلاك شي بلکه زه خو د خپل رب نه دا اُميد لرم او د دې خبرې طلب لرم چې الله پاك دِ د دوئي په نسلونو کښې داسې خلق پيدا کړي چې هغوئي د **الله** پاك د يو کيدلو اقرار اوکړي.

**اے عاشقانِ رسول!** مبارك مو شه چې زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کاڼړو ويشتلو والؤ هلاك کيدل نه خوښوي نو زمونږه دوزخ ته تلل به څنګه خوښ کړي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت سره دومره **محبت** کوي چې هغوئي په يو مقام کښې هم خپل اُمَّت نه دے هير کړے.

خوږ آقا مکّی مَدَنی مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل اُمَّت ثومره فِکر کولو، راځئ چې نور واورو:

په کومه ورځ به چې سخته سیلئ طوفان یا په آسمان کښې وریځې وے نو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارك به د غم او فِکر اثرات ښکاره شولو، کله به هغوئي مخکښې شولو او کله به په شا شولو. چې کله به باران اوشو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خوشحاله شو او د هغوئي د غم او فِکر والا حالت به ختم شو. حضرت عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د دې سبب تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل: زه ویریږم چې چرته داسې اُو نه شي چې دا د قومِ عاد په شان عذاب وي او زما په اُمَّت مُسَلط کړے شوے وي.[1]

## سرکار ﷺ ته د اُمَّت د ایمان فِکر

**اے عاشقانِ میلاد!** د اُمَّت والي خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره بے پناه محبت لري، او خپل اُمَّت جنت ته د بوتللو ډیر زیات خواهش لري. خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته زمونږ د ګنهګارانو د ایمان د سلامتیا ثومره فِکر دے، د دې اندازه د دې واقعے نه لګولے شئ، چنانچه

یو ځل د مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې شیطان مکار په بدل شکل کښې راغے او په لاس کښې ئې د اوبو بوتل نیولے وو

[1] ......صحیح مسلم، کتاب صلاة الاستسقاء، باب التعوذ عند رؤية الريح..الحديث: ۸۹۹، ص۴۴۶.

او اُوئې وئيل: زه په خلقو د ځنکدن په وخت کښې دا بوتل د اِيمان په بدله کښې خرڅووم. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو دومره ئې اوژړل چې اهلِ بيت هم په ژړا شو. الله پاك وحي را اوليږله : اے زما محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو غم مه کوئ! زه د ځنکدن په حالت کښې خپل بندګان د شيطان د مکر نه بچ کووم.[1]

*ہر اُمّتی کی فکر میں آقا ہیں مُضطَرِب　　غمخوار والدین سے بڑھ کر حضور ہیں*

## رحمت والا اُمَّت

**اے عاشقانِ رسول!** رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره محبت کوي، واورئ او اِيمان تازه کړئ: د الله پاك آخري نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: زما دا اُمَّت رحمت والا دے.[2]

د دې حديثِ پاك په شرح کښې مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يعني د نورو انبياؤ عليهمُ السَّلام د اُمَّت په مُقابَله کښې زما په اُمَّت باندې د الله پاك رحمت ډير زيات دے چې د دوئي نيکئ کمې خو ثواب ئې زيات دے، د دوئي د ګناهونو د مُعافئ سببونه ډير دي، د اُمَّت بچ کولو بَهانے ډيرې دي، دا برکت دے د رحمت والا آقا.[3]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

[1] ...... (روح البيان ج١٠ ص٣١٥ کوئٹه)

[2] ...... ابو داود، کتاب الفتن والملاحم، باب مايرجى فى القتل، ١٣٢/٤، حديث: ٤٢٧٨.

[3] ...... مِراٰةُ المناجيح، ١٨٢/٧.

## اوس زما سترګې يخې او زړه مې خوشحاله شو

خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل وفاتِ ظاهري په وخت کښې حضرت جبريل ته اوفرمائيل: زما نه پس به زما د اُمَّت د پاره څوك وي؟ نو الله پاك حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله چې زما حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته زِيرے واوروه چې "زه به تاسو (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ستاسو د اُمَّت په باره کښې نه رُسوا کووم او هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته دا زيرے هم ورکړه چه کله خلق د قبرونو نه راويستلے کيږي نو د ټولو نه مخکښې به زما حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د قبر نه] بهر ته تشريف راوړي. چې کله خلق جمع شي نو زما محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي سردار وي او تر څو چې زما د محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُمَّت جنت ته نه وي داخل شوے [تر هغې به] په ټولو اُمَّتو جنت حرام وي." دا ئې چې واوريدل نو د اُمَّت غمخوار مَکِّي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "**اوس زما سترګې يخې شوې او زړه مې خوشحاله شو.**" [1]

## د اُمَّت اکثريت به په جَنَّتُ الفِردوس کښې اوسيږي

حضرت سَيِّدُنا شيخ عبدُ العزيز دبَّاغ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د ټولو نه اعلىٰ درجے والا جنَّت جَنَّتُ الفِردَوس دے، د جَنَّتُ الفِردَوس په اوسيدونکو کښې به زيات شمير د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت وي. د يو څو مخصوصو خلقو نه سِوا به باقي ټول اُمَّت په اته واړو جنتونو

1 ...... احياء العلوم، کتاب ذکر الموت وما بعده، الباب الرابع في وفاة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، ۵/۲۱۷.

کښې د ټولو نه اعلٰی جنَّت جَنَّتُ الفِردَوس کښې اوسیږي. رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره ډیره مینه کوي، په دې وجه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواهش وو چې هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خپل اُمَّت د خپل نظر لاندې اوساتي.[1]

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو اولیدل! چې زمونږ خوږ آقا رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره ډیره مینه کوي، او څومره فکر ئې لري چې صبا د قیامت په ورځ هم خپل اُمَّت په جَنَّت کښې د خپل نظر لاندې ساتي او په دې جنتونو کښې د ټولو نه اعلٰی جنَّت جَنَّتُ الفِردَوس کښې به اوسیږي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** کوم محبوب کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې زمونږ د پاره په دُنیا کښې دُعاګانې غواړي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دُنیا کښې هم زمونږ د پاره رحمت دے او د قیامت په ورځ به هُم زمونږ شفاعت کوي، په خپل اُمَّت دومره مهربانه دے چې په قبرِ انور کښې ئې هُم د خُلې مبارکې نه د **رَبِّ اُمَّتِی رَبِّ اُمَّتِی** آواز راتللو نو مونږ له هم پکار دي چې د هغوئي سره د عشق ښکاره کولو سره سره د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په سُنَّتو هُم عمل اوکړو خو حالت دا دے چې مونږه په قِسما قِسم فیشنونو کښې اخته شوي یو او د سُنَّتو نه ډیر لرې شوي یو.

د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د لمانځه په باره کښې چې

---

[1]...... الابریز، الباب الحادی عشر فی الجنة...الخ، من خصائص اُمّته صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فی الجنة، ۲/۲۲۴.

خوږ نبي ﷺ فرمائيلي دي چې لمونځ زما د سترګو يخ والے دے چې د دې په ادا کولو کښې کوتاهي اونکړو. د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې يو موتے ګيره پريږدو، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د سر تور سر ګرځيدلو په ځائے مو د عمامے تاج په سر وے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې په خوفِ خُدا او عشقِ رسول (ﷺ) کښې مو اوښکې رواني وے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د حرامو خوړلو نه مو ځان بچ ساتلے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د سود نه مو ځان ساتلے وے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د رشوت د لين دَين نه مو ځان محفوظه کړے وے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د غِيبَت، **چُغلۍ**، دروغو او نورو بدو عملونو نه مو د بچ کيدلو کوشش کړے وے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې مسلمانانو ته دوکه ورکولو او ظُلم و ستم نه ځان اُوساتو، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د مور و پلار نافرماني مو نه کولے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې په سوشل ميډيا او نورو ذريعو مو ځان د حرامو کتلو نه ساتلے وے، د **عشقِ رسول تقاضه** خو دا ده چې د خپل ژوند انداز مو د سنتو مطابق جوړ کړے وے.

خو افسوس! زمونږ د **عشقِ رسول** دعوٰی صرف د وينا د حده پورې ده عمل پرې نشته، **اے کاش!** مونږه په حقيقي معنو کښې عاشقِ رسول جوړ شو او د خوږ آقا ﷺ خوږو خوږو سنتو باندې عمل کوونکي جوړ شو. زمونږه بُزُرګانِ دين خو د خوږ آقا د مبارکو

اداکانو داسې پابند وو چې د هغوئي په نِزد به يو سُنَّت په هيره پاتې کيدل هم قابِلِ کَفَّاره وو.

## د سُنَّت قدردان

په **کيميائے سعادت** کښې دي: يو بُزرګ يو ځل د سُنَّت مطابق د ښي خپلۍ په ښپو کولو په ځائے په بے خياليۍ کښې ګڅه خپلۍ په ښپو کړه نو د دې سُنَّت په پاتې کيدلو باندې ډير غمژن شو او د دې په بدله کښې ئې د غنمو دوه بورۍ خيرات کړې.

**اے عاشقانِ رسول!** دا د الله والؤ حِصَّه وه. کاش! مونږ ته هم د خپلو بُزُرګانو په طريقو باندې د عمل کولو سعادت را نصيب شي.[1]

## په سُنَّت باندې د عمل جذبه

يو ځل حضرت سَيِّدُنا ابوبکر شبلي بَغدادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته د اوداسه په وخت کښې د مِسواك ضرورت شو، تلاش ئې کړو خو پيدا نه شو، لِهٰذا په يو دِينار (يعني د سرو زَرو په سِيکه) ئې مسواك واخستلو او استعمال ئې کړو. بعضې خلقو اووئيل: دا خو تاسو ډيره زياته خرچه اوکړه! دومره ګران مِسواك هُم ګنې څوک اخلي؟ هغوئي اوفرمائيل: بيشکه دا دُنيا او د دې دُنيا ټول خيزونه د **الله** پاك په نِزد د يو ماشي د وَزر برابر هم نه دي، که د قيامت په ورځ **الله** پاك زما نه تپوس اوکړي چې تا زما د محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) سُنَّت مِسواك ولے پريښودے وو؟ کوم

1... فيضانِ سنّت، ص ۴۶۲


www.dawateislami.net

مال و دولت چې ما تا ته درکړے وو، د هغے حقیقت خو زما په نِزد د ماشي د وَزَر همره هم نه وو، نو داسې حقیر دولت دِ په هغه عظیم سُنَّت مسواك حاصلولو ولے خرچ نه کړو؟ نو زه به څه جواب ورکووم![1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تاسو اولیدل چې زمونږه اسلافو به د سُنَّتو سره څومره محبت کولو! چې حضرت سَیِّدُنا ابوبکر شبلي بَغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه یو دینار د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّت مسواك باندې قربان کړلو.

## د اُمَّت په مشقت کښې اخته کیدلو باندې خفه کیدل

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه واوریدل چې زمونږ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره ډیره زیاته مینه کوي او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه په مشقت کښې پریوتلو باندې هُم خفه کیږي، د دې خبرې د لحاظ ساتلو په وجه زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې شپے د تراویح لمُونځ د صحابۂ کرامو سره ادا کړو، په څلورمه ورځ ئې تشریف را نه وړو او وجه ئې دا بیان کړه چې زما نه راتلل په دې وجه وو چې چرته زما د هرې ورځې ادا کولو په وجه په تاسو باندې دا [یعني تراویح] فرض نه کړے شي او بیا تاسو په مشقت کښې پریوځئ.[2] د لمَانځه په وخت کښې [به ئې بعضې وخت] مسواك

[1] ... مُلَخَّص ازلواقح الانوار القدسیة، ص۸۳

[2] صحیح البخاری، کتاب الجمعة، باب من قال فی الخطبة بعد الثنائ: اما بعد، الحدیث: ۹۲۴، ج۱، ص۲۱۸



www.dawateislami.net

کول په دې وجه پرېښودلو چې چرته زما په اُمَّت باندې هر لمُونځ سره مسواك فرض نه شي. د ماسخُتن لمُونځ ناوخته ادا کولو نه ئې منع اوفرمائيله چې چرته زما په اُمَّت باندې لازم نه شي ځکې هغوئي به په مشقت کښې پرېوځي. پرله پسے [يعني مسلسل] روژو نيولو نه ئې ځکه منع اوفرمائيله چې اُمَّت په مشقت کښې پرېنوځي. دغسې چې کله به هغوئي (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته په دوو مُعامَلاتو کښې اختيار ورکړے شو نو په کومه کښې به چې آساني وه هغه به ئې اختيار کړه چې اُمَّت په هغے عمل اوکړي او په مشقت کښې اخته نه شي.(1)

او په اُمَّت باندې د هغوئي مهرباني خو اوګورئ چې:

حضرت جابِر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه روايت کوي چې خوږ آقا نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زما او زما د اُمَّت حال د هغه کس په شان دے چا چې اور بل کړے وو او مُلخان او پتنګان په هغے کښې لويدل شروع شو نو هغه کس هغه مُلخان او پتنګان په اور کښې د لويدلو نه بچ کولو د پاره لرې کول. زما هم حالت دا دے چې زه هم تاسو د ملا نه نيسم د اور نه مو بچ کووم او تاسو زما د لاس نه ځان خلاصوئ او په اور کښې لويدل غواړئ. 2

**اے عاشقانِ رسول!** لږ تَصَوُّر اوکړئ چې زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

1صحيح البخاری، کتاب الادب، باب قول النبی: يسروا ولاتعسروا، الحديث:٦١٢٦، ج٤، ص١٣٣.

2 ...... صحيح مسلم، باب شفقته علی اُمّته...الخ، الحديث: ٢٢٨٥، ص١٢٥٤.

وَاٰلِہٖوَسَلَّم په مونږه ځومره مهربانه دے، هغوئي مونږه د اور نه بچ کوي او مونږه په هغے کښې لويدل غواړو.

**فرمانِ مصطفٰی** خو دا دے چې دروغ جهنم ته بوتلونکے کار دے خو زمونږ خبرې د دروغو نه شروع کيږي او په دروغو ختميږي، د خوږ نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ارشاد خو دا دے چې ځناور په خپل مينځ کښې جنګول جهنم ته بوتلونکے عمل دے خو مونږه په ډير شوق ځناور [چرګان، زرکان، مړزان، سپي وغيره] جنګوو او د هغے تماشا ګورو، فرمان مصطفٰی خو دا دے چې مسلمانان يَرَول جهنم ته بوتلونکے کار دے خو مونږ ته د مسلمانانو په يَرَولو او تنګولو کښې سکون ملاويږي. فرمان مصطفٰی خو دا دے چې په ظُلم کښې د چا مدد کول جهنم ته بوتلونکے کار دے خو مونږه د ګناهونو په کارونو کښې د خلقو مدد کول فخر ګنړو. فرمان مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو دا دے چې شراب څښل، په بل څښل، خرڅول، اخستل، چا له [شراب] په لاس [وغيره] کښې ورکول جهنم ته بوتلونکے عمل دے خو مونږه په شوق سره داسې کارونه کوو. فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو دا دے چې مسلمانانو ته دوکه ورکول، ظُلم کول، د هغوئي رازونه بل ته ښکاره کول جهنم ته بوتلونکي کارونه دي خو مونږه په دوکه مال ګټو، په خلقو ظُلم کوو او ناحقه د هغوئي مال خورو او د نورو رازونه خلقو ته ښکاره کوو او مزے اخلو. فرمان مصطفٰی خو دا دے چې د خلقو کورونو ته دننه کتل، په پټه خبرې اوريدل او په امانت کښې خيانت


www.dawateislami.net

کول جهنم ته بوتلونکي کارونه دي خو زمونږه سترګې کورونو کښې د کتلو عادت شوي دي، د ریکارډنګ په ذریعه د خلقو خبرې اوریدل زمونږه شوق او په امانت کښې خیانت کول زمونږه عادت دے.

**اے عاشقانِ رسول!** لږ غور اوکړئ مونږه د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیان یُو، هغوئي په مونږه مهربانه، زمونږ د ګناهونو د بخښنې د پاره ئې خپل **ربّ** تعالیٰ ته ډیرې ډیرې ژړاګانې کړي دي او مونږه د ګناهونو نه ډډه نه کوو، هغوئي مونږه د جَهنَّم نه بچ کوي او مونږه جهنم ته بوتلونکي اعمال اختیاروو. دا محبت نه دے بلکه د خپل خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړه خفه کول دي، دا د رسولِ کریم سره عشق نه دے بلکه د هغوئي په فرامینو عمل نه کول دي.

راځئ! مونږه نِیَّت اوکړو چې مونږ به د ګناهونو نه د بچ کیدلو کوشش کوو. مونږ به د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سنتو د عمل کولو کوشش کوو، پخپله به هم د نیك جوړیدلو کوشش کوو او نورو ته به هم د نیکۍ دعوت ورکوو. اِنْ شَآءَاللّٰه

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو سعادت حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چې زما د سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما

سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي."

## دولس مدني کارونو کښې يو مدني کار "چوك درس"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د صَفرُ المُظَفَّر اهميت پيژندلو، د دے مياشتے برکتونه حاصلولو او د دے په باره کښې مشهورے شوي غلطو خبرو نه خلاصے حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول يو لوئي نعمت دے، لِهٰذا د دے نعمت نه فائده واخلئ، نن بلکه د اوس نه د دے ماحول برکتونه حاصلولو والؤ عاشقانِ رسول سره شامل شئ او د ذِيلي حلقے په مدني کارونو کښې مضبوط کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ.

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې هره ورځ يو مدني کار "**چوك درس**" هم شامِل دے. د **صَفَرُ الْمُظَفَّر** مياشت جاري ده او خپل برکتونه تقسيموي، دا هغه مياشت ده چه په دے کښې **يومِ رضا** هم ده. کاش چه د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِ تعالیٰ عَلَیْہ د پينځه ويشتمے په نسبت په هره ذِيلي حلقه کښې **پينځه ويشت چوك درسونه** شروع شي نو د نيکئ دعوت به هرځائے خور شي. د دے په برکت به هر طرف ته فيضانِ رضا عام شي او هر طرف ته به د مدني کارونو د مدني سپرلو خوشبويانے خورے شي.

دولسو مدني کارونو کښې د دے مدني کار "**چوك درس**" د تفصيلي

معلوماتو حاصلولو د پاره د **مکتبةُ المَدینه** رساله "**چوك درس**" مطالعه کړئ. تول ذمه داران دِ د دے رسالے لازمي مطالعه اوکړي. دا رساله د **مکتبةُ المَدینه** نه حاصلولے شئ او د دعوتِ اسلامي په ویب سائټ www. dawateislami. net باندے ئې لوستلے هُم شئ.

(تاریخ مدینة دمشق لابن عساکر، أنس بن مالك ج، ص)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب "بهارِشریعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب "*سُنَّتیں اور آداب*" او د اَمیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے "**101 مدنی پهول**" او "**163 مدني ګلونه**" هدیةً واخلئ او د دې مُطالَعه اوکړئ. د سُنَّتو د تربیَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعني د جُمعې د شپې] دُرُود

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ**

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعې او زیارت

مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې داخلیدلو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص٢٧٧



www.dawateislami.net

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُود شریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵



www.dawateislami.net

## الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

**جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ**

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْھُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللہِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　　　صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد**

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵

د 5 نومبر2020 د هفته وارې اجتماع بيان

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د نبـي کريم ﷺ جسماني طاقت

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَارَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَانَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَانُوْرَ اللہ

## نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضورِاکرم، نورِمُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: د **الله** تعالٰی د پاره خپل مينځ کښې مَحبَّت کوونکي چې کله ملاقات اوکړي او مُصافَحه اوکړي (يعني لاس ميلاو کړي) او نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې دُرُودِ پاك اوليږي نو د هغوئي د جُدا کيدو نه مخکښې د دواړو تير شوي او راروان ګُناهونه اُوبخښلے شي. (مسند ابی یعلی، ۳/۹۵، حدیث:۲۹۵۱)

کعبے کے بدر الدُّجیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود طیبہ کے شمسُ الضُّحیٰ تم پہ کروڑوں دُرُود

(حدائقِ بخشش، ص۲۶۴)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني گل:** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

❁ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ❁ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ❁ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د رَبِيعُ الْاَوَّل د مباركې مياشتې بركتونه جاري دي، هر طرف ته د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترانے دي. عاشقانِ رسول د خوږ مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تعتونو خپل زړونه او دماغ مُعَطَّر [يعني خوشبوداره] كوي، ☆ يو ځائے كښې د

[1] (معجم کبیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲)

هغوئی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د ولادت ذِکر** دے نو بل ځائے کښې د **هغوئی د کمالاتو** خبرې دي، ☆ يو ځائے کښې د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **شان و عَظَمت** بيان دے نو بل ځائے کښې د هغوئي د مبارك **صورت** ذِکرِ خير دے، ☆ يو ځائے کښې د **عبادتِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان دے نو بل ځائے کښې د **سِيادَتِ مصطفٰی** بيان دے، ☆ يو ځائے کښې د **شفاعتِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تذکرے دي نو بل ځائے کښې د هغوئي د **عنايتونو** چرچے دي، ☆ يو ځائے کښې د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **عظمتونو** بيان دے نو بل ځائے کښې د هغوئي د **رِفعتونو** ذِکر دے، ☆ يو ځائے کښې د **طاقتِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان دے نو بل ځائے کښې د **شُجاعتِ مصطفٰی** بيان دے، ☆ يو ځائے کښې د **نکاحِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خبرې دي نو بل ځائے کښې د **عطائے مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان دے، ☆ يو ځائے کښې د **مُعجزاتِ مصطفٰی** بيان دے نو بل ځائے کښې د **اخلاقِ مُصطَفیٰ** بيان دے، ☆ يو ځائے کښې د **اختياراتِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان دے نو بل ځائے کښې د **نوازشاتِ مُصطَفیٰ** بيان دے، ☆ يو ځائے کښې د **هجرتِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان دے نو بل ځائے کښې د **استقبالِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيان دے ☆ يو ځائے کښې د **خاندانِ مصطفٰی** بيان دے نو بل ځائے کښې **د والدينِ مُصطَفیٰ د عَظمتونو** بيان دے، لکه يوه يوه ذره چې د **ميلادِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د برکتونو

نه خپله خپله حصه حاصلوي. په هُم دې مناسبَت به نن مونږه اِنْ شَآءَاللّٰه د سرورِ دوعالَم فخرِ کائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **جسماني طاقت** په باره کښې اورو. او په آخره کښې به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د والِدِ مُحترم حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِىَ اللهُ عَنْهُ په باره کښې هُم يو څو ښکلي خبرې د اوريدلو سعادت حاصلوو. الله پاك دِ مونږ ته ټول بيان د ښو ښو نيتونو سره د اوريدلو سعادت را نصيب کيږي. **راځئ** چې د ټولو نه مخکښې په هُم دې باره کښې يوه واقعه اورو: چنانچه

## نبـي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د عرب مشهور پهلوان

د مَکّے مُکَرَّمے په خوا و شا علاقه کښې رُکانه نومې يو پهلوان اوسيدلو. د هغه نسبي تعلق د بَنُو هاشِم سره وو، هغه ډير طاقتور، زورور، رُعب دار او دبدبے والا کس وو. د کوهِ اضم په لمَن کښې يوه شنه علاقه وه هلته به ئې چيلئ څرولې. په هغه علاقه کښې به چا قدم نه شو ايښودلے. خلقو به د هغه مخې ته ورتللو نه ډډه کوله. د مشرکينو او دُښمنانِ اسلام د پروپيګنډے په وجه هغه د نبـي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه سخت نفرت کولو. د هغه دُښمني دې حد ته رسيدلي وه چې **مَعَاذَالله** هغه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهيد کولو په کوشش کښې وو. يوه ورځ سردارِ دوجهان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خطرے هيڅ پرواه اونکړله او بے يَرې ئې د رُکانه علاقے ته د دِينِ اسلام د دعوت د پاره يواځې تشريف يوړلو. رُکانه هم هلته راغے، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې

چې اوليدلو نو د غُصَّے نه تاو شو او د تڪَبُّر په نشه کښې بدمسته شو او اوئے وئيل: يَامُحَمَّدُ!اَنْتَ الَّذِیْ تَشْتِمُ اٰلِـهَتَنَا يعني اے محمد (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) هغه تاسو ئې چې زمونږه معبودانو ته بد وائے؟ د دې نه پس هغه نورې ترخے خبرې اوکړې او اوئے وئيل: اے محمد (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) تاسو زمونږه معبودانو ته سپك او کمزوري وائے او د خپل خدائے لوئي بيانوئ. که زما تاسو سره خانداني خپلوي نه وے نو نن به ما ستاسو کار ختم کړے وے، خو [بيا به هُم] زه تاسو بغير د مُقابَلے نه نه پريږدم.

د دې نه پس رُکانه نبـي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د کُشتۍ کولو دعوت ورکړو او اوئے وئيل: زه به خپلو خدايانو نه مدد غواړم او تاسو خپل خدائے نه مدد غواړئ. که تاسو زه ځملولم نو زه به تاسو ته لس چيلۍ درکړم. نبـي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه چيلنج قبول کړو او هغه سره کُشتي کولو ته تيار شو. خوږ نبـــي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رُکانه په لاسونو کښې لاسونه ورکړل او د هغه پنجه ئې تاو کړه. رُکانه حيران شو او د درد نه بيقراره شو. بيا نبـي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه له دِيڪه ورکړه نو هغه د اوچې پانړې په شان په زمکه پريوتو. رُکانه په خپل طاقت ډير تَڪَبُّر کولو، هغه دا سوچ هم نه وو کړے چې صادق و اَمين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ما ته په يو ساعت کښې شکست راکړي. څه چې اوشو د هغه د توقع خلاف وو. خو رُکانه دا اتفاق اوګڼړلو او شکست ئې اُو نه منلو. چې هوش ئې په ځائے شو نو بيا ئې د کُشتۍ د پاره درخواست اوکړو. رسولِ پاك صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه درخواست

منظور کړو خو د دې ځل نتيجه هُم د مخکښې نه مختلفه نه وه يعني دا ځل هُم هغه په يو ساعت کښې شکست اوخوړلو. رُکانه ډېر حيران شو. د هغه په وهم او ګمان کښې هم نه وو چې د هغه په شان غټ او مضبوط پهلوان به دا حشر کيږي. خو بيا هُم هغه شکست منلو ته تيار نه وو. په دريم ځل ئې بيا د کُشتئ درخواست اوکړو او حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قبول کړو. په دريم ځل هم هغه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طاقت مقابَله اونکړے شوه او په زمکه راپريوتو او شکست ئې اوخوړو. بيا هغه اُووئيل چې: دا هر څه [چې اوشو دا] تاسو نه دي کړي بلکه ستاسو غالب او قادر معبود الله اوکړل او زما خدايانو زه رُسوا کړم. (دلائل النبوة للاصبهانی، الفصل التاسع عشر، ذکر خبر رکانة، ۲/۲۳۵ماخوذاً) يو روايت کښې دا هُم دي چې رُکانه پهلوان وئيلي وو چې که تاسو (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زه را اوپرزولم نو زه به مسلمان شم، چنانچه رُکانه مسلمان شو، يعني په هُم هغه ساعت ئې اسلام قبول کړو او د يو روايت مطابق هغوئي د فتحِ مکه په ورځ اسلام قبول کړے وو. (شرح الزرقانی علی المواہب، الفصل الثانی فیما اکرمه الله...الخ، ۶/۱۰۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** سُبْحٰنَ الله ! تاسو اوليدل چې زمونږه خوږ آقا مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره طاقتور او د اعلٰی اخلاقو مالك وو چې مخامخ کس د جګړے کولو خبره او د کُشتئ چيلنج کوي، ترخے خبرې کوي، دهمکيانې ورکوي، خو قربان شم د

حُسنِ اخلاق د پيکر، محبوبِ اکبر صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلقِ عظيم نه چې د سختو خبرو جواب کښې ئې د حِلم او بُردبارئ او صبر و استقامت او نرمئ نه کار واخستلو. او دا د سرکارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادتِ کريمه وو چې د بد اخلاقئ سُلوك کولو والا، رټلو، وهلو، دباوونه کولو ولا، بد بد کنځلو والا يا د هر قِسم بد اخلاقئ کولو والؤ سره به ئې هم د مينې او محبت سلوك کولو، او د بد اخلاقئ سُلوك کولو والؤ بدله به ئې هم په حُسنِ سُلوك ورکوله، په دې وجه به خلق د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان جوړ شو. اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِديقه رَضِيَ اللهُ تعالٰى عَنْهَا فرمائي چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله تعالیٰ په لار کښې جِهاد کولو نه علاوه هيڅ کله کوم يو څيز، [يا] زنانه [يعني خپلې بيبيانې] يا خادم په خپلو لاسو مبارکو نه دے وهلے، او نه ئې د تکليف رسَوَلو والا نه بدله اخستې ده. البته چا به چې د الله پاك حُدود ماتول نو هغوئي ته ئې د الله پاك د پاره سزا ورکړې ده. (مسلم، کتاب الفضائل، باب مباعدته للآثام۔۔۔ الخ، ص۹۷۸، حديث:۶۰۵۰)

د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هُم دې کريمانه اخلاقو د برکتونو په وجه ډيرو خلقو اسلام قبول کړو او د بے شميره خلقو په ژوند کښې داسې مَدَني انقلاب پيدا شو چې د اسلام رڼړاګانو هر طرف ته د ګمراهئ تِيارے ختمې کړې او قتلونه او جګړے کوونکې د وِينو تږې خلق ئې محبت کښې ګرفتار شو.



www.dawateislami.net

دَورِ جہالت تھا ہر سُو جب کُفر کی ظُلمت چھائی تھی
تم نے حیوانوں جیسے لوگوں کو بھی اِنسان کیا
(وسائلِ بخشش مرمم، ص۱۹۶)

دَورِ جِهالت وو هر طرف ته وے د کُفر تِيارے
تاسو د حيوان په شان خلق هُم انسانان کړل

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د طاقتِ مُصطَفیٰ ﷺ يوه بله ايمان تازه کوونکي واقعه واورو:

## د غټ کټ ماتيدل

مشهور صحابي حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ عَنهُ فرمائي: د (غزوهٔ خَندَق په موقع) خَندَق کنستلو کښې ناڅاپه يو سخت ګټ رابنکاره شو چې هغه هيڅ چا هُم نه شو ماتولے. چې مونږه په بارګاهِ **رِسالت** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې دا حالت عرض کړو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راپاڅيدلو، د درې ورځو لوَږه ئې وه او په **خيټه مبارَکه باندې ئې کاڼړي تړلي وو** حُضُورِ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرې په خپلو لاسو مبارکو د **پلُک** ګوزار اوکړو نو ګټ د شګو د وراسته خټ په شان ريزه ريزه شو. (بخاری، کتاب المغازی، باب غزوة الخندق، ۵۱/۳، الحديث: ۴۱۰۱) په يو بل روايت کښې دي چې خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغه ګټ باندې د **پلُک** درې ګوزاره اوکړل، په هر ګوزار باندې به د هغې نه يوه رنړا وتله او په هغه رنړا کښې نبي کريم

صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شام، ایران او یَمن ښارونه اولیدل او صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته ئي د دې دریوارو ملکونو د فتح کیدلو زِیرے ورکړو. (المواهب اللدنیة مع شرح الزرقانی، باب غزوة الخندق...الخ، ۳/۳۱)

حضرت جابر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې د مسلسلې لوَږې په وجه ما د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خیټه مبارکه کانړي اولیدل نو ډیر خفه شوم، ما د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اجازت اوغوښتلو یَا رَسُوْلَ اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته کور ته د تللو اِجازت راکړئ. (اِجازت ئي چې راکړو او کور ته لاړم نو) ما خپلې بي بي رَضِیَ اللہُ عَنْہَا ته اووئیل چې، ما **تاجدارِ مدینه** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په داسې حالت کښې اولیدلو چې صبر نه شم کولے. آیا تاسو سره د (خوراك) څه څیز شته دے؟ هغې اووئیل: **وربشې** او یوه **چیلئ** ده. ما چیلئ حلاله کړه او وربشې مې وړه کړې تر دې چې مونږ دواړو غوښه په کټوئ کښې واچوله. زه د **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضِر شوم هغه وخت وړه نرم شوي وو او د ډوډو پخولو قابل شوي وو او کټوئ په نغري باندې پخیدو ته نزدے وه. (ما عرض اوکړو) **یَا رَسُوْلَ اللہ** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما سره لږ شان خوراك دے تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما سره تشریف یوسئ او یو یا دوه کسان ځان سره راولئ. اوئے فرمائیل:"خوراك څومره دے؟" ما [د خوراك] مقدار اوښودو نو اوئې فرمائیل: "خوراك ډیر دے او ښه دے." (هغوئي [یعني کور والؤ] ته) اووایه "چې زما د راتلو نه مخکښې نه د نغري نه کټوئ کوزه کړي او نه د تنور نه ډوډئ را اوباسي." (بیا) **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

وَسَلَّم (صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ته) اوفرمائيل: ”پاڅئ“! نو مهاجِرين او اَنصار عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان پاڅيدل. (حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي) زه د ”خپلې بي بي خوا ته راغلم او ورته مې اووئيل، خدائے دِ خير درکړي، سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، مُهاجِرين و اَنصار عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان او کوم خلق چې د حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وو [هغه ټولو] تشريف راوړے دے.“ هغې اُووئيل، آيا **حُضُور** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو نه تپوس کړے وو؟ ما اووئيل: آو. (په دې کښې) رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (صحابهٔ کِرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ته) اوفرمائيل: ”دننه ننوځئ او ګڼه مه جوړوئ.“ حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (په خپلو مبارکو لاسونو) **ډوډۍ ماتول او په هغې غوښه اېښودل شروع کړل چې کله به خوږ آقا** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **ډوډۍ او غوښه را اوويستله نو کټوئ او تنور به ئې پټ کړل.** او خوراك به ئې صحابهٔ کِرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ته ورکړلو او بيا به ئې ترينه سر اوچتولو. **خوږ آقا** صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هم دې شان ډوډۍ ماتوله او د کټوئ نه به ئې غوښه راويستله تر دې چې ټول صحابهٔ کِرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ماړه شو او خوراك [چې مخکښې څومره وو هم هغه همره] پاتې شو. نو **خوږ آقا** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (هغوئي ته ”يعنى حضرت جابر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ته) اوفرمائيل: ”تاسو پخپله هم اوخورئ او خلقو ته ئې تحفةً [هُم] ورکړئ، ځکه چې خلق په لوږه کښې اخته دي.“ (صحيح بُخاری ج٥ ص ٥٥ حديث ٤١٠١)



www.dawateislami.net

حضرت جابر رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ فرمائي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو لوښي په مينځ کښې خوړلي شوي هډوکي راجمع کړل او په هغې ئې خپل لاس مبارك کيښودلو او لږ کلام ئې اولوستلو چې ما وانه اوريدلو، اوس مو چې د کومے چيلۍ غوښه خوړلي وه هغه چيلۍ ناڅاپه غوږونه اوخنډل او راپاڅيدله، خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: خپله چيلۍ بوځه! ما چيلۍ د خپلې بي بي خوا ته راوستله. هغې (په حيرانئ) اووئيل: دا څه دي؟ ما اووئيل: وَاللّٰه! دا زمونږه هُم هغه چيلۍ ده کومه چې مونږه حلاله کړي وه. د مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دُعا الله پاك دا راژوندۍ کړه! دا ئې چې واوريدل نو د هغوئي بي بي بے اختياره اووئيل: زه ګواهي ورکووم چې بے شکه هغوئي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاك رسول دے.(الخصائص الکبرٰی، ۲/ ۱۱۲)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**اے عاشقانِ رسول!** د دې واقعے نه مونږ ته ډير درسونه حاصليږي، اول خو په دې خبره باندې غور اوکړئ چې که زمونږ سره طعام کم وي او طعام خوړلو والا زيات شي نو د طعام د مقدار زياتولو نه علاوه راسره بل حل نه وي، تقريبا څلور کلو وړه او يوه چيلۍ که ډيره څربه وي نو هُم په مشکله به د پنځوسو يا شپيتۆ کسانو د خوراك کار اوکړي. خو د نبئ رحمت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت دومره طعام د صحابه کرامو ټول لښکر ته هُم اورسيدو بلکه څومره ئې چې پوخ کړے وو هغه همره پاتې هُم شو او چې د چيلۍ په هډوکو ئې کلام



www.dawateislami.net

اولوستلو نو هغه هُم ژوندئ شوه، دا حکايت د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ډيرو کمالاتو مجموعه ده. د دې نه معلومه شوه چې حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مالِكِ کَونَين (يعني د الله په ورکړه د دواړو جهانو مالك) دے، د کائنات ټولې خزانے د هغوئي په لاس کښې دي، که هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتلے نو ټولې خزانے به ئې مخې ته حاضرې وے او چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه غوښتلے استعمالولے به ئې، خو دا د هغوئی د کمال درجے عاجزي ده چې د دواړو جهانو د بادشاه او مالِك کيدو باوجود ئې هُم په خيټه مبارکه باندې کاڼړي تړلي وو.

دا خبره هُم د غور قابله ده چې خوږ مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو غُلامانو سره په شريکه کار کولو، حالانکه که هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتلے نو صرف نګراني به ئې کولے او د خَندَق کنستلو ټول کار به صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کولے، په دې مبارك عمل کښې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عاجزئ او اِنکِسارئ کولو اظهار هم دے، صحابهٔ کرامو سره مَحبَّت هم دے او د اُمَّت د پاره پکښې تعليم هُم دے.

په دې خبره هم غور اوکړئ چې يو **ګټ** چې ډيرو صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په شريکه نه شو ماتولے آقا کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې باوجود چې د ډيرو ورځو فاقه [يعنی لوږه] ئې وه، څه ئې نه وو خوړلي. په خيټه مبارکه ئې کاڼړي تړلي وو خو بيا هم چې کله هغوئي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو لاسو مبارکو صرف يو **پِلُک** اووهلو نو پوره

ګټ د شکې په شان ریزه ریزه شو. د دې نه معلومه شوه چې مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هیڅ کله هم زمونږ په شان نه دے. نه د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان خوك شته او نه کیدے شي.

## دولسو مدني کارونو کښې یو مدني کار "جُمات درس"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن په دې دور کښې د عاشقانِ رسول مدني تحریك دعوتِ اسلامي د عشقِ رسول او محبتِ رسول جذبه ورکوي. تاسو هم دې ماحول کښې شامل شئ او د ذِیلي حلقے دولسو مدني کارونو کښې خپل کردار ادا کړئ او د ډیرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مدني کارونو د پاره هره ورځ کم از کم د دوه ګینټو ورکولو ترغیب فرمائیلے دے، یقیناً خوك چې څومره زیات وخت ورکړي ، د هغه د پاره به د ثواب ګټلو موقعے هم هغه همره زیاتې شي. **اِنْ شَآءَ الله**

یاد ساتئ! د ذِیلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې یو د هرې ورځې مدني کار "**جُمات درس**" هم دے. ۩ "**جُمات درس**" سره جماتونه آبادیږي، ۩ "**جُمات درس**" سره د انفرادي کوشش کولو موقع نصیب کیږي. ۩ "**جُمات درس**" سره د لمُونځ ګزارو په شمیر کښې اضافه کیږي. ۩ د "**جُمات درس**" په برکت د نیکئ او خیر خبرې پخپله او نورو ته د زده کولو موقع نصیب کیږي. د خیر ښیګړې خبرې زده کول او نورو ته د زده کولو ډیرې فائدے دي. چنانچه

منقول دي چې الله تعالیٰ حضرت سَیِّدُنا موسیٰ کلیمُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله چې: "**د خير [يعني د نيکۍ] خبرې پخپله هم زده کوه او نورو ته ئې هم زده کوه، زه به د خير** [يعني د نيکۍ د خبرو] **د زده کوونکو او د ښودونکو قبرونه روښانه کووم چې هغوئي ته د هيڅ قِسمه ويره نه وي.**" (حِلْیَۃُ الاولیاء ج٦ ص٥ رقم ٧٦٢٢) د بيان شوي روايت نه معلومه شوه چې ښو ښو نيتونو سره د سنتو ډك بيان كولو يا درس وركولو او اوريدلو والا ډير خوش قِسمته دي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هغوئي په قبرونه كښې به دننه رنړاګاني وي او هغوئي به د هيڅ قِسمه ويره نه محسوسوي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جسماني طاقت په باره كښې بيان اوريدلو. يقيناً الله پاك خپل محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بے مثاله طاقت عطا كړے دے چې په كائنات كښې د هغې هيڅ مثال نشته، او هم دا وجه وه چې د غټ نه غټ پهلوان به خوږ نبـي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د مقابلے كولو طاقت نه لرلو. راځئ چې د دې په باره كښې دوه واقعات واورو:

## يزيد بن رُكانه سره مقابله

(1) د بيان په شروع كښې مونږه د رُكانه پهلوان واقعه اوريدلي وه. د هغه يو ځوئ چې نوم ئې يزيد وو هغه هم غټ پهلوان وو. يو ځل

هغه درې سوه چيلو سره په بارګاه نبوت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او اوئے وئيل اے محمد! (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تاسو زما سره کُشتي اوکړئ. خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که ما ته را اوپرځولې نو ته به ما ته څو چيلئ په انعام کښې راکړې؟ هغه اووئيل چې زه به تاسو ته سل چيلئ درکړم. حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تيار شو او هغه ته ئې چې څنګه لاس ورکړو نو سمدستي ئې زمکې ته راويشتو او هغه حيرانئ سره خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اوکتل او د وعدے مطابق ئې سل چيلئ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورکړې. خو په دويم ځل ئې بيا د کُشتئ کولو چيلنج ورکړو. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دويم ځل هُم د هغه شا په زمکه اولګوله. هغه بيا سل چيلئ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورکړې. بيا ئې په دريم ځل حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د کُشتئ چيلنج اوکړو. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه چيلنج قبول کړو او داسې په زوره ئې زمکې ته راويشتلو چې هغه په زمکه ورا برا پريوتو. هغه باقي سل چيلئ هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې پيش کړې. خو اوئے وئيل چې اے محمد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! ټول عرب ګواه دے چې د نن ورځې پورې يو پهلوان هُم په ما نه دے غالب شوے، خو تاسو چې څنګه درې ځله په کُشتئ کښې څملولم په دې باندې زما زړه اومنله چې يقيناً تاسو د خدائے نبي ئې، بيا ئې فوراً کلمه اولوستله او مسلمان شو، حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه په مسلمان کيدلو ډير زيات



www.dawateislami.net

خوشحاله شو او هغه ته ئې هغه درې سوه چيلۍ بيرته ورکړې. (زرقانی علی المواہب، الفصل الثانی فیما اکرمه الله ...الخ،۱۰۳/۶)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دې روايت نه معلوميږي چې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل نُبُوَّت په نظر ليدلي وو چې که يزيد بِن رُکانه سره داسې سُلوك اوکړے شي نو هغه به ايمان راوړي، ځکه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه سره مقابله اوکړه او وروسته ئې ټولې چيلۍ په تُحفه کښې بيرته ورکړې او د هُم دې حُسنِ سُلُوك په وجه هغه اسلام قبول کړو. بهرحال هغه د تربِيَّت زمانه وه او د جوارۍ د حرام کيدو نه مخکښې واقعه ده ځکه د دې نه مونږه [د شرط لګولو] دليل نه شو نيولے، مونږه به په هر صورت کښې د هغه کار نه ځان ساتو کوم چې شريعت منع کړے دے.

## د جوارۍ تعريف او د هغې بعضې صورتونه

هره هغه لوبه چې په هغې کښې دا شرط وي چې د مغلُوب (يعني بَيللو والا) يو څيز به غالب (يعني ګټلو والا) ته ورکولے کيږي دا **قِمار** (يعني جُواري) ده. (التّعریفات ص۱۲۶)

ياد ساتئ! جواري حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے. د جوارۍ يو صورت دا هُم دے، لکه نن صبا چې په موبائل د کمپنۍ له طرفه ميسيج راځي چې مَثَلًا کوم ټيم به ميچ ګټي؟ يا پاکستان په کومه ورځ جوړ شوے وو؟ صحيح جواب ورکولو والؤ د پاره مختلف انعامات مقرر

وي او د حِصَّه اخستونکي د بيلينس نه څه رقم مَثَلًا **10** روپۍ کټ کيږي، د چا چې انعام نه را اوځي د هغوئي رقم ضائع شي [او د چا چې را اوځي هغوئي ته ډير انعام ملاو شي] دا هم جواري ده. جواري حرامه او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے.

هُم دغسې په مختلفو لوبو مَثَلًا کرکټ، کيرم، بلئرډ، تاش، لُډو، شطرنج وغيره هُم دوه طرفه شرط لګولے کيږي چې بيللو والا به ګټلو والا ته دومره رقم يا فلانکے څيز ورکوي (يا به پرے ډوډۍ خوري وغيره) دا هُم جُواري او حرام کارونه دي. ځکه مونږ ته پکار دي چې د دې کارونو نه ځان اوساتو. او که څوك تر اوسه په دې ګناه کښې اخته شوے وي نو هغه دِ توبه هُم اوکړي.

که چا په جوارئ کښې ګټلے رقم وغيره واخستو نو د هغې واپس ورکول لازم دي، دا رقم به په څه طريقه واپس ورکوي، په دې باره کښې مُفتيانِ کرامو نه رهنمائي اخستل پکار دي. **الله** پاك دِ مونږه د هرې ګناه نه په حفاظت کښې اوساتي.

[د مختلفو مسائلو د تپوس د پاره د دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت نوے نمبر نوټ کړئ **03117864100**]

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ابو الاسود سره مقابله

(2) دغه شان **اَبُو اَلْاَسْوَد جُمَحي** هم ډير طاقتور پهلوان وو، د هغه



www.dawateislami.net

په باره كښې راځي چې هغه دومره طاقتور وو چې هغه به په يوه څرمن كښيناستلو او لسو پهلوانانو به هغه څرمن راښكله چې هغه څرمن د هغه د لاندې نه راخلاصه شي، هغه څرمن به په راښكلو اوشليدله او ټكړے ټكړے به شوله خو د هغه د لاندې نه به نه راخلاصيدله. يو ځل هغه هم د حُضُور انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر شو او چيلنج ئې اوكړو چې كه تاسو زه په كُشتۍ كښې راځملولم نو زه به مسلمان شم. حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه سره كُشتۍ كولو د پاره پاځيدلو او د لاس نيولو سره ئې سمدستي په زمكه را څملولو. هغه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت په دې طاقت حيران شو او فوراً مسلمان شو. (زرقانى على المواہب، الفصل الثانى فيما اكرمه الله...الخ، ۶/۱۰۳)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** غور اوكړئ! الله پاك خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څنګه جسماني طاقت عطا كړے دے. ياد ساتئ! شهنشاه مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هيڅ كله هم په خوراك ځان نه دے موړ كړے او نه هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پهلوانئ طرف ته توجه كړي ده، د دې باوجود دومره زور او طاقت د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معجزه هم ده.

## د کُشتۍ شرعي حيثيت

راځئ چې د موقعے په مناسبت د کُشتۍ په باره کښې شرعي حُکم هم وارو، چنانچه **فتاوىٰ هِنۡدِيه** کښې دي چې د کُشتۍ په ميدانونو کښې که کُشتي کول د لَـهو و لَعِب په طور نه وي بلکه د دې مقصد خپل بدني طاقت زياتول وي نو دا جائز دي خو شرط دا دے چې [فرض] ستر پټولو سره وي، نن صبا چې [خلق] د کشتۍ د پاره لنګوټے او جانګے اغوندي او په هغې کښې ورنونه [او زنګونان او د نامه نه لاندې حِصَّه] وغيره ښکاره وي دا ناجائزه [او ګناه] ده او د داسې کُشتۍ تماشه کول هُم ناجائزه [او ګناه] ده، ځکه چې د چا ستر ته کتل هُم حرام دي. (فتاوى هندية، كتاب الكراهية، باب السابع عشر فى الغناء۔۔۔الخ، ۳۵۲/۵ملخصاً) [د نارينه فرض پرده د نامه نه واخله د زنګونانو پورې ده، يعني زنګونان هُم پکښې شامل دي]

## د حُضُور ﷺ د والِد محترم رَضِىَ اللهُ عَنۡهُ شان

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې اوس د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د والِد ماجِد حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عبدُ المُطَّلب رَضِىَ اللهُ عَنۡهُمَا په باره کښې يو څو ايمان تازه کوونکي خبرې وارو:

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله بِن عبدُ المُطَّلِب رَضِىَ اللهُ عَنۡهُمَا، زمونږ د نُور والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم والد محترم دے، د هغوئي مُبارَک نُوم عبدُالله،کُنيت **اَبُو مُحَمَّد**، **اَبُو اَحمد** اور **اَبُوقُثَم** (يعنى خير و بَرکت

راغونډوونکے) [1] او د والِده مُحترمه نوم مبارک ئې حضرت آمِنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا دے، حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خپل والِد مُحترم حضرت عبدُ المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په ټولو ځامنو کښې د ټولو نه ګران او خوږ وو. د قُريشو د قبيلے ټولو ښکلو ښځو حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سره د واده کولو درخواست اوکړو خو حضرت عبدُ المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د داسې ښځې په تلاش کښې وو چې هغه د حُسن و جمال [يعني ښائست] او د حسب و نسب د شرافت لرلو سره سره د اعلىٰ درجے پاکبازه او حياداره هُم وي. (سیرت مصطفٰے، ص58)

## غيبي سوَرو بچ کړو (حکايت)

يوه ورځ حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ځنګل ته لاړلو، هلته د مُلکِ شام غير مسلمو د يو څو علامتونو [يعني نښو] نه اوپيژندلو چې هُم دوئي د الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والِد مُحترم دے، چنانچه هغوئي د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د قتل (يعني شهيد) کولو ډير کوششونه اوکړل خو الله پاک په خپل فضل و کرم بچ کړلو. چنانچه د عالَمِ غيب نه ناڅاپه يو څو داسې سوَاره راغلل چې د دې دُنيا د خلقو په شان نه وو، هغوئي د دوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دُښمنان په وهلو وهلو اوزغلول او حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ئې په حفاظت خپل کور ته اورسولو. (سیرت مصطفٰے، ص58)

---

[1] ...... شرح زرقانی علی المواهب اللدنیة، المقصد الاول...الخ، ۱/۱۳۵۔

# خپل مبارك مور و پلار ئې ژوندي كړل

هر چا ته خپل مور و پلار ګران وي، نو زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به ولے نه وي ګران! خپل مبارَك مور و پلار ئې په خپل اُمَّت كښې د شامِلَوَلو د پاره د ربِّ قادِر عَزَّوَجَلَّ په عطا څومره عظيمُ الشّانه مُعجِزه اوښودله. تاسو هم واورئ او خوشحاله شئ: **اِمام ابُو اَلقاسِم عبدُ الرَّحمٰن سُهَيلی** (وفات 581 هجری) په "**اَلرَّوضُ الاُنُف**" كښې نقل كوي چې **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا رِوايت فرمائي: **سركارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوكړه: **يا اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما مور او پلار ژوندي كړې" **اللّٰه تعالٰی** د خپل **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا قبوله كړه او **دواړه ئې ژوندي كړل** او دواړو په حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اِيمان راوړو او بيا ئې خپلو پاكو مزاراتو ته تشريف يوړلو. (اَلرَّوضُ الاُنُف ج ص دار الكُتبِ العِلمِية بَيرُوت)

اِجابت كا سہرا عنايت كا جوڑا دلہن بن كے نكلی دعائے محمد ﷺ

اجابت نے جھک كر گلے سے لگايا بڑھی ناز سے جب دعائے محمد ﷺ

**د شعر ترجمه:** د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مباركې ژبے نه چې كومه دُعا اوځي نو هغه داسې قبليږي چې قبوليت هغې له ځپله غاړه وركوي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# مبارک مور و پلار ئې په توحِيد قائِم وو

زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لا د خپلې مبارکې مور سَيِّدَتُنا آمِنه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا په مبارکه ګيډه وو چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك پلار حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د دُنيا نه پرده اوفرمائيله او چې كله د مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك عُمر د پينځه يا شپږو كالو شو نو والِده ماجده رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا ئې هم د دنيا نه رُخصته شوه او د الله عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **څلويښتو كالو** په عُمر شريف كښې د نُبُوَّت اعلان اوفرمائيلو. د دې خبرې دِ څوك دا مطلب نه اخلي چې د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور و پلار ګنې **معاذَالله** عَزَّوَجَلَّ د كُفر په حالت كښې وفات شوي وو او ګنې په عذابِ قبر كښې ګرفتار وو ځكه د دوارو جهانو سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته كلِمه اووئيله او مسلمانان ئې كړل چې د عذاب نه خلاص شي. نو داسې بالكل نه وه بلكه هغوئي دواړه په توحِيد باندې قائِم وو او په ژوند كښې كله هم هغوئي بُت پرستي نه وه كړې. د اللهتَعَالٰى خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي په خپل اُمّت كښې د شامِلَولو د پاره بيا راژوندي كړي وو او كلِمه ئې پرې وئيلي وه.

*مجھ کو اب کلمہ پڑھا جا مرے مدنی آقا*     *تیرا مجرِم شہا دُنیا سے چلا جاتا ہے*

او س را ته اووايه كلمه زما مَدَني آقا

ستا دا مُجرِم اوس د دُنيا نه په سفر روان دے

## د یونُس عَلَیْهِ السَّلَام مهے به جَنَّت ته ځي

**حضرتِ** سَیِّدُنا اِسماعِیل حَقِّی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "تفسِیر رُوحُ البیان" کښې نقل کوي: "حضرتِ سَیِّدُنا **یونُس** عَلَیْهِ السَّلَام درې ورځې یا ووه ورځې یا څلویښت ورځې د مهي په خیټه کښې وو. لِهٰذا هغه **مهے** به جَنَّت ته ځي." (رُوحُ البیان ج ص ،کوئټه)

## مور و پلار ئې جَنَّتیان دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** سوچ اوکړئ! د کوم مهي په خیټه کښې چې د اللہ تَعَالٰی نبی **حضرتِ** سَیِّدُنا یونُس عَلَیْهِ السَّلَام صرف یو څو ورځې وو هغه مهے به جَنَّت ته ځي او د کومې مور **سَیِّدَتُنا آمِنه** په ګیډه کښې چې د حضرتِ سَیِّدُنا **یونُس** عَلَیْهِ السَّلَام آقا **محمّدِ** مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د څو څو میاشتو پورې تشریف فرما وو نو هٰغه **بي بي آمِنه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہَا دِ مَعَاذَ اللہ عَزَّوَجَلَّ په کُفر د دُنیا نه لاړه شي او د قبر په عذاب کښې دِ اخته شي دا چرې کیدے شي. یقیناً د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو مور و پلار رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا د ژوند هر ساعت په عقِیدهٔ توحِید تیر شوے وو او هغوئي **جَنَّتیان** دي. بلکه زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټول **نیکونه** [او نیاګانې] اهلِ حق وو. د تفصیلي معلوماتو حاصلولو د پاره فتاوٰی رَضَوِیَّه جَلد 30 د صفحه 267 نه 305 پورې اولولئ.

خدا نے کیا ان کو بے مِثل پیدا     نہیں دو جہاں میں مثالِ محمد

خدا اور نبی کا ہے اُس پہ تو سایہ     جسے ہر گھڑی ہے خیالِ محمد



www.dawateislami.net

خدائے پيدا كړو هغوئي بے مِثل
په دواړو جهانو كښې نشته مِثال د مُحمّد

خُدائے او نبي دے په هغه مهربانه
لري چې په زړه كښې هر وخت خَيال د مُحمّد

## شعبه ائمه مساجد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د نيكو حرص زياتولو د پاره او د ګناهونو نه د بچ كيدلو ذِهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مدنى تحريك دعوتِ اسلامى كښې شامل شئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامى په ټوله دُنيا كښې دا وخت د 107 نه زياتو شعبه جاتو په ذريعه د دين اسلام پيغام عام كولو كښې مصروفِ عمل دے، په دې شُعبو كښې يوه شعبه "**ائمۀ مساجد**" هم ده. په دې كښې شك نشته چې څوك د جماتونو آبادولو د پاره د ائمۀ [يعني اِمامانو] او مؤذنانو د مقررولو كار كوي او د هغوئي د خيرخواهي د پاره مناسب تنخواګانې هم مقرروي، د پاره د دې چې دا اسلامي وروڼه د مالي پريشانئ نه آزاد وي او ډير ډير د نيكئ دعوت عام كړي. د جماتونو په آبادولو كښې د ائمه او مؤذنانو اهم كردار وي. د دعوتِ اسلامي ماحول كښې شامِل ائمه كرام د سحر لمَانځه د پاره د مسلمانانو رابيدارولو او د انفرادي كوشش په ذريعه د جَمعې [يعني امامتئ سره] د لمَانځه كولو ترغيب وركوي، درسِ فيضانِ سُنَّت، د سحر د لمَانځه نه پس د تفسيرِ قرآن په حلقه كښې شريك كيږي او د سُنَّتو د

تربيت د پاره د عاشقانِ رسول په قافلو كښې د سفر كولو او نور خلق هُم ځان سره قافلو كښې د بوتللو په ذريعه جماتونه آباد ساتي. فرمان مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوك چې جمات سره مينه ساتي، الله تعالٰى هغه سره محبت كوي. (مُعْجَمُ اَوْسَط، ۴/۴۰۰، حديث: ۶۳۸۳)

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې ليكي: جمات سره مينه، د الله د رضا د پاره په هغې كښې اعتكاف كول، لمُونځ، ذِكرُ الله او [په هغې كښې] شرعي مسائل زده كول او نورو ته زده كولو د پاره د كښيناستلو عادت جوړول دي. او د الله پاك د هغه بنده سره محبت كول داسې دي چې الله پاك هغه ته د خپل رحمت په سَوري كښې ځائے وركوي او هغه په خپل حفاظت كښې داخلوي. (فيض القدير، ۶/۱۱۲، تحت الحديث: ۸۵۲۴)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښې زما سره وي." (ابنِ عساكر ج۹ ص ۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا     جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا

جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## د عِمامے شريفې مَدَني ګلونه

**شپږ فرامِينِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ۞ عمامے سره دوه رکعاته لـمُونځ د عمامے نه بغير د اويا (۷۰) رکعاتو نه افضل [يعني غوره] دې. (الفِردوس بمأ ثور الخطاب ج2 ص265 حديث3233) ۞ په ټوپۍ باندې عِمامه زمونږه او د مُشرِکينو په مينځ کښ فرق دے، هر لږ چې مسلمان ئې د خپل سر نه تاوهي په هغې به د قيامت په ورځ يو نُور ورکولے شي. (الجامِعُ الصَّغیر لِلسُّیُوطی ص353 حدیث5725) ۞ بيشکه الله تعالیٰ او د هغه فرِښتے دُرُود ليږي د جُمُعے په ورځ عِمامه والؤ باندې. (الفِردوس بماثور الخطاب ج1 ص147 حدیث529) ۞ عِمامے سره لـمُونځ د لسو زرو نيکو برابر دے. (ایضاً ج2 ص406 حدیث 3805 فتاوٰی رَضَوِیّہ مُخرَّجہ ج6 ص213) ۞ عمامے سره يوه جُمعه د بغير عمامے اوياؤ (70) جُمعو برابره ده. (ابنِ عساکر ج37 ص355) ۞ عمامے د عربو تاجونه دي، نو عمامه اوتړه ستا وقار [يعني عزّت] به زياتيږي او څوك چې عمامه اوتړي د هغه د پاره په هر لږ باندې يوه نيکي ده. (جمع الجوامع للسيوطي، ج٥، ص٢٠٢، حديث١٤٥٣٦) ۞ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارے مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب بهارِشريعت جلد3 صفحه 660 کښې دي: عمامه په ولاړه تړئ او پاجامه [پرتوګ وغيره] په ناسته اغوندئ، که چا د دې خلاف اوکړه (يعني عِمامه ئې په ناسته اوتړله او پاجامه [يا پرتوګ وغيره] ئې په ولاړه واغوستو) نو هغه به په داسې مرض کښې اخته شي چې د هغې عِلاج نشته. ۞ عِمامه تړلو نه مخکښې لږ صبر اوکړئ او ښه ښه نيتونه اوکړئ، ګنې که يو هم ښه نيّت نه وو نو ثواب به نه کيږي، لِهٰذا کم از کم دا نِيَّت اوکړئ چې د الله تعالیٰ د رضا د پاره د سُنَّت ادا کولو د

پاره عِمامه ترړم مناسب دا دي چې د عِمامے وړومبے لړ د سر ښي طرف ته تاؤ شي. (فَتاوىٰ رَضَوِيّه ج22ص199) د خوږ نَبِی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې عمامے شمله به عام طور د مبارکې ملا طرف ته وه او کله کله به ښي طرف ته، کله به د دواړو اُوګو د مينځه دوه شملے وے. ګڅ طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي. (اَشِعَّةُ اللَّمعات ج3ص582) د عمامے د شملے اُوګږدوالے کم از کم څلور ګوتې او زيات نه زيات (د نيمې ملا پورې يعني تقريبًا) يو لاس. (فَتاوىٰ رَضَوِيّه ج22ص182) (د مينځنئ ګوتې د سر نه واخله څنګلې پورې ناپ ته يو لاس وائي) عمامه مخ په قبله په ولاړه ولاړه تړئ. (كشفُ الاِلتِباس في اِستِحبابِ اللِّباس ص38) په عمامه کښې سُنَّت دا دي چې د دوه نيمو ګزو نه کمه نه وي، او د شپږو ګزو نه زياته نه وي، او دا د ګُنبد په شان [يعني داسې] اوتړلے شي [چې مينځ ئې بره اوتے وي] (فَتاوىٰ رَضَوِيّه ج22ص186) رومال که غټ وي او دومره لړونه تاؤ شي چې سر پټ کړي نو دا عِمامه شوه او وړوکے رومال چې د هغې نه يو دوه لړه جوړ شي د دې تاوهل مکروه دي. (فَتاوىٰ رَضَوِيّه مُخرَّجه ج7ص299) که [څوک] عِمامه سپړي او بيا ئې تړل غواړي نو چې څنګه تړلے شوي ده هم هغسې دِ ئې [يو يو لړ] سپړي، په يو ځل دِ ئې زمکې له نه را اچوي. (عالمګيري ج5ص330) که ضرورتاً ئې لرې کړي او دوباره ئې د تړلو نِيَّت وي نو په يو يو لړ سپړدلو [يعني خلاصولو] به ئې يوه يوه ګناه معاف کيږي. (مُلخّص از فَتاوىٰ رَضَوِيّه مُخرَّجه ج6ص214)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

قِسما قِسم سنّتونه زده كولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه كتابونه (۱) د **۳۱۲** صفحو كتاب ''بهارِشريعت'' حصّه ۱٦ او (۲) د **۱۲۰** صفحو كتاب ''سُنّتیں اور آداب'' هديه كړئ او اولولئ ئي. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعي [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قبر كښې داخليدلو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به

هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُود شريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

---

1. . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا
2. . . القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

حضرت اَحمد صاوِی رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٣٢٩/٢، حديث: ٣٠

دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د خوړ آقا ښکلے انداز

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰه

**نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، او یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ”**فتاویٰ شامی**“ کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکۡرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)



www.dawateislami.net

## د دُرُود شريف فضيلت

د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: زما کوم اُمَّتي چه په اِخلاص سره په ما باندے يو ځل دُرودِ پاك اولولي الله پاك به په هغه لس رحمتونه نازل کړي، د هغه لس درجات به اوچت کړي، د هغه د پاره به لس نيکئ ليکي، او د هغه لس ګناهونه به وران [يعني معاف] کړي. (سنن الکبری للنسائی، کتاب عمل اليوم ... الخ، باب ثواب الصلاة ... الخ، ۲۱/۶، حديث: ۹۸۹۲)

مومنوں پڑھتے رہو تم اپنے آقا پر دُرود ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ

(وسائلِ بخشش مرمم، ص ۲۴۳)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ☆ چه څومره

[1] (معجم کبير سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/۶، حديث ۵۹۴۲)

کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښے ] کښينم ☆ د بل د پاره ځائے فراخه کولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزيږم ☆ که د چا په دِيکه وغيره اولګيدم نو د بد بد کتلو، رټلو او بحث کولو په ځائے به صبر کووم. ☆ صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب، اُذْكُرُوا الله، تُوبُوا اِلَى الله وغيره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندے جواب ورکووم. ☆ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښے کيږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** انسان چه د چا سره مينه کوي نو د هغه تذکِره هُم ډيره کوي، د هغه په نقشِ قدم باندے د تللو او د هغه د انداز [يعني طور طريقو] اختيارولو او د هغه قول او فعل او عمل کښے د هغه د نقل کولو هر ممکن کوشش کوي ځکه چه د محبوب انداز [يعني طور طريقے] خوښول او اختيارول د رښتيني محبت علامت او دليل وي، ولے چه مونږه هم د خپل خوږ خوږ آقا، مکِّي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت کوو، نو اوس مونږه له سوچ کول پکار دي چه مونږه خپل آقا مکِّي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د

محبت دعوىٰ كولو كښے څومره رښتيني يو، چه مونږه د خپل محبوب آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږه سنتونه او ښكلے انداز د څومره حده پورے اختياروو؟ د نن په بيان كښے به مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مختلفو كارونو مختلف انداز او سنتونه مثلاً د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خبرو كولو انداز څنګه وو؟ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طعام تناول كولو انداز څنګه وو؟ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په معاشره كښے د اوسيدلو انداز څنګه وو؟ او ورسره ورسره به د صحابه او بُزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى د سُنَّتو سره د ډير زيات محبت او په سنتو باندے د عمل كولو واقعاتو باره كښے هُم اورو. لِهٰذا ټول بيان د ښو ښو نيتونو او مكمل توجه سره د اوريدلو نِيَّت اوكړئ. راځئ چه د ټولو نه وړومبے يوه واقعه واورو: چنانچه

## د اخلاقِ مصطفٰى جهلكيانے

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فرمائي چه د حُضُور نبئ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات خوش اخلاقه هيڅ څوك هُم نه وو. صحابه كرامو يا كور والؤ كښے به چه هر چا خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته آواز اوكړلو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ورته په جواب كښے **لَبَّيْك** (يعني زه حاضر يم) وئيلو. حضرت جرير رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: زه چه د كله نه

مسلمان شوے یم هیڅ کله هُم رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه خپلے خواه ته ورتللو نه نه یم منع کړے او چه کله به ئے هُم زه لیدلم نو مسکے کیدلو به او خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خپلو صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان سره خوش طَبعي هم فرمائیله او ټولو سره به ئے یو ځائے ناسته ولاړه کوله، هر یو سره به ئے خبرے کولے، د صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان د ماشومانو سره به ئے هم خوش طَبعي فرمائیله، او هغه ماشومان به ئے په خپله غیږه مبارکه کښے کښینول. که آزاد به وو که غلام به وو او که فقیر، د هر یو دعوت به ئے قبلولو، د مدینے منورے په لرے لرے ځائیونو کښے اوسیدونکو مریضانو تپوس له به ئے تشریف وړلو او د معذرت کوونکو معذرت به ئے قبلولو. (الشفاء بتعریف حقوق المصطفی ،فصل واما حسن عشرته، ۱/۱۲۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوریدل چه نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل کور والؤ، خپلو احبابو، خپلو اصحابو، خپلوانو، ګاونډیانو تر دے چه د هر چا سره به ئے د دومره خوش اخلاقۍ سُلوك کولو چه په هغوئي کښے به هر یو د هغوئي د اخلاقِ حَسَنه عاشق او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت کولو والا جوړ شو او چه کله به چا خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته آواز کولو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په جواب کښے **لَبَّیْك** (زه حاضر یم) وئیلو، خو افسوس! نن صبا

که مونږه په خپل حالت باندے غور اوکړو نو زمونږ د کور کسان، دوستان، ا او خپلوان، **الغرض** مونږ سره تعلق لرونکي زمونږه د بد اخلاقئ او کردار په وجه پريشانه دي، ځکه چه مونږه هغوئي سره په بد اخلاقئ خبرے کوو او کله د نورو خلقو سره جګړے کوو او بد رد او کنزلے کوو، کله د چا غيبت، **چُغلي** کوو، کله د خلقو زړونه ازاروو، کله په کور کښے د مور و پلار او خويندو ورونړو سره جګړے کوو، کله د دوستانو سره بدسلوکي کوو، کله په خپلو ماشومانو بے ځايه سختي کوو، کله د کوروالؤ سره جګړه کوو او کله ګاونډيان خفه کوو، کله د خپلے سخرګنئ والؤ سره او کله د نورو خپلوانو سره تعلق پريږدو، **الغرض** بدقسمتئ سره مونږه نه خو په ظاهره د سُنَّتِ مصطفٰی پابند يو او نه په کرادر کښے اخلاقِ مصطفٰی باندے عمل کوو، مونږ له پکار دي چه خپل ژوند د حُضُور نبـي اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت مطابق تير کړو ځنګه چه

زمونږ ربِّ کريم مونږ ته د خپل **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تابعدارئ کولو حکم ارشاد فرمائيلے دے:

**لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ** (پ۲۱،الاحزاب:۲۱)

مفهوم تَرجَمۂ کنزالايمان: بےشکه ستاسو د پاره د رسولُ الله پيروي بهتره ده.

مشهور مفسرِ قرآن، مفتی احمد یار خان نعیمی رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَیْه د دے آیت مبارکه نه لاندے فرمائي: معلومه شوه چه کامیاب ژوند هغه دے کوم چه د خوږ نبی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نقشِ قدم وي، که زمونږ ژوند، مرګ، اوده کیدل، بیداریدل [یعني هر کار] د حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نقش قدم شي نو دا ټول کارونه به عبادت جوړ شي.

(نور العرفان، پ۲۱، الاحزاب، تحت الآیۃ:۲۱)

جو اپنے دل کے گُلدستے میں سُنّت کو سجاتے ہیں
وہ بے شک رَحمتیں دونوں جہاں کی حق سے پاتے ہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په سنتو باندے د عمل کولو برکتونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا حقیقت دے چه څوك په کښیناستلو، پاڅیدلو، ګرځیدلو، اوده کیدلو بیداریدلو، خوراك څښاك او خبرو کولو کښے د خوږ خوږ آقا مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنّتو باندے عمل کوي نو په هغوئي د ربِّ کریم ډیر ډیر رحمتونه راوریږي. ځکه چه ☆ په سُنّتو باندے عمل کولو والؤ ته د ربِّ کریم رضا نصیب کیږي، ☆ په سُنّتو باندے عمل کوونکي د الله پاك په خوښو بندګانو کښے شمیرلے کیږي. ☆ په سُنّتو باندے عمل کولو والؤ ته خوفِ خدا

نصيب كيږي، ✰ په سُنَّتو باندے عمل كولو والؤ ته فكرِ آخرت نصيب كيږي، ✰ په سُنَّتو باندے عمل كولو والؤ ته حقيقي **محبتِ** رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نصيب كيږي، ✰ په سُنَّتو باندے عمل كولو والؤ ته د ډيرو شهيدانو اجر و ثواب حاصليږي، ✰ په سُنَّتو باندے عمل كولو والؤ ته د دوارو جهانو كاميابئ نصيب كيږي، ✰ په سُنَّتو باندے عمل كولو والؤ نه خوږ آقا مكّى مَدَنى مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي كيږي ، ✰ په سُنَّتو باندے عمل كولو والؤ ته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب [يعني نزديكت] حاصليږي. راځئ چه په سُنَّتو باندے د عمل جذبه زياتولو د پاره يوه واقعه واورو: چنانچه

## په سُنَّتو باندے د عمل په بركت ئے بخښنه اوشوه

حضرت علي بن حُسين رَحْمَةُ اللهِ تعالٰى عَلَيْه په خوب كښے حضرت **هِبَةُ اللهِ طَبَرِي** رَحْمَةُ اللهِ تعالٰى عَلَيْه اوليدلو نو تپوس ئے ترينه اوكړو: **مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ** يعني **الله** پاك تاسو سره څه معامَله اوفرمائيله؟ حضرت **هِبَةُ الله** رَحْمَةُ اللهِ تعالٰى عَلَيْه جواب وركړو: الله پاك زما مغفرت اوكړو. دوئي ورته عرض اوكړو: په څه سبب؟ نو هغوئي ورته رازدارانه انداز كښے اوويئيل: په سُنَّتِ مباركه باندے د عمل كولو په وجه. (سير اعلام النبلاء، رقم: ۴۲۷۴، هبة الله بن الحسن، ۲۱۹/۱۷ بتغير)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه په سُنَّت مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندے د عمل كولو په بركت الله پاك د حضرت **هِبَةُ الله** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ مغفرت اوكړو، **سُبْحٰنَ الله!سُبْحٰنَ الله!** ياد ساتئ! زمونږه بُزرګانِ دين، صحابه كرامو او صحابياتو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ به د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هر سُنَّت باندے عمل كول لازم او ضروري ګڼړل او د وړے نه وړه معامله كښے به ئے هُم د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرامين او سُنَّت پريښودل نه برداشت كول. ځنګه چه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا دے رښتينے محبت او كامل اِطاعت او فرمانبرداري چه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حكم به ئے به ئے په سر ستركو قبلولو، لكه چه د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ژبے مباركے نه وتلي الفاظ د هغوئي د پاره هر څه وو، د دے نه علاوه ئے هم د آقا كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّتو او فرامينو باندے د عمل كولو جذبه لرونكو **عاشِقانِ رَسُول** ډير واقعات دي. چنانچه

## په سُنَّتو د عمل كولو بركت

اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ خپل مايه ناز كتاب فيضانِ سنت جلد اوّل صفحه 263 كښے يوه واقعه نقل كوي چه: **زبردست مُحَدِّث** حضرتِ سيِّدُنا هُدبه

بِن خالِد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ته د بغداد خليفه مامون رشيد د طعام دعوت ورکړو، د خوراك وغيره کومے دانے چه غورزيدلے وے هغه د طعام په آخِره کښے سيّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ راټولولے کړے او اُوئے خوړلے. مامون رشيد حيران شو او ورته ئے اووئيل، اے شيخ! آيا تاسو نه ئے موړ شوے؟ هغوئي اوفرمائيل: ولے نه! اصل کښے خبره دا ده چه ما ته حضرتِ سيّدُنا حَمَّاد بِن سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ يو حديث بيان کړے دے: ''چه څوك د دستر خوان نه لاندے غورزيدلی د طعام ټُکړے راټولوي او خوري ئے، هغه به د تنګدستئ نه بے يَرے شي.'' زه په هم دے حديث مُبارك عمل کووم. دا ئے چه واوريدل نو مامُون ډير زيات مُتاثِره شو او خپل يو خادم ته ئے اِشاره اوکړه، هغه زر دِيناره په رومال کښے تړلي راوړل. مامون هغه د حضرتِ سيّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خِدمت کښے د نذرانے [يعني تُحفے] په طور وړاندے کړل. حضرتِ سيّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ اوفرمائيل: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! په حديث مبارك باندے د عمل کولو بَرَکت سمدستي ښکاره شو. (ثَمَراتُ الْاَوْرَاق ج۱ ص۸)

## د محبوب د عمل سره مينه

د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِيۡنه کتاب ''صحابہ کرام کا عِشقِ رسول'' صفحه 27 کښے دي چه: حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنۡہ بيان فرمائي چه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په صحابه کرامو کښے يو صحابي درزي وو، هغوئي نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی


www.dawateislami.net

عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په خپل کور کښے د طعام خوړلو دعوت ورکړو، نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د اخلاص نه ډك دعوت قبول کړو، هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مقرره ورځ د هغه صحابي کور ته تشريف يوړلو، زه هم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په هغه دعوت کښے موجود ووم، خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د ميلمستيا د پاره د وربشو ډوډئ او اينګولے [ترکاري] پيش کړے شو چه په هغے کښے کدُّو او اوچه کړي مالګينه غوښه وه، د طعام په دوران کښے ما اوليدل چه حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لوښي په غاړو کښے د کدُّو ټکړے لټوي، حضرت انس رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْه فرمائي چه د کله نه ما اوليدل چه حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کدُّو دومره خوښوي، نو د هغه ورځے نه ما هُم د خپل ځان د پاره کدُّو خوښول شروع کړل. (بخاری، کتاب الاطعمة، باب المرق، ۳/۵۳۷، حدیث۵۴۳۶)

حکيمُ الامَّت حضرت مُفتـی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه د دے حديثِ پاك په شرح کښے فرمائي: د دے حديث نه يو څو مسئلے معلومي شوے: ۞ يوه دا چه د خپلو خادمانو او غلامانو دعوت قبلول پکار دي اګر چه هغوئي په درجه کښے کم وي. ۞ دويمه دا چه طعام خوړلو ته خادم ځان سره يو لوښي ته کښينول ډير ښه دي. ۞ دريمه دا چه کدُّو خوښول سُنَّت دي. ۞ خلورمه دا چه سُنَّتو سره مَحَبَّت کول د



www.dawateislami.net

صحابه کرامو طریقه ده. ۞ آخري فائده دا بیانوي چه خادم د خپل مخدوم مخے ته اېښودلو د پاره د لوښي نه پوټي یا کدو وغیره راټولولے شي. (مراۃ المناجیح،۶/۱۸-۱۹ملخصاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دے واقعے نه معلومه شوه چه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د زړه ساتلو د پاره د هغوئي دعوت قبلولو، دعوت ورکوونکے به که مالدار وو او که غریب، که کاروباري به ویو او که مزدور به وو خو هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ئے دعوت قبلولو او هلته به ئے تشریف وړلو بلکه که کوربه به څه د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخے ته پیش کړلو هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به به هیڅ د ناخوښئ اِظهار نه کولو او هغه به ئے خوړلو، د دے واقعے نه دا هم معلومه شوه چه کدو شریف د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیر خوښ وو او خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ډیر شوق سره کدو شریف خوړلو.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسکي کیدل

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په خبرو کولو کښے ضرورتاً مُسکي کیدل هُم زمونږه د خوږ مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے


www.dawateislami.net

سُنَّت او ډیر ښکلے انداز دے.

زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هُم قهقهه [یعني په زوره خندا] نه ده کړي بلکه همیشه به مُسکے کیدلو. (مراٰۃ المناجیح،42/4 ملخصاً) چنانچه اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي چه ما رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هُم په داسے خندا نه دے لیدلے چا ما دِ دهغوئي حَلق لیدلے وے ځکه چه هغوئي به صرف مُسکے کیدلو (بخاری،325/3،حدیث:4828) [یعني د خندا آواز به ئے نه ویستلو]

**د ګرځیدلو انداز مبارك:** خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه ګرځیدلو نو ښپے مبارکے به ئے کلکے [یعني مضبوطے] لګولے، لکه هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اوچتے نه ښکته طرف ته کوزیدونکے ښکاره کیدلو. (وسائل الوصول الی شمائل الرسول،ص60) په یو رِوایت کښے دي چه کله به نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګرځیدلو نو پوره قُوَّت سره به ګرځیدلو او د کاهِل [یعني سست] په شان به نه ګرځیدلو. ( سبل الهدیٰ والرشاد،الباب الثالث فی مشیہ،۱۵۹/۷)

**د پرنجي مبارك کولو انداز:** خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په اوچت آواز پرنجے کول ناخوښه ګڼړلو. چه کله به پرنجے ورغلو نو خُله مبارکه به ئے په کپړه یا یا لاس مبارك باندے پټه کړله. (وسائل الوصول الی شمائل الرسول، ص99)

**د آرام کولو انداز:** د **الله** تعالیٰ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اُوده کيدو وخت کښے خپل ښے لاس مبارك د رُخسار [يعني مخ مبارك] نه لاندے کيښودلو. (سبل الهدیٰ والرشاد، 253/7) او دا دُعا به ئے لوستله **اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا** يعني، اے **الله** زه ستا د نوم سره مړ کيږم او ژوندے کيږم (يعني اُوده کيږم او بيداريږم) او چه کله به راوِيښ شولو نو دا دُعا به ئے لوستله: **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُور** يعني د **الله** شُکر دے چا چه مونږه د مړ کيدلو نه پس ژوندي کړلو او هُم د هغه په طرف کرځيدل دي. (شمائل محمديه، ص157، حديث:243)

**د اوبو څښلو انداز:** خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اوبه په درے ساګانو کښے څښلے. (مسلم، ص863، حديث:5287)

**د خوشبو استعمال:** نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خوشبو خوښه وه (مراٰة المناجيح، 174/6)، د خوشبو تُحفه به ئے نه رَد کوله (شمائل محمديه، ص130، حديث:208) د مُشك و عَنبَر خوشبو به ئے استعمالوله (مواهبِ لدنيه، 70/2)

**آئنه کښے د کتلو انداز:** شَهَنشاهِ دوجهان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به آئنه کښے د کتلو په وخت کښے د الله پاك شُکر ادا کولو او دا دُعا به ئے لوستله: **اَللّٰهُمَّ كَمَا اَحْسَنْتَ خَلْقِیْ فَحَسِّنْ خُلُقِیْ** يعني يا الله څنګه چه تا زه

حَسِین جوړ کړے یم، دغسے زما خُلق هُم ښه کړے. (الوفا لابن الجوزی،161/2)

**د رانجو لګولو انداز:** تاجدارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اِثمَد رانجه لګولو (ترمذی، 294/3، حدیث:1763) خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په مُقَدَّسو سترګو کښے د رانجو درے درے سلائیان اِستعمالول (شمائل محمدیه، ص51، حدیث:49) او بعضے وخت به ئے د رانجو دوه دوه سلائیان استعمالول او [دریم ځل به ئے] یو سلائي [کښے رانجه راواخستل او وار وار په وار به ئے] دواړو سترګو مبارکو کښے اولګولو. (وسائل الوصول الی شمائل الرسول، ص77)

## د اَخلاقِ مُصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځرَکونه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د **سَیِّدُ الْمُرسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیِّین، جنَابِ رَحمةٌ لِّلعٰلَمِین** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اَخلاقِ حَسَنه یو څو نورے جهلکیانے واورو.

۞ د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر وخت د خپلے ژبے حِفاظت فرمائیلو او صرف د کار خبره به ئے کوله ۞ راتلونکو خلقو سره به ئے د مَحبّت سُلوك کولو، داسے څه خبره به ئے نه کوله چه د هغے نه نفرت پیدا کیږي ۞ د قوم د عِزّت مند کس لحاظ به ئے کولو او هغه به ئے د قوم سردار ټاکلو ۞ خلقو ته به ئے د اللّٰه تعالیٰ نه د یَریدلو

نصيحت کولو ۞ د صَحابهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د خير خبر تپوس به ئے کولو ۞ د خلقو د ښو خبرو صِفَت به ئے بيانولو او هغے ته به ئے تَقوِيَّت ورکولو، بد څيز ته به ئے بد وئيلو او په هغے باندے د عمل کولو نه به ئے منع کوله ۞ په هره معامله کښې به ئے د اِعتِدال (يعني درميانه انداز) نه کار اخستلو ۞ د خلقو د اصلاح نه به ئے کله هُم غَفلت نه کولو ۞ نبيِّ پاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ناسته ولاړه (يعني هر وخت) ذِكْرُ اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ کولو ۞ چه کله به ئے څه ځائے ته تشريف يوړو نو چرے به ئے چه ځائے اوموندلو هلته به کښيناستلو او نورو ته به ئے هم د دے تلقين [يعني نصيحت] کولو ۞ خپلے خوا ته د ناست کس د حقونو لِحاظ به ئے ساتلو ۞ د حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر اوسيدلو والا هر کس به دا ګنړله چه حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات زما سره محبَّت کوي ۞ چه څوك به ئے په خِدمتِ مبارکه کښې حاضِر شو نو د خبرو کولو والا سره به د هغه وخته پورے تشريف فرما وو تر څو به چه هغه پخپله لاړ نه شو ۞ چه کله به ئے د چا سره مُصافَحه کوله (يعني لاس به ئے ورکولو) نو مخکښې به ئے ترينه خپل لاس نه راښکلو ۞ سوالګر (يعني غوښتونکي) ته به ئے ورکړه کوله ۞ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سخاوت او خوش اخلاقي د هر يو د پاره عامه وه ۞ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مجلِسِ عِلم د برداشت، حيا، صبر او امانت مجلِس وو ۞ د



www.dawateislami.net

هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې به نه شور شغرب وو او نه به پکښې د چا بے عِزَّتي وه ۞ د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې به چه د چا نه څه خطا اوشوه نو هغه به ئے نه شُهره کوله (شمائِلِ ترمِذِی، ص۱۹۲، ۱۹۳وغیره مُلَخَّصاً) ۞ کله به چه د چا طرف ته مُتوَجِّه کیدلو نو پوره تَوَجُّه به ئے فرمائیله (شُعَبُ الْاِیمان حدیث۱۴۳) ۞ خوږ نبي سَرور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د چا مخ ته ځخ نه کتلو (اِحیَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۴۴۲) ۞ حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بتول [یعني بے واده جینئ] نه هم زیات حیادار وو (شمائِلِ ترمِذِی، ص۲۰۳) ۞ په سلام کولو کښې به مخکښې کیدلو (شُعَبُ الْاِیمان، حدیث۱۴۳) ۞ ماشومانو ته به ئے هُم سلام کولو ۞ چا به چه ورته غږ [یعني آواز کولو] نو په جواب کښې به ئے "لَبَّیْك" (یعني زه حاضِر یم) فرمائیلو (وسائِل الوصول ص۲۰۷) ۞ په مجلِس کښې د ناستو خلقو طرف ته به ئے ښپے مبارکے نه غزولي ۞ اکثر به مخ په قبله کښیناستلو ۞ د خپل ذات د پاره به ئے کله هم د چا نه بدله نه اغستله ۞ د بدئ بدله به ئے په بدئ د ورکولو په ځائے معاف کول اختیارول (احیاءُ الْعُلوم ج۲، ص۴۴۸، ۴۴۹) ۞ د اللّٰه تعالٰی په لاره کښې د جِهاد نه علاوه ئے کله هم څوك په خپل مبارك لاس نه دے وهلے، نه ئے یو غُلام وهلے او نه ئے یوه ښځه (یعني بي بي مبارکه وغیره) وهلي ده (شمائِلِ ترمِذِی، ص۱۹۷) ۞ په خبرو کښې به ئے نرمي وه (اِحیاءُ الْعُلوم ج۲، ص۴۵۱)، نبیِّ کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د اللّٰه تَعَالٰی په نِزد د قیامت په ورځ په خلقو

کښې د ټولو نه بد ھغه دے څوك چه د ھغه د بدکلامۍ په وجه خلق
پریږدي (صحیح مُسلِم ص، حدیث) ۞ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه خبرے کولي
نو (دومره په واره به وے چه) د لفظونو شمیرلو والا به شمیرلے شوي
(بُخاری حدیث۳٥٦٧) ۞ په طبیعت کښې ئے نرمي وه او ډیر خوشحاله
خوشحاله به اوسیدلو ۞ نه به ئے په غُصّه کښې په زوره زوره خبرے
کولي ۞ سختے خبرے به ئے نه کولي ۞ په چا به ئے عیب نه لګولو ۞
بُخل به ئے نه کولو ۞ خپل ذات مبارك به ئے خاص طور د درے
څیزونو، جګړے، تکبُّر او بیکاره خبرو نه ساتلو ۞ د چا عیب به ئے نه
لټولو ۞ صرف ھغه خبره به ئے کوله چه (د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حق
کښې به) د ثواب باعث وه ۞ د مسافر یا نا آشنا سړي د سختو خبرو په
تپوس به ئے هم صبر کولو ۞ د چا خبره به ئے نه کټ کوله، البته که
څوك به د حده تیریدو نو هغه به ئے منع کولو یا به د هغه ځائے نه
پاڅیدلو. (شمائِلِ تِرمِذِی، ص۱۹۹، ۲۰۰ مُلَخَّصاً) ۞ دومره سادګي به ئے اختیاروله
چه د ناستے د پاره ئے څه مخصوص ځائے هم نه وو ساتلے. (اَخلاقُ النَّبِی و
آدابه ص۱٥) ۞ کله په پزَګي او کله به ئے دغسے په زمکه آرام فرمائیلو.
(وسائِل الوصول ص۱۸۹) ۞ کله به ئے قَهقَهه نه لګوله (یعني په دومره آواز به
ئے نه خندل چه که بل څوك وي او هغه ئے واوري) (اِحیَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص٤٤٦)
۞ صَحابَۂ کِرَام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان فرمائي: حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه

زيات مُسکے کيدو والا وو (يعني د موقع په مناسبت) (احياءُ العُلوم ج۲، ص۴۵۳) حضرتِ عبدُالله بِن حارِث رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما د رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه زيات مُسکے کيدو والا څوك نه دے ليدلے. (شمائِلِ تِرمِذِی، ص۱۳۶)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هميشه رښتيا وئيل

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د خوږ نبی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نورو ښکلو ښکلو اندازونو په باره کښې واورو او د دے په اوريدلو مونږه هم کوشش اوکړو چه د خپل محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم انداز اختيار کړو.

د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ښکلے انداز **رښتيا** وئيل هُم دي، **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي: ”د دروغو نه زيات بل يو عادت د نبـي اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نِزد ناخوښه نه وو“.

(سنن الکبری للبیهقی، کتاب الشهادات، باب من کان منکشف ...الخ، ۱۰/۳۳۱، حدیث:۲۰۸۲۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دروغ نه خوښولو، نبـي کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په رښتياؤ باندے څومره مضبوط قائم وو، د دے اندازه تاسو د دے خبرے

نه لګولے شئ چه د اعلانِ نبوت نه مخکښے هُم خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مکه مُکَرمه کښے د **صادق** (یعني رښتیا وئیلو والا) په لقب مشهور وو او هغه خلق د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سخت دُښمنان وو هغوئي به هم د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رښتیا وئیلو ګواهي ورکوله، مونږ له پکار دي چه په دے مُعامَله کښے هُم د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نقشِ قدم روان شو، خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خپلو اُمتیانو ته هُم د رښتیا وئیلو، د امانت دارئ او دیانت دارئ ترغیب ورکولو او د دروغو نه ساتلو د پاره به ئے ورته "د دروغو وئیلو تباهیانے" بیانولي. راځئ چه د دروغو عادت ختمولو د پاره د فرامین مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په رنړا کښے د دے یو څو هلاکتونه واورو، چنانچه

## د دروغو عبرتناك انجام

☆ چه کله بنده دروغ اُووائي، نو د هغے د بدبوئي نه فرښته یو میل لرے لاړه شي. (ترمذی، کتاب البر والصله، باب ماجاء في الصدق والکذب، ۳/۳۹۲، حدیث:۱۹۷۹) ☆ دروغ وئیل د ټولو نه لوئي خیانت دے. (ابوداود، کتاب الادب، باب في المعاریض، ۴/۳۸۱، حدیث:۴۹۷۱) ☆ دروغ د اِیمان مُخالف دي. (مسند احمد، مسند ابي بکر الصدیق، ۱/۲۲، حدیث:۱۶) ☆ د خلقو د خندولو د پاره دروغ وئیوونکي د پاره بربادي ده. (ترمذی، کتاب الزهد، باب ماجاء من

تکلم بالکلمة...الخ،۴/۱۴۲،حدیث:۲۳۲۲) ☆ د خلقو د خندولو د پاره دروغ وئیلو والا د دوزخ دومره جور والي ته لویږي چه [د هغے جور والے] د آسمان او زمکے د مینځه فاصلے نه هم زیات دے. (شعب الایمان،باب في حفظ اللسان،۴/۲۱۳،حدیث:۴۸۳۲) ☆ دروغو وئیلو سره مخ توریږي. (شعب الایمان،باب في حفظ اللسان،۴/۲۰۸،حدیث:۴۸۱۳) ☆ د دروغو خبره کول کبیره ګناه ده. (معجم کبیر،۱۸/۱۴۰،حدیث:۲۹۳ ملخصاً) ☆ دروغ وئیل د منافق د نښو نه یوه نښه ده. (مسلم،کتاب الایمان،باب خصال المنافق،ص۵۳،حدیث:۲۱۰) ☆ دروغ وئیونکي به د قیامت په ورځ د الله کریم په نِزد د ټولو نه زیات ناخوښه خلقو کښے شامل وي. (کنز العمال،کتاب المواعظ...الخ باب الثانی فی الترهیبات،جز۲،۲/۳۹،حدیث:۴۴۰۳۷)

میں جُھوٹ نہ بولوں کبھی گالی نہ نِکالوں! الله مرَض سے تُو گناہوں کے شفا دے!

(وسائلِ بخشش مرمم،ص۱۱۵)

د دروغو او کنزلو مے اوساتے ګناهونو نه شفا را کړے مولٰی

## دروغ وئیل د مومِن شان نه دے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه رښتیا وئیل د نبي کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښے د ټولو نه خوښ عمل دے او دروغ وئیل ډیر ناخوښه عمل دے. خو شاید چه نن صبا زمونږه معاشره د دروغو وئیلو نه بغیر یو کار کولو ته هُم تیاره نه ده، لکه مونږه چه خپل



www.dawateislami.net

دا سوچ جوړ کړے وي چه ”**د دروغو نه بغير ګني يو کار هُم نه چليږي، يا [که دروغ اُو نه وائيو نو] د ژوند ټول نظام به برباد شي**“ هم دا وجه ده چه بعضے خلق ډير په فخر سره وائي چه ”يار د دروغو نه بغير ګزاره نه کيږي“. ”د دروغو نه بغير کار نه چليږي“. [اَستَغفرا الله]. حالانکه حقيقت دا دے چه د الله پاك او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نافرمانئ کولو کارونه نه سميږی بلکه ورانيږي، د الله و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نافرمانئ د ژوند نظام چليږي نه بلکه بربادیږي. لِهٰذا حقيقي مُؤمِنان جوړ شئ او هميشه ربنتيا وائے، که هر څنګه مصيبت راشي، که هر څنګه مشکلاتو کښے ګير شئ خو دروغ مه وائے، ځکه چه دروغ وئيل د يو مومن نارينه او زنانه شان نه دے. هم دا وجه ده چه زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: د مُومِن په فطرت کښے د خِيانت او دروغو نه علاوه هر خصلت (يعني عادت) کيدے شي. (مسند احمد، مسند بزار، ۸/۲۷۶، حديث: ۲۲۲۳۲) او د ټولو نه غټ خيانت دا دے چه ته خپل [مسلمان] ورور ته داسے خبره اوکړے چه هغه تا ربنتينے کنړي او ته هغه ته دروغ وائے.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## دولس مدني کارونو کښے يو مدني کار ”مَدرَسةُ الْمَدينه بالِغان“

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دروغ، غيبت، **چُغلي**، وعده خلافئ نه د بچ کيدلو او د نيکو جذبه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول

مدني تحريك **دعوتِ اسلامي** ښکلي ماحول کښې شامل شئ او د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې حِصَّه واخلئ.

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې يو د روزانه مدني کار "**مدرسةُ المَدينه بالغان**" هم ده. اَلْحَمْدُلِلّٰه د دے مدني کار بيشميره فائدے او برکتونه دي، مثلاً ☆ "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " د قرآنِ پاك لوستلو بهترينه ذريعه ده، ☆ "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " د لمَانځه، اوداسه او غُسل وغيره ضروري مسائلو زده کولو بهترينه ذريعه ده، ☆ په "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " کښې د حاضرئ په برکت ښه صحبت نصيب کيږي، ☆ د "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " په برکت د قرآن کريم لوستلو سعادت نصيب کيږي، ☆ د "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " په برکت ديني تربيت کيږي. ☆ د "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " په برکت په مدني انعاماتو د عمل کولو جذبه نصيب کيږي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه د "**مدرسةُ المَدينه بالغان** " په نوم د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** نه يوه رساله هم چاپ شوي ده، د دے رسالے د لوستلو په برکت به تاسو ته معلوم شي ☆ د قرآن کريم لوستلو فضيلت، ☆ د قرانِ کريم زده کولو د پاره د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان لرے لرے سفر کول، ☆ د صحيح قرآنِ


www.dawateislami.net

کریم لوستلو شرعي حکم، ☆ د مَدرَسۃُ الْمَدینه بالِغان 7 مقاصد، ☆ د مَدرَسۃُ الْمَدینه بالغان طالِبِ علم مُفتی څنګه جوړ شو؟

راځئ چه په **مدرسۃُ المَدینه بالغان** کښے د لوستلو په برکت مشتمل یو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د مدرسۃُ المَدینه بالغان برکت

د کراچئ اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه هغه مدني ماحول کښے شاملیدلو نه مخکښے په مختلفو ګناهونو کښے اخته وو، یو ځل په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښے د هغه د یو اسلامي ورور سره ملاقات اوشو چه هغه ورته په مَدرَسۃُ الْمَدینه **بالِغان** کښے د قرآن کریم لوستلو ترغیب ورکړو. هغه د هغه اسلامي ورور د مینے ډك انداز نه دیر متاثره شو او په مَدرَسۃُ الْمَدینه بالغان کښے د لوستلو د پاره تیار شو او پابندئ سره ئے په مَدرَسۃُ الْمَدینه **بالِغان** کښے شرکت شروع کړو. د مَدرَسۃُ الْمَدینه **بالِغان** په برکت ئے صحیح مخارجو سره قرآن کریم لوستل هُم زده کړو او په هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښے ئے شِرکت کول هُم خپل معمول جوړ کړو. د ګناهونو نه ئے توبه اوکړه او په قلاره قلاره په مدني ماحول کښے رنګ شو او یو څو کاله پس ئے د مُدَرِّس کورس کولو سعادت حاصل کړو او نورو ته مَدرَسۃُ الْمَدینه **بالِغان** لوستلو والا جوړ شو.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**



www.dawateislami.net

## د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږے خبرے

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** زمونږه د خوږ آقا مکي مدني مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ښکلے او ښائسته انداز دا هم وو چه هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د وقار نه ډك انداز کښے په قلاره قلاره خبرے کولے. چنانچه

اُمُّ المُؤمِنِین حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي چه خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ډیرے تیزئ سره زر زر خبرے نه فرمائیلي بلکه په قلاره قلاره به ئے کلام فرمائیلو، خبرے به دومره صفا واضحه وے چه اوریدلو والا به پرے پوهه شولو او هغه [خبرے] به ئے یادے کړے. که چرے اَهَمه خبره به وه نو کله کله به ئے درے درے ځله فرمائیله چه اوریدلو والا ئے ښه یاده کړي. خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به بے ضرورته خبرے نه کولے بلکه اکثر به خاموشه اوسیدلو.

(الشمائل المحمدیة، باب کیف کان کلام رسول الله، ص۱۳۴-۱۳۵، حدیث: ۲۱۳-۲۱۴-۲۱۵)

## د خبرو کولو متعلق یو څو اهم نکات

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د نبي کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو خبرو په باره کښے چه مونږه یو څو ښکلي ښکلي اندازونه

واوریدل د دے نه یو څو نکات حاصل شو. ☆ یوه نکته دا ده چه د خبرو کولو په وخت کښے آواز ډیر زیات تیز او زر زر نه وي پکار ځکه چه مخامخ کس ته په خبره پوهیدل مشکل شي. ☆ دویمه نکته دا ده چه کله هم خبرے کوئ نو چه آواز مو دومره کم نه وي چه مخامخ کس ته اُونه رسي یا هغه په خبره هډو پوهه نه شي. هُم دغسے خبرو کولو کښے دومر اوچت آواز هم نه دے پکار چه دریم کس ته ستاسو د خبرو کولو نه تکلیف اورسي یا پریشانه شي، چه کله هم خبرے کوئ په آواز کښے د اعتدال خاص خیال ساتئ چه مخامخ کس هم پوهه شي او بل دریم کس ته څه تکلیف هم اُونه رسي. ☆دریمه نکته دا حاصله شوه چه کله یو کس په خبره پوهول ضروري وي نو هغه خبره د یو ځل نه زیات ځله بیانولو کښے هُم څه باك نشته او په دے مقصد یوه جمله ډیر ځله وئیل په فضولو خبرو کښے نه شمیرلے کیږي بلکه څوك په ښه طریقه په خبره پوهه کولو د پاره او د هغه په ذِهن کښے اچولو د پاره خپله خبره د یو ځل نه زیات ځله وئیل زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے انداز دے. ☆ څلورمه نکته دا حاصله شوه چه بے ضرورته خبرو کولو نه ښه دا ده چه بنده خاموشه پاتے شي ځکه چه په فضولو خبرو کولو کښے هیڅ خیر نشته او فضول خبره اکثر د پښیمانتیا سبب

جوړيږي، زمونږه خوږ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اکثر خاموشه اوسيدلو خو د دے مطلب دا نه دے چه بنده دِ په ژبه ذِكْرُالله هُم نه کوي او د نيکئ دعوت ورکولو او د بدئ نه منع کولو په شان ښه کار نه هم ځان محرومه کړي.

## د خاموشئ نه څه مراد دے؟

حکيمُ الاُمَّت، حضرت مفتـي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تعالٰی عَلَيْه فرمائي: د خاموشئ نه مراد د دُنياوي خبرو نه خاموشي ده ګني حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپله ژبه مبارکه اکثر د الله پاك ذِکر کولو. (مراٰة المناجيح،۸/۸۱)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خاموشي خوښوله او بے ضرورته خبره به ئے نه کوله. که خپلے ژبے مبارکے ته به ئے حرکت ورکولو نو د **الله** پاك د ذِکر د پاره، د هغه د اَحکاماتو بيانولو د پاره، د خپلو بيبيانو د زړه ساتلو د پاره، د خپلو خوږو صحابه کرامو مَدَني تربِيَّت کولو د پاره، خلقو ته د نيکئ حکم کولو او د بدئ نه منع کولو د پاره، لِهٰذا مونږ له هم پکار دي چه د فضولو خبرو نه هر وخت ځان ساتو. راځئ چه د فضولو خبرو نه د بچ کيدلو په فضيلت کښے دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورو: چنانچه

## فرامينِ مصطفٰی

خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي:څوك چه په الله پاك او د قيامت په ورځ اِيمان لري هغه له پکار دي چه ښه خبره اوکړي يا خاموشه اوسي.

(مسلم ، كتاب الايمان ، باب الحث على اكرام الجار...الخ، ص۴۸، حديث:۱۷۴)

(2) خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بنده د هغه وخته پورے د اِيمان حقيقت نه شي موندلے ترڅو چه خپله ژبه (د فضولو خبرو نه) حِصاره اُو نه ساتي. (معجم اوسط ،۵/۵۵ حديث: ۶۵۶۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مجلس مدني چينل تعارُف

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د فضولو خبرو نه د بچ كيدلو او د ښو خبرو كولو جذبه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مدنی تحريك دعوتِ اسلامی مدني ماحول كښے شامل شئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه!د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامی دا وخت د 107 نه زياتو شُعبه جاتو په ذريعه د دين اسلام پيغام عامولو كښے مصروفِ عمل دے، په دے شعبو كښے يوه شُعبه "**مجلِس مدني چينل**" هم ده. په دے كښے شك نشته چه

په دے موجوده دور کښے میډیا ذِهن سازئ او کردار سازئ کښے یو اَهَم کردار لري، ډیر خلق د خپلو مخصوصو ګمراه کوونکو، باطلو نظریاتو او د بے حیائي خورولو د پاره شپه او ورځ د دے غلط استعمال کوي، چه د هغے په وجه نوے نسل د دے په بدو اثراتو کښې ګرفتار دے. په داسے حالاتو کښے د هر دردمند زړه لرونکي بس دا یو آواز وو چه کاش! د میډیا په دے جنګ کښے څوك د عقائدِ اَهلِسُنَّت د پاسبانئ بیراغ اوچت کړي او د سوچ و فِکر د پاکئ او طهارت او د عقائد و اعمالو د اصلاح عَلَمبردار یو خالص سل فیصده اسلامي چینل شروع کړي. د دعوتِ اسلامي مرکزي مجلس شوری دا خبره ډیره زیاته محسوسه کړه بس صرف یو صورت ښکاره شو او هغه داچه څنګه چه په دریاب کښے چپے راپورته شي نو د هغے مخ د پټو وغیره طرف ته ګرځولے شي چه پټي هم اوبه شي او آبادئ هم د تباهئ نه بچ کړے شي بالکل هم دغسے د T.V په ذریعه د مسلمانانو په کوروںو کښے د داخلے سبب جوړ کړے شي او هغوئ د غفلت نه رابیدار کړے شي او د ګناهونو او د ګمراهیانو د سیلاب نه هغوئ خبردار کړے شي. کله چه دا معلومه شوه چه خپل داسے T.V چینل شروع کول ممکن دي چه په هغے کښې د فلمونو، ډرامو، سندرو، باجو، سازونو او د زنانه د ښودلو نه بچ کیدل او 100 فیصد اسلامي مواد

ښودل ممکن دي نو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي **مرکزی مجلسِ شوریٰ** په ډیرو زیاتو کوششونو د رَمَضَانُ الْمُبَارَك 1429ھ (بمطابق2008ء) نه د **مَدَني چینل** په ذریعه کور په کور د سنّتونو پیغام عام کول شروع کړل او ډیر زر د دے حیرانوونکي مَدَني نتیجے راتلل شروع شوے او خلق د سُنَّتو پابند جوړ شو. مونږ ټولو له مدني چینل کتل پکار دي او نورو خلقو ته هم د دے ترغیب ورکول پکار دي.

د **مدني چینل** کتلو ډیرے فائدے دي. **مدني چینل** کتلو سره دیني معلومات حاصلیږي. **مدني چینل** کتلو سره د عمل جذبه بیداریږي، **مدني چینل** کتلو سره کردار ښه کیږی. **مدني چینل** کتلو سره په کور کښے مدني ماحول جوړیږی. **مدني چینل** کتلو سره د ګناهونو نه ډك چینلو نه د بچ کیدلو ذِهن جوړیږي. **الله** پاك دِ د دعوتِ اسلامي هرے شُعبے ته ډیره ترقي ورکړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مَدَنی چینل کی مُہم ہے نفس و شیطاں کے خلاف　　جو بھی دیکھے گا کرے گا اِنْ شَآءَ اللہ اِعْتِراف
(وسائلِ بخشش مرمم ص ۶۳۲)

د مدني چینل مهم دے د نفس او شیطان خِلاف
خوك چه ئے اوګوري کوي به اِن شآءَ الله اِعتراف

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښے د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښے زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښے مے خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د ناستے يو څو سنتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د ناستے يو څو سنتونه او آداب واورو:

۞ سُرِين په زمکه لګوئ او دواړه زنګونان اودروئ او دواړه لاسونه ترينه چاپيره کوئ او په يو لاس بل لاس نيسئ، داسے کښيناستل سُنَّت دي.

(خو په دے دوران کښے په زنګونانو د پاسه څادر وغيره خورول مناسب دي) (مِراةُ المناجيح ج. ص)

۞ پرلت وهل هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي.

۞ کوم ځائے کښے چه څه لمر او څه سورے وي هلته مه

کښینئ. د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دے چه د **الله** تعالیٰ **محبوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ”چه کله په تاسو کښے څوك په سَوري کښے وي او د هغه نه سَورے رُخصت شي او هغه په څه لـمر او څه سوري کښے پاتے شي نو هغه ته پکار دي چه د هغه ځائے نه پاڅي.“ (سُنَنُ اَبی داوٗد، کتاب الادب باب فِی الجلوس بین الظل والشمس، الحدیث: ، ج، ص)

۞ مخ په قبله کښینئ. (رَسائل عطّارِیّه، حصّه، ص)

۞ **د بزرګانو په نشست** [يعني د ناستے په ځائے] کښيناستل د ادب خلاف دي.

**اعلیٰ حضرت** اِمام اَحمد رضا خان عَلَیۡہِ رَحۡمَۃُ الرَّحۡمٰن لیکي: د پیر او اُستاذ په **نِشَست** [يعني د ناستے په ځائے] دِ د هغوئي په غیر موجودګئ کښے هُم نه کښیني. (فتَاوٰی رَضَوِیّه، ج، ص، )

۞ کوشش کوئ چه د کښیناستلو پاڅیدلو په وخت کښے مو د بزرګانِ دِین طرف ته نه شا کیږي او ښپے خو بالکل د هغوئي طرف ته مه کوئ.

۞ چه کله اجتماع یا مجلس ته لاړ شئ نو د مخکښے تللو د پاره په **خلقو د پاسه مه اوړئ** چه چرته ځائے وي هلته کښینئ.

۞ **چه کله کښینئ نو پیزار اُوباسئ** ستاسو ښپے به آرام مومي. (اَلجامِعُ الصَّغِیر، الحدیث، ص)

۞ د مجلس نه چه فارِغ شئ او دا دُعا درے ځله اولولئ نو ګناهونه به مو معاف شي. او کوم مسلمان ئے چه مجلِسِ خیر او مجلِسِ ذکر کښے

اولولي نو د هغه د پاره به په هغه خير مُهر اولګولے شي. هغه دُعا دا ده: ”سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ اَسۡتَغۡفِرُكَ وَاَتُوۡبُ اِلَيۡكَ“ **تَرجَمَہ:** ستا ذات پاك دے او اے الله! هُم تا لره دي ټول صِفتونه، ستا نه سوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته، ستا نه بخښنه غواړم او ستا طرف ته توبه کووم. (سُنَنُ اَبی داوٗد، کتاب الادب، باب فِی کفارۃ المجلس، الحدیث: ۴۸۵۷، ج۴، ص۳۴۷)

۞ چه کله يو عالِم باعمل يا مُتَّقي کس يا سيِّد صاحب يا مور او پلار راشي نو **تعظيماً** [يعني ادباً] **اودريدل ثواب دے.**

**حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ليکي: د بزرګانو په راتلو دا دواړه کارونه يعني تعظيمي قيام او استقبال جائز بلکه سُنَّتِ صحابه دي بلکه د حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتِ قولي دي. (مِراٰۃُالمناجیح ج، ص۰)

اے زمونږه خوږه **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د ناستے ولاړے په سُنَّتو او آدابو د عمل کولو توفيق راکړے. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه** دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب ”سُنَّتیں اور آداب“ هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښے عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

**صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# د راروانے هفته وارے اجتماع د بیان جهلکیانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بیان موضوع به وي د "**د نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **جِسماني طاقت** " د رَبِیۡعُ الۡاَوَّل د مبارکے میاشتے برکتونه جاري دي، هر طرف ته د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعتونه دي او هر طرف ته د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کمالاتو تذکِرے جاري دي، په دے مناسبت به د راروانے هفتے په بیان کښے د **حُضُورِ پُرنور** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جسماني طاقت په باره کښے واقعات او حکایات او ډیر اَهَمے خبرے بیانیږي.

لِهٰذا د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره رراوان زیارت له هُم اجتماع کښے د حاضریٔ نِیَّت اوکړیٔ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِیَّت هُم اوکړیٔ. لاس اوچت کړیٔ او په زوره اُووائے. اِنۡ شَآءَاللّٰه

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښے د داخلیدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځۍ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دے چه تاجدارِمدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښے او که ناست وو نو اودریدو نه مخکښے به د هغه

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مينځ کښے کښينولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم حيران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[3] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چه د ووه وارو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث: ۴۴۱۵

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# ټول قرآن د حُضُور ﷺ نعت دے

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

**نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي وروڼړو!** چه كله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چه جُمات كښے ئے نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښے د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِكاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چه مقصد د **الله** تعالىٰ رِضا وي. **"فتاوىٰ شامى"** كښے دي: كه څوك جُمات كښے خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِكۡرُ الله اوكړي بيا چه څه غواړي كوي دِ (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي)

# د دُرُود شريف فضيلت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دُرُود شريف دومره بيشميره فضائل او بَرَکات دي چه قلمونه او سياهي به په ليکلو ليکلو ختم شي، د بيان الفاظ به ختم شي خو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے د درود شريف لوستلو برکتونه او فضيلتونه به ختم نه شي. ياد ساتئ چه دُرُود شريف يو داسے عمل دے چه دا عمل پخپله **الله** رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ شَانُهٗ هُم کوي، چنانچه قرآنِ کريم، دوه ويشتمه سيپاره آيت نمبر ۵۶ کښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي:

**اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا(۵۶)**

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: بيشکه **الله** او د هغه فرښتےدُرُود ليږي په هغه عيب ښودونکي (نبي) باندے، اے ايمان والؤ په هغوئي دُرُود او ډير سلام اوليږئ.

**اے عاشقانِ رَسُول!** معلومه شوه چه ۞ **الله** پاك او د هغه فرښتے په نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے دُرُود ليږي. ۞ دا آيتِ مبارکه د حُضُور **سَيِّدُ الْمُرسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيّين، جنابِ رَحمةٌ لِّلعٰلمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَريح [يعني واضحه] نعت دے ۞ په دے آيت کښې مسلمانانو ته په خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے د دُرُود و سلام وئيلو حُکم ورکړے شوے دے ۞ دا هُم معلومه شوه چه صرف په خوږ نبي آخرُ الزَّمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندے دُرُود ليږل هغه عمل دے چه الله پاك ئے هم کوي او فرښتے ئے هُم کوي

او مومنانو ته هُم د هغے حُكم وركړے شوے دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښے ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز كار كښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدو نيتونه

نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ☆ چه څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شكل كښے ] كښينم ☆ د بل د پاره ځائے فراخه كولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزيږم ☆ كه د چا په دِيكه وغيره اولګيدم نو د بد بد كتلو، رټلو او بحث كولو په ځائے به صبر كووم. ☆ صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب، اُذْكُرُوا الله، تُوبُوا اِلَى الله وغيره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونكو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت

[1] (معجم كبير سهل بن سعد الساعدي...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢)



www.dawateislami.net

آواز باندے جواب ورکووم. ☆ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښے کیږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** نن زموږ د بیان موضوع ده " **تهول قرآن د حُضُور ﷺ نعت دے**" په دے کښے به موږه بیانوو د حُضُورِ نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خُلقِ عظیم. شان و عظمت، فضائل و برکات او هغه خصوصیات کوم چه په قرآنِ کریم کښے بیان شوي ده ، مثلاً په قرآنِ کریم کښے بعضے ځائے کښے هغوئي ته شفاعت کولو والا وئیلے شوے دے، بعضے ځائے کښے ورته **سِراجاً مُّنِيْراً** وئیلے شوے دے. بعضے ځائے کښے ورته **يٰس** او **طٰه** وئیلے شوے دے، بعضے ځائے کښے ورته **مُزَّمِّل** او **مُدَّثِّر** وئیلے شوے دے، الغرض **الله** پاك خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته بیشمیره اوصاف او خصوصیات ورکړي دي، د دے مُتَعَلِّق به اورو. اے کاش! چه موږ ته تهول بیان د ښو ښو نیتونو او مکمل توجه سره د اوریدلو سعادت رانصیب شي. راځئ چه د عَظَمتِ مُصطَفٰی نه ډك یو څو واقعات واورو: چنانچه

## په دربارِ رسول کښې حاضریدلو والا او بخښلے شو

اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِين حضرتِ سَیِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْه فرمائي چه د

حُضُور نبئ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وصال ظاهري نه درے ورځے پس يو اَعرابي [د عربو د يو کلي اوسيدونکے] مسلمان د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په روضه مُقَدَّسه حاضر شو او قَبۡرِ انور نه ئے غيږه تاؤ کړه، بيا ئے څه خاوره په خپل سر واچوله او داسے عرض ئے اوکړو: **يا رسولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو چه څه فرمائيلي دي په هغے مونږه ايمان راوړے دے. الله پاك په تاسو قرآن پاك نازل کړے دے چه په هغے کښے ئے ارشاد فرمائيلے دے:

**وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ جَآءُوۡكَ فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ وَاسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ الرَّسُوۡلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيۡمًا ﴿۶۴﴾**

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او که هغوئي په خپلو ځانونو ظُلم اوکړي، نو اے محبوب! ستاسو په دربار کے حاضر شي او بيا د الله نه مُعافي اوغواړي او رسول د هغوئي شفاعت اُوفرمائي نو ضرور به **الله** ډير توبه قبول کوونکے مهربانه اُومومي. (پ۵، النسآء: ۶۴)

نو **يا رسولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما (د ګناه کولو وجه) په خپل ځان ظلم کړے دے ځکه زه ستاسو دربار ته راغلے يم چه تاسو زما په حق کښے د بخښنے دُعا اوکړئ. د اَعرابي د دے فرياد په جواب کښے د حضور

اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبرِ انور نه آواز راغلو: اے اَعرابي! ته اُوبخښلے شوے. (وفاء الوفاء للسمهودی، الفصل الثانی فی بقية ادلة الزيارة... الخ، ۲/۱۳۶۱)

امامِ اهلسنت، شاه احمد رضا خان رَحمَۃُ اللہِ تعالٰی عَلَیه څه ښه فرمائي:

مجرم بُلائے آئے ہیں جَاءُوْكَ ہے گواہ
پھر رد ہو کب یہ شان کریموں کے در کی ہے

مومن ہوں مومنوں پہ رؤف و رحیم ہو
سائل ہوں سائلوں کو خوشی لَاتَنْهَر کی ہے

منگتا کا ہاتھ اٹھتے ہی داتا کی دَین تھی
دُوری قبول و عرض میں بس ہاتھ بھر کی ہے

اُف بے حیائیاں کہ یہ مُنہ اور تِرے حضور
ہاں تُو کریم ہے تِری خُو در گزر کی ہے

جاؤں کہاں پکاروں کسے کس کا منہ تکوں
کیا پرسش اور جا بھی سگِ بے ہنر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص۲۲۸، ۲۲۶، ۲۰۵، ۲۱۲)

**د شعرونو مختصر وضاحت:** (۱) د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې مجرمانو ګنهګارو ته د حاضرئ دعوت ورکړے شوے دے نو د ګنهګارو توبه به ضرور قبليږي. د کرم کولو والؤ [سخيانو] دا شان نه دے چه هغوئي خپلے دروازے ته راتلونکي سوالګر ته انکار اوکړي او تش لاس ئے اوليږي. (۲) زه ګنهګار يم خو مومِن يم او تاسو په مؤمنانو باندے مهربانه او رحم کولو والا ئے، زه ستاسو د در سوالګر يم، الله پاك په قرآنِ پاك کښې فرمائيلي دي: وَاَمَّا السَّآىِٕلَ فَلَا تَنْهَرْؕ﴿۱۰﴾ يعني اے حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! سوالګر مه رټه. (۳) سوالګر چه څنګه تاسو ته لاس خور کړي نو تاسو هغوئي ته ډير زيات عطا کوئ څکه چه په غوښتلو او ورکړه کښې

صرف د لاسونو خوړولو همره ساعت وي. (٤)افسوس! زما په شان بے حیا، مخ تورن ستاسو په خدمت کښې د حاضرئ جُرأت چرته کولے شي، خو تاسو کریم ئے او مُعافي کول ستاسو عادت مبارك دے. ( ) او كه زه ستاسو دربار پرېږدم نو چرته لاړ شم، ستاسو نه علاوه به څوك ما خوا ته پرېږدي او زما په شان د بے کاره کس د حال تپوس به څوك اوکړي.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان شوي واقعے نه معلومه شوه"چه څوك په ژړا سوال اوکړي د هغه کار کیږي" هغه اعرابي اوژړل، د خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې د هغه ژړا او بے قراري او فریاد کول او د حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې اوښکے بَهَیَول د هغه په کار راغلل او د غلامانو د حال نه خبردار آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته د بخښنے زیرے ورکړو. معلومه شوه چه په بارګاه مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې نن هم د بخښنے انعامونه تقسیمیږي، نن هم ګنهګارانو ته د رحمت په لمَن کښې پناه ورکوي، نن هم د بے آسره اُمَّتیانو مدد کوي، نن هم د غمزپلو غمرازي کوي او نن هم د حاجتمندو حاجتونه پوره کوي. مونږ له هم پکار دي چه د دے پاك در حاضرئ د پاره بے قراره اوسو.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## ټول كثرت هغوئي ﷺ ته وركړے شوے دے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** كه قرانِ كريم د اِيمان په نظر اوكتلے شي نو په دے كښے ځائے په ځائے د سرورِ كائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ښكاري، كه قرانِ كريم د محبتِ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر اوكتلے شي نو د دے په هر هر حَرف كښے د نبـي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف دے، كه قرانِ كريم د اِطاعتِ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر اوكتلے شي نو ځائے په ځائے پكښے د رسولِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان و عظمت ښكاري، الغرض كه د الله پاك حَمد و ثنا وي يا د عقائدو آيتونه، كه د تيرو انبياؤ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام واقعات وي او كه د هغوئي د اُمَّتونو احوال، د قرآنِ كريم هره يوه موضوع كښے د محبوبِ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف موجود دي. الغرض! ټول قرآن پاك د حُضُور اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت او شان بيانوي. چنانچه

الله پاك په سيپاره ۳۰ سورۀ كوثر آيت نمبر۱ كښے داسے ارشاد فرمائي:

**اِنَّاۤ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَؕ(۱)** (پ۳۰، الكوثر:۱)

مفهوم تَرجَمۀ كنزُ الايمان: اے محبوب (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) بيشكه مونږه تا ته بيشُميره صفتونه دركړي دي.

حضرت عَلَّامه مولانا مفتي محمد نعيمُ الدِّين مُـراد آبادى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى



www.dawateislami.net

عَلَيه د دے آيت کريمه لاندے فرمائي: (اے محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بيشکه مونږه تا ته بيشميره صفتونه درکړي دي) او ډير فضائل مو درکړي دي، په ټول مخلوق کښے مو افضل جوړ کړے ئے، ظاهري حُسن مو هُم در کړے دے، باطني حُسن مو هم (درکړے دے)، اعلیٰ نسب مو هم در کړے دے او د نُبُوَّت اعلیٰ مرتبه هم، د حوضِ کوثر (په شان عظيم نعمت) مو هم (در کړے دے او) مقامِ مَحمود هم، ډير زيات اُمَّت هم (ستاسو حصه ده او) په دښمنانِ اسلام باندے غلبه مو هم (تاسو ته عطا کړي ده)، کثرت سره فتوحات هم (ستاسو لپاره دي) او بيشميره نعمتونه او فضيلتونه (مو تاسو ته داسے عطا کړي دي) چه د هغے حد نشته. (خزائن العرفان، ص:۱۱۲۲، ملخصاً)

اعلیٰ حضرت امامِ اَهلِسُنَّت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل نعتيه کلام کښے هم دے خبرے ته اشاره کوي، فرمائي:

رب ہے مُعطِی یہ ہیں قاسِم　　　رزق اس کا ہے کھلاتے یہ ہیں
اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَر　　　ساری کثرت پاتے یہ ہیں

(حدائقِ بخشش، ص۴۸۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کوثر نه څه مراد دي؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په سورهٔ کوثر کښے موجود

لفظ ''اَلْکَوْثَر'' د ''کثیر'' نه مبالغه ده، یعني ''ډیر خیر، ډیره ښیګړه'' ''اَلْکَوْثَر'' چه د کوم لفظ نه جوړ دے هغه دے ''کثیر''، او د ''کثیر'' ضِد ''قلیل'' [یعني کم] دے. مونږه د الله پاك قلیل [یعني کم] څیزونه نه شو شمیرلے نو د کثرت حساب به څنګه اولګوو، ځکه چه الله پاك په سیپاره سورۃ نسآءآیت نمبر ۷۷ کښے ارشاد فرمائي:

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْیَا قَلِیْلٌ ۚ [مَفہُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے حبیب! تاسو اوفرمائے چه د دُنیا ساز و سامان لږ شان دے. (پ:۵،النساء:۷۷)

**اے عاشقانِ رسول**! اوس لږ غور اوکړئ! د دُنیا سامان څومره دے؟ په دُنیا کښے ځناور، ونے بوټي، بے ساه څیزونه، دا ټول څیزونه په لکونو، کروړونو، اربونو، کربونو دي او دا د دُنیا سامان دے او مونږه دا هیڅ کله نه شو شمیرلے، چه د دُنیا دے ټولو څیزونو ته الله پاك د کثیر په ځائے قلیل [یعني لږ شان] وئیلے دے نو د هغه فضائلو او کمالاتو د عظمت او زیاتوالي څوك هډو اندازه نه شي لګولے کوم چه الله پاك خپل حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عطا کړي دي. ځکه چه د هغے د پاره لفظِ کثیر نه، بلکه لفظِ کوثر بیان شوے دے یعني کثیر در کثیر [یعني ډیر زیات] (یعني داسے زیاتوالے چه څوك ئے اندازه نه شي لګولے) ښکاره خبره ده چه د ربِّ کریم په نِزد چه کوم څیز قلیل دے مونږه هغه نه شو شمیرلے نو کوم

فضائلِ نبوي چه د کثير [يعني ډير] نه هم زيات يعني کوثر دي، هغه څوك شميرلے شي؟ نو معلومه شوه چه [مخلوقاتو د پاره] د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فضائلو هيڅ حد نشته. (مقامِ رسول، ص:۱۴۱تا۱۴۲ ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ستا د نوراني مخ قَسم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ په قرآنِ پاك کښے بيان شوو د نبـي اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعريف او اوصافو په باره کښے بيان اوريدلو، اللّٰه پاك په خپل پاك کلام کښے د خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قِسم قِسم صفتونه بيان کړي دي. بعضے ځائے کښے په ډيرو آيتونو کښے د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت موجود دے او بعضے ځائے کښے پوره پوره سورت د محبوب اوصاف بيانوي، بعضے ځائے کښے ئے د محبوب د قدمونو سره د لګيدلي خاورے قسم بيان کړے دے نو بعضے ځائے کښے ئے د محبوب د ښار قسم بيان کړے دے. بعضے ځائے کښے ئے د محبوب سره نسبت لرونکو څيزونو عظمت او اوچتوالے بيان کړے دے. بعضے ځائے کښے ئے د محبوب د مبارك مخ قسم بيان کړے دے، بعضے ځائے کښے ئے د محبوب د لمُونځونو قسم بيان کړے دے نو بعضے ځائے کښے ئے د محبوب د شپے په تِياره کښے عبادت کول بيان کړي دي. الغرض پوره کلامِ

اِلٰهي د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف بيانوي.

سُوْرَةُ الضُّحٰی اوګورئ دا مکمل سورت د حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په صفت مشتمل دے. خاص طور د دے وړومبنو دوه آيتونو کښے خوئے ډير په ښکلي انداز کښے د مصطفٰی کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، مبارک مخ ته د څاښت سره او مبارکو زُلفو ته د شپے د تِيارے سره تشبيه ورکړي ده، چنانچه

الله تعالٰی ارشاد فرمائي:

وَالضُّحٰیۙ(۱) وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰیۙ(۲) (پ:۳۰، الضحیٰ:۱،۲)

مفهوم تَرْجَمَهٔ کنز الايمان: د څاښت قسم او د شپے چه کله پرده خوره کړي.

په دے آيتونو کښے د څاښت او د شپے د تِيارے نه څه مراد دے؟ د دے په باره کښے د مفسرينو او علمائے کرامو مختلف اقوال دي. راځئ چه د هغے نه څه واورو. چنانچه

عاشقِ رسول حضرت علامه سيِّد محمود آلُوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په تفسير "رُوحُ المَعَانی" کښے ليکي:

1. "وَالضُّحٰی" نه مراد د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څاښت د لمانځه قسم او "وَاللَّيل" نه مراد د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تَهَجُّد د لـمانځه قسم دے.



www.dawateislami.net

2. ”وَالضُّحٰی“ نه مراد د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحالئ د وخت قسم او ”وَاللَّيل“ نه مراد د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم د وخت قسم.

3. ”وَالضُّحٰی“ نه مراد د هغه وخت قسم دے چه کله به آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلقو سره ملاقات کښے مشغول وو او ”وَاللَّيل“ نه مراد د هغه وخت قسم دے چه کله به د شپے په تنهائي کښے خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاك په عبادت کښے مصروف وو. (روح المعانی،الجزء:۳۰،ص۵۲۱)

او حضرت سیِّدنا امام فخر الدین رازي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي:

4. ”وَالضُّحٰی“ نه مراد د خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کمالِ عقل قسم او ”وَاللَّيل“ نه مراد د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنیا نه د ظاهري وفات قسم.

5. ”وَالضُّحٰی“ نه مراد د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُورِ عِلم قسم چه پټ غیبونه هم پرے ظاهرېږي او ”وَاللَّيل“ نه مراد د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه غیب کوم چه پټ دي.

6. ”وَالضُّحٰی“ نه مراد: د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اهلِبیتو د نارینۀ قسم او ”وَاللَّيل“ نه مراد د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اهلِبیتو د زنانۀ قسم.



www.dawateislami.net

7. ”وَالضُّحٰی“ نه مراد د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوراني روښانه مخ قسم او ”وَاللَّیل“ نه مراد د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تورو زلفو قسم. (تفسیر کبیر، ۱۱/۱۹۱ماخوذاً)

اعلیٰ حضرت امام اَهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دے آخري تفسیري قول طرف ته اشاره کوي او فرمائي:

ہے کلامِ الٰہی میں شمس و ضحیٰ ترے چہرۂ نور فزا کی قسم
قسمِ شبِ تار میں راز یہ تھا کہ حبیب کی زُلفِ دوتا کی قسم

(حدائقِ بخشش، ص۸۰)

**د شعر وضاحت:** اے زما آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! قرآن مجید کښے چه **الله** پاك **وَالشَّمْسِ وَضُحٰـهَا** فرمائیلي دي نو هغه الله پاك ستاسو د نوراني مخ قسم بیان کړے دے او **وَالَّیْل** فرمائیلو باندے ئے ستاسو د ښکلو تاو شوو تورو زلفو قسم بیان کړے دے.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! الله پاك څنګه په ښکلي انداز کښے د خپل خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه نوراني مخ او ښکلو ښائسته زُلفو قسم فرمائیلے دے، صرف دا نه بلکه **الله** پاك په قرآنِ کریم کښے د خپل **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اداګانے او هغوئي

سره د تعلق لرونکو مختلفو څیزونو قسم هم بیان کړے دے. راځئ چه واورو.

الله پاك د خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو او ښکلو خبرو قسم داسے فرمائیلے دے: وَ قِیْلِهٖ یٰرَبِّ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ (پ۲۵، الزخرف:۸۸) **مفهوم تَرْجَمَۂ کنزالایمان:** زما د محبوب د دے وینا قسم چه اے زماربه! دا خلق ایمان نه راوړي.

الله پاك د خپل محبوب کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارك عمر قسم هم فرمائیلے دے: **لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِیْ سَكْرَتِهِمْ یَعْمَهُوْنَ ﴿۷۲﴾** (پ۱۴، الحجر:۷۲) **مفهوم تَرْجَمَۂ کنزالایمان:** اے محبوب! ستاسو د عُمر قسم بیشکه هغوئي په خپله نشه کښے سرګردانه دي.

الله پاك د خپل خوږ محبوب کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُقَدَّس ښار قسم فرمائیلے دے: **لَاۤ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۱﴾** (پ۳۰، البلد:۱) **مفهوم تَرْجَمَۂ کنز الایمان:** زما دِ قسم وي د دے ښار.

الله پاك د نبي کریم، رسولِ عظیم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمانے مبارکے قسم فرمائیلے دے: **وَ الْعَصْرِ ﴿۱﴾** (پ۳۰، العصر:۱) **مفهوم تَرْجَمَۂ کنزالایمان:** د دے محبوب د زمانے قسم.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب!** **صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# دولس مدني كارونو كښے يو مدني كار ”چوك درس“

خوږو او **مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د دعوتِ اسلامي په مدني ماحول كښے د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان و عظمت بيانيږي، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** په دے ماحول كښے د خلقو په زړونو كښے **محبتِ** رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا كيږي. تاسو هم پخپلو زړونو كښے د **محبتِ** رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمع روښانه كولو د پاره د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول كښے شامل شئ او د ذِيلي حلقے په دولسو مدني كارونو كښے په اخلاص سره خپل كردار ادا كړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ.

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو مدني كارونو كښے يو د روزانه مدني كار **”چوك درس“** هم دے. د دے مدني كار بيشميره فائدے دي، مثلاً ☆ **”چوك درس“** مسلمانان د بدو (كارونو) نه د بچ كولو ذريعه ده، ☆ **”چوك درس“** بيلمانځه لمُونځ گزاره جوړوي، ☆ **”چوك درس“**جمات ته نه راتلونكي جمات ته نِزدے كوي، ☆ د **”چوك درس“** په بركت د نيكو رَغبَت پيدا كيږي، ☆ د **”چوك درس“** په بركت په علاقه كښے مَدَني كارونه ترقي كوي. ☆ **”چوك درس“** د لمُونځو د پابندئ د سوچ

ورکولو نه علاوه د عِلمِ دین د ډیرو خبرو زده کولو ذریعه ده. راځئ چه د ترغیب د پاره د چوك درس یو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د چوك درس په برکت زما اصلاح اوشوه

د لائنز ایریا (کراچي) په یوه کوڅه کښے ولاړ د دعوتِ اسلامي یو عمامے والا اسلامي ورور یواځے چوك درس ورکولو، یو کس چه هغه د دین نه عملي طور دومره لرے وو چه شنے عمامے والؤ نه خو به لرے تښتیدلو خو چه هغه اسلامي ورور ئے یواځے په درس ورکولو اولیدلو نو پته نشته چه ولے ئے زړه نرم شو او هغه په چوك درس کښے شریك شو، په چوك درس کښے شریك کیدل د هغه د اصلاح سبب اوګرځیدل او هغه مدني ماحول کښے شامل شو، د دے بیان ورکولو وخت کښے اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه علاقائي سطح باندے د مدني انعاماتو ذمه دار دے، یوه ورځ هغه وه چه هغه د شنے عمامے والؤ نه لرے تښتیدلو خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه نن د هغه په سر هم د عِمامے شریفے تاج ځلیږي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د دُنیا دستور دے چه کله بادشاه په خپلو درباریانو کښے چا باندے خپل خاص عنایتونه کوي نو هغه ته داسے خاص خاص انعامات ورکوي، چه د هغے په وجه د هغه

مرتبه او قدر د هر کس په نظر کښے زيات شي او د هغه حيثيت د نورو نه بالکل ښکاره او جدا شي او هغه کمالونه او مرتبے چه نورو خلقو ته هُم ورکړے شوي وي نو بادشاه خپلو خاصو درباريانو ته هغه [کمال او مرتبے] ورکولو سره سره نورے ډيرے ښے ښے مرتبے هُم ورکوي دغه شان الله پاك خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د ټولو مخلوقاتو نه زيات انعامونه [کمال او مرتبے] ورکړي دي او په خپلو خاصو مهربانو ئے ډير ډير شرف ورکړے دے او په قرآن کريم کښے **ربِّ** کريم په مختلفو مقاماتو کښے د مختلفو الفاظو په ذريعه د خپل حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه بيان کړي دي، چنانچه

☆ په **سُوْرَةُ الفَتْح** آيت نمبر ۲۹ کښے خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "**مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه**" وئيلے شوي دي، ☆ په سورۂ آلِ عمرٰن آيت نمبر ۳۳ کښے هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "**مصطفٰى**" وئيلے شوے دے، ☆ په سورۂ آلِ عمرٰن آيت نمبر ۱۷۹ کښے ورته "**مُجتبٰى**" وئيلے شوے دے، ☆ په سورۂ جِن آيت نمبر ۱۵ کښے هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د "**مرتضٰى**" په لقب ياد شوے دے، ☆ په سورۂ بنی اسرائيل آيت نمبر ۱ کښے ورته "**عَبدِ کامل**" وئيلے شوے دے ☆ سورۂ مائده آيت نمبر ۱۵ کښے هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى



www.dawateislami.net

عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "**نُور**" وئيلے شوے دے. ☆ په سورۀ نِسآء آيت نمبر ١٧٤ کښے ورته "**بُرهان**"سورۀ اَحزاب آيت نمبر ٤٥ کښے ورته "**حاضر و ناظر**"، "سراج منير" او "دَاعِيًا اِلَى اللهِ" (يعني الله طرف ته رابللو والا) وئيلے شوے دے. ☆ په سورۀ يٰسين آيت نمبر ١ کښے هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **يٰس** وئيلے شوے دے. ☆ سورۀ طٰهٰ آيت نمبر ١ کښے ورته **طٰهٰ** وئيلے شوے دے. ☆ سورۀ بقره آيت نمبر ١١٩ کښے ورته **بشير** (يعني زيرے وروکوونکے) او **نذير** (ويره اورروونکے) وئيلے شوے دے، ☆ سورۀ مُزَّمِّل آيت نمبر ١ کښے هغوئي ته **مُزَّمِّل** ☆ په سُوۡرَۀ **مُدَّثِّر** آيت نمبر ١ کښے ورته **مُدَّثِّر** فرمائيلے دے ☆ سورۀ الِ عمرٰن آيت نمبر١٦٤ کښے الله پاك هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مؤمنانو باندے "**احسان**" قرار کړے دے. ☆ په سورۀ انبياء آيت نمبر١٦٠ کښے ئے خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول جهان د پاره رحمت قرار کړے دے. ☆ په سورۀ قلم آيت نمبر ٤ کښے ئے نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته صاحبِ خُلق عظيم وئيلے شوے دے. ☆ په سورۀ بني اسرائيل آيت نمبر١ کښے ورته "**صاحبِ معراج**"وئيلے شوے دے. ☆ په سورۀ بقره آيت نمبر٣٣ کښے ورته "**دُعائے ابراهيمي**"وئيلے شوے دے. ☆ په سورۀ صَف آيت نمبر٦ کښے ورته "**بِشارتِ**

**عيسیٰ**"وئيلے شوے دے. ☆ په سورۂ کوثر آيت نمبر۱ کښے ورته "**صاحِبِ کوثر**"، ☆ او په سورۂ بنيِ اسرائيل آيت نمبر۷۹ کښے ورته "**صاحِبِ مُقامِ مَحمُود**" وئيلے شوے دے، الغرض تول قرآن مجيد الله پاك د خپل محبوب کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښے نازل کړے دے.

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## قرآن او صِفَتِ مصطفٰی ﷺ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه په قرآن مجيد کښے پخپله **الله** پاك د خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف بيان کړے دے، د خپل محبوب اوصاف، شان و عظمت او خصوصيات ئے په خپل پاك کلام [قرآن مجيد] کښے ذکر کړي دي، دا دے خبرے ته اشاره ده چه دا څه عامه هستي نه ده، بلکه زما محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تولو نه اعلیٰ دے، زما محبوب د دواړو جهانونو سردار دے، زما محبوب په هر وَصف کښے لاجوابه دے، ما چه نورو انبياؤ عليهم السلام ته کوم [جُدا جُدا] صِفات عطا کړي دي، هغه تول مے خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته يو ځائے عطا کړي دي چه زما محبوب د تولو نه اوچت شي.

سب سے اَولیٰ و اَعلیٰ ہمارا نبی  سب سے بالا و والا ہمارا نبی
اپنے مولیٰ کا پیارا ہمارا نبی  دونوں عالم کا دُولہا ہمارا نبی
خَلق سے اَولیا،اَولیا سے رُسُل  اور رَسولوں سے اَعلیٰ ہمارا نبی
بجھ گئیں جس کے آگے سبھی مشعلیں  شمع وہ لے کر آیا ہمارا نبی
کون دیتا ہے دینے کو منہ چاہیے  دینے والا ہے سچا ہمارا نبی
غمزدوں کو رضاؔ مژدہ دیجے کہ ہے  بیکسوں کا سہارا ہمارا نبی

(حدائقِ بخشش،ص۱۳۸تا۱۴۰)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د آقا کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور خصوصیات واورو:

**الله** پاک د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام په باره کښے فرمائي:

**وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا** [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او الله آدم ته د ټولو خیزونو نومونه اوښودل. (پ۱،البقرة:۳۱)

او زمونږه خوږ آقا، مکّی مَدَنی مصطفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ئے چه څه ښودلي دي د هغے په باره کښے ارشاد فرمائي:

**خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۙ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾** [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د انسانیت ځان محمد ئے پیدا کړو. د مَاكَانَ وَمَا يَكُوْنُ بیان ئے هغوئي ته زده کړو. (پ۲۷،رحمٰن:۳،۴)

په تفسير صِراطُ الْجِنان کښے دي چه دلته د انسان نه مراد د دواړو جهانو سردار مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او د بيان نه مراد " مَاكَانَ وَمَا يَكُوْنُ " يعني څه چه شوي دي او څه چه به آئنده کيږي د هغے بيان مراد دے ځکه چه نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د اوَّلين و آخِرين او د قيامت د ورځے خبر ورکولو.

د دے نه معلومه شوه چه د سَيِّدُ الْمُرْسَلِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم علم د ټولو انبيائے کرامو عليهم السلام او ټولو مخلوقاتو ته زيات دے.

امامِ اهلسنت، مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تعالٰى عَلَيه فرمائي:

وه خدا نے ہے مرتبہ تجھ کو دیا نہ کسی کو ملے نہ کسی کو ملا

ہے کلامِ مجید نے کھائی شہا ترے شہر و کلام و بقا کی قسم

(حدائقِ بخشش، ص۸۰)

د **شعر وضاحت**: اے خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کومه مرتبه چه الله پاك تاسو ته عطا کړي ده هغه تر اوسه پورے نه چا ته نصيب شوي ده او نه به کله چا ته نصيب شي. [يعني دومره اعلٰى مَرتَبه] چه الله پاك د رَبُّ الْعٰلَمِين کيدو باوجود ستاسو د ښار، ستاسو د مبارکے خُلے نه د وتلو الفاظو او ستاسو د مبارك ژوند قسم فرمائي.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د خوږ نبی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان مبارك، فضائل او خصوصيات د قرآنِ پاك د آيتونو په رنړا كښے اوريدل، يقيناً زمونږ د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان خو بے مثاله دے، يقيناً په كوم ذات چه د الله پاك عظيم فضل وي د هغوئي فضيلت څوك بيانولے شي؟ حضرت امام قاضي عياض مالكي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په ''**شِفاء شريف**'' كښے ارشاد فرمائي: **حَارَتِ الْعُقُولُ فِي تَقْدِيرِ فَضْلِهٖ عَلَيْهِ وَخَرِسَتِ الْأَلْسُنُ**، يعنى د الله كريم كوم فضل چه په حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، د هغے اندازه لګولو نه عقلونه حيران او ژبے عاجزه دي. (الشفاء بتعريف حقوق المصطفیٰ، ۱/۱۰۳)

راځئ چه د حُضُور نبي كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شان او عظمت په باره كښے نور بيان واورو: چنانچه

**الله** پاك د حضرت نُوح علیہ السلام په سبب مسلمانانو ته د طوفان نه خلاصے وركړو، او زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سبب ئے غير مسلمو ته د عذاب نه مُهلت وركړو، الله تعالیٰ ارشاد فرمائي:

**وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ** (پ۹، الانفال: ۳۳)

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: او د الله كار نه دے چه دوئي ته عذاب وركړي تر څو پورے چه اے محبوب تاسو په دوئي كښے تشريف فرما ئے.

اعلیٰ حضرت شاه احمد رضا خان رحمۃُاللہ تعالیٰ عَلَیہ څه ښه فرمائي:

**اَنتَ فِیھِم نے عَدُو کو بھی لیا دامن میں      عیشِ جاوید مبارک تجھے شیدائی دوست**

(حدائقِ بخشش، ص ۶۳)

د **شعر وضاحت:** خوږ آقا مکّی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت کولو والؤ! تاسو ته هیڅ پریشانه کیدل نه دي پکار، ځکه چه تاسو د هغوئي غلام ئے د چا په برکت چه په دُنیا کښے غیرمسلمه هم د عذاب نه محفوظه دي، چه دُښمن په امن کښے وي نو بیا د دوست په امن کښے کیدل خو ډیره ښکاره خبره ده.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!      صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**الله** پاك د حضرت سَیِّدُنا ابراهیم خلیلُ الله علیه السلام معراج داسے بیانوي:

**وَ كَذٰلِكَ نُرِیْۤ اِبْرٰهِیْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ** (پ:۷،الانعام:۷۵)

[مَفہوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او هُم دغسے مونږه ابراهیم ته ښائیو ټوله بادشاهي د آسمانونو او زمکے.

حضرت سَیِّدُنا سعید بن جُبیر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ فرمائي چه د دے نه د آسمانونو او زمکے نښے مراد دي او هغه داسے چه حضرت ابراهیم عَلَیہِ السَّلام ئے د بیتُ المُقدس په **صَخره** (ګټ) باندے اودرولو او د هغوئي د

پاره د ټولو آسمانونو مشاهده ظاهره کړے شوه تر دے چه هغوئي عرش و کُرسي او د آسمانونو ټول عَجائبات او په جَنَّت کښے خپل مقام اوليدلو بيا د هغوئي د پاره د زمکے مشاهده ظاهره کړے شوه تر دے چه هغوئي د زمکے د ټولو نه لاندے پورے نظر اوکړو او د زمکو ټول عجائبات ئے اوليدل.

(تفسير خازن، الانعام، تحت الآية: ۷۵، ۲۸/۲ ملتقطاً)

په دے بيان شوي آيت کښے د معراجِ ابراهيمي ذِکر دے، حضرت ابراهيم عَلَيهِ السَّلام ته عظيم معراج شوے وو خو زمونږ خوږ آقا مکّي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دے نه ډير اعلٰی معراج شوے وو تر دے چه حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د "**دَنَا فَتَدَلّٰى ۙ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۚ﴿۹﴾**" مقام ته رسيدلے وو.

الله کريم د حضرت موسٰی عَلَيهِ السَّلام د پاره د کاڼړي نه اوبه جاري کړي وے:

**فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ** (پ:۱، البقرة: ۶۰) [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالايمان: د هغے نه فوراً دولس چينے روانے شوے.

## د ګوتو مبارکو نه ئے اوبه جاري شوے.

زمونږه د خوږ نبي رَسُولِ عربي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګوتو مبارکو


www.dawateislami.net

نه دومره اوبه جاري شوے چه پينځلس سوه کسانو اوڅښلے او اودسونه ئے هُم پرے اوکړل. دا مُعجزه د کانړي نه د اوبو جاري کيدلو د معجزے نه زياته عجيبه ده ځکه چه د کانړي نه خو اوبه اکثر را اوځي او نهرونه ترينه جاري کيږي خو د غوښے نه دومره زياتےاوبه جاري کيدل [ډيره غټه] مُعجِزه ده. راځئ چه د دے مکمله واقعه واورو: چنانچه

په شپږمه هجرئ کښے رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عُمرے ادا کولو اراده اوفرمائيله او د مدينے منورے نه د مکے په لور روان شولو او د حُديبيه په ميدان کښے ئے پړاؤ اوکړلو. د خلقو د ګنړے په وجه د حُديبيه کوهے اوچ شو او هلته موجود خلق د اوبو د يو يو څاڅکي محتاجه شو. په دغه وخت کښے د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رحمت په جوش کښے راغلو او هغوئي (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په يو غټه پياله کښے خپل لاس مبارك کيښودلو نو د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو ګوتو نه داسے د اوبو ولے جاري شوے چه د پينځلس سوه خلقو لښکر پرے موړ شو. خلقو پرے اودسونه او غسل هم اوکړو او په څاروو ئے هم اوڅښلے، خپل ټول مشکونه او لوښي ئے هم ډك کړل بيا خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيالئ نه لاس مبارك اوچت کړو او اوبه ختمے شوے. حضرت جابر رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْه نه خلقو تپوس اوکړو چه هغه وخت تاسو څومره کسان وئ؟ نو هغوئي اوفرمائيل چه مونږه پينځلس سوه کسان وو

خو اوبه دومره زياتے وے لَوْكُنَّامِائَةَ اَلْفٍ لَكَفٰنَا يعني كه مونږه يو لاك [كسان] وے نو هُم د ټولو د پاره به دا اوبه كافي وے.(بخاری،کتاب المناقب، باب علامات النبوة فی الاسلام، ۲/ ۴۹۳، حدیث: ۳۵۷۶ ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مجلس سوشل ميډيا

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** الله پاك خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دومره زيات خصوصيات او شان و عظمت وركړے دے چه مونږه ئے شميرلے نه شو، لِهٰذا سيرتِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيژندلو د پاره او د حُضُور نبئ مُكَرَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حقيقي محبت حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول كښے شامل شئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامی په ټوله دُنيا كښے دا وخت د 107 نه زياتو شُعبه جاتو په ذريعه د دين اسلام پيغام عام كولو كښے مصروفِ عمل دے، په هغے كښے يوه "**شُعبه سوشل مِيډيا**" هُم ده، د مِيډيا په دے دور كښے ټيكنالوجي په ډيره ترقئ ده. خاص طور د انټرنيټ د ايجاد نه پس د سوشل ميډيا (Social Media) په ذريعه د دنيا په هر مقام كښے د رابطو يوه نوے سلسله شروع شوے ده. فيس بك (Facebook)، انسټاګرام (Instragram)، واټس ايپ، (Whatsapp)، ټوئټر (Twitter)



www.dawateislami.net

او د دے په شان نورو ويب سائټونو (Websites) په دنيا کښے خپل کروړونه استعمالوونکي جوړ کړي دي. د يوے اندازے مطابق دے وخت کښے په پاکستان کښے زيات و کم پنځوس ملين (يعني پينځه کروړه) نه زيات د سوشل ميډيا اکاونټونه موجود دي. دے خلقو ته د قران و سُنَّت پيغام رسولو د پاره دعوتِ اسلامي يو مجلِس په نوم د " **مجلس سوشل ميډيا** " قائم کړے دے. د عاشقانِ رَسُول مَدَني تَحرِيك دعوتِ اسلامي تحت " **مجلس سوشل ميډيا** " په دے وخت کښے چه په کومو ويبسائټونو کار کوي، په هغے کښے يوټيوب (YouTube)، فيس بك، ټوئټر، انسټاګرام، ټيلي ګرام (Telegram) او واټس ايپ شامل دي.

**فيس بك** باندے په **10** پيجيزو باندے کار روان دے، چه په هغے کښے دعوتِ اسلامي ، مولانا الياس قادري، مولانا عُبيد رضا، حاجي عمران عطاري. حاجي شاهد عطاري، دار الافتاءِ اهلسنت، مدني نيوز، مدني چينل، مدني چينل لائيو، او **30** سيکنډ اور ليس ( Thirty seconds or less) شامل دي، او په دے ټولو باندے د ميلاويدونکو لائيکونو تعداد يو کروړ ديرش لاکه دے.

**يوټيوب** باندے هم په **10 چينلو** کار روان دے. چه په هغے کښے مدني چينل (Madani Channel)، مولانا الياس قادري ( Maulana Ilyas Qadri)، اسلام فور کِډز (Islam for kids )، مولانا عُبيد

رضا عطاري (Maulana Ubaid Raza Attari)، مولانا عمران عطاري (Maulana Imran Attari)، مدني چينل اردو لائيو (Madani Channel Urdu Live)، مدني چينل انګلش (Madani Channel English)، مدني چينل انګلش لائيو (Madani Channel English Live)، او نعت پروډکشن (Naat Production) شامل دي. د دے ټولو پيجونو استعمالوونکو (Subscribers) تعداد ټول تقريباً 1.7 ملين ته رسيدلے دے.

که تاسو هم سوشل ميډيا استعمالوئ نو دا پيجيز (Pages) او چينلز (Channels) لائيك او سبسکرائب (Subscribe) کړئ، د دے کونټينټ بنه ډير شيئر کړئ او د قران او سُنَّت پيغام ټولے دنيا ته رسولو کښے دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ. **الله** تعالیٰ دِ د دعوتِ اسلامي هرے شعبے ته ترقي ورکړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښے د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښے زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ص ۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　جنّت کښے مے خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

**په اوبو کښے د اسراف نه د بچ کيدلو متعلق يو څو اهم نکات خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چه د شيخ طريقت، اميرِ اهلسنت، حضرت علامه مولانا محمد الياس دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالے ''د اودس طريقه'' نه د اوبو د اسراف نه د بچ کيدلو په باره کښے يو څو نکات واورو:

اول دوه **فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم واورئ: (1) خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: په اوداسه کښے ډير شے اوبه اړولو کښے خير نشته او دا کار د شيطان له طرفه دے. (کنز العمال،۹/۱۴۴، حديث:۲۶۲۵۵) (2) حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم يو کس په اودس کولو اوليدلو، اوئے فرمائيل: اسراف مه کوه، اسراف مه کوه. (سنن ابن ماجه، کتاب الطهارة و سننها، باب ما جاء فی القصد فی الوضوء ـــ الخ،۱/۲۵۴، حديث:۴۲۴) ☆ که د وقف په اوبو اودس کوئ نو زياتے اوبه خرچ کول بِالاتِّفاق حرام دي. (د اودس طريقه) ☆ **بعضے** خلق په چونګ کښے اوبه داسے تيزے اچوي چه د ډکيدو سره ترے اخوا ديځوا اوړي حالانکه کومے چه واوښتے هغه بيکاره لاړے د دے احتياط پکار دے. (د اودس طريقه) ☆ د نن وخته پورے مو چه څومره ناجائزه اسراف کړے دے، د هغے نه توبه اوکړئ او بيا د پاره د بچ کيدلو پورا کوشش شروع کوئ. ☆ د اَودَس په وخت کښے نَل په احتياط سره چالو

کوئ، که کیدے شي نو د اَودَس په وخت کښے یو لاس د نل د پاسه ساتئ او د ضرورت په پوره کیدو سمدستي نل بندوئ. ☆ د **مسواك** کولو، د خُلے وِینځلو، د غرغرے کولو، د پوزے پاکولو، د ګیرے او د ګوتو د خِلال او د مسح کولو په وخت کښے چه یو څاڅکے هم نه څڅیږي، داسے د نل صحیح بندولو عادت جوړکړئ. ☆ په جمي [یعني د یخنئ په موسم] کښے د اَودَس یا د غسل کولو او د لوښو یا جامو وِینځلو د پاره د ګرمو اوبو حاصلولو د پاره په پائِپ کښے جمع شوي یخے اوبه هسے د بهیولو په ځائے مخکښے په څه لوښي کښے د ویستلو ترکیب جوړوئ. ☆ **لاس** یا مخ وینځلو د پاره د صابون زګ جوړولو کښے هم اوبه په احتیاط سره خرچ کوئ. ☆ د **استعمال** نه پس صابُون په داسے صابون دانئ کښے کېږدئ چه په هغے کښے اوبه بالکل نه وي، ☆ د څښلو نه پس په ګلاس کښے پاتے شوي اوبه د اړولو په ځائے بل چا ته څښلو د پاره ورکوئ یا ئے په بل څه [کار] کښے استعمالوئ. ☆ په **استِنجاخانه** کښے لَوټه استِعمالوئ ځکه چه په فُواره باندے په طهارت [یعني استنجا] کولو کښے اوبه هم زیاتے خرچ کیږي او ښپو ته هم اکثر دارے کیږي.☆ که د **نَل** نه اوبه څڅیږي نو د دے فوراً څه حَل اوباسئ که نه وي نو اوبه به مسلسل ضائع کیږي.



www.dawateislami.net

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنَہ دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب ”بهارِشریعت“ حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب ”سُنَّتیں اور آداب“ هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښے عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلكيانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بيان موضوع به وي د **”د خوږ آقا ښکلي اداګانے“** په دے بيان کښے به د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو څو خوږے خوږے اداګانے او سنتونه مثلاً د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خبرو کولو انداز به څنګه وو؟ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طعام خوړلو انداز به څنګه وو؟ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په معاشره کښے د اوسيدلو انداز به څنګه وو؟ او ورسره به د صحابهٔ کرامو او صحابياتو او بُزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د سُنَّتِ رَسُول سره ډير زيات مَحَبَّت او په سُنَّتو د عمل کولو واقعات هُم بيانيږي.

لِـهٰذا د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره راروان زيارت له هُم اجتماع کښے د

حاضرئ نِيَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوکړئ. لاس اوچت کړئ او په زوره اُووائے. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښے د داخليدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصاً

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو اودریدو نه مخكښے به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چه مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته كړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو

1 ... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

### اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په مينځ كښے كښينولو، دے باندے صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم حيران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه كله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[2] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريڪه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

### اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

**جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ**

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم**

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب !　　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فيضانِ رَبِيعُ الْاَوّل

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. او ضِمناً به ستاسو د پاره په جُمات كښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

زمونږ د خوږ آقا مكي مدَني مصطفٰـى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: تاسو خپل مجلسونه په ما باندې په درودِ پاك لوستلو ښائسته كړئ ځكه چې ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي.

(جامع صغير، ص۲۸۰، حديث :۴۵۸۰)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”نِيَّةُ



www.dawateislami.net

اَلْمُؤْمِنِ خَيْرٌمِّنْ عَمَلِهٖ" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل**: نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

۞ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ۞ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ۞ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** رَبِيعُ الْاَوَّل د اسلامي كال دريمه مياشت ده، دا مياشت د فضائلو، سعادتونو، رحمتونو او د الله پاك د نعمتونو مجموعه ده، عاشقانِ رسول دې مباركې مياشت ته ماهِ ميلاد [يعني د مِيلاد شريف مياشت] وائي، ځكه چې هغه پاكه هستي چې الله پاك د ټولو جهانونو د پاره رحمت جوړ كړے راليږلے دے، د چا د پاره چې دا ټول كائنات ښائسته كړے شوے دے، هغه عظمتونو والا نبي خاتَمُ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې مياشت كښې دُنيا ته تشريف راوړے وو. دے مياشتې ته ټول فضيلتونه، سعادتونه او بركتونه د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت په

[1] (معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ۱۸۵/۶، حديث ۵۹۴۲)

برکت نصیب شوي دي، په دې مناسَبت سره به د نن په بيان کښې مونږه د دې مياشتې فضائل، برکات، د بُزرګانِ دين د ميلاد شريف مناوولو واقعات، په دې مياشت کښې کيدونکي اعمال او مونږ له دا مياشت څنګه تيرول پکار دي، د دې متعلق مدني ګلونه به هم اورو، کاش چې مونږ ته ټول بيان د ښو ښو نيتونو او مکمل توجه سره د اوريدلو سعادت را نصيب شي.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د ربيعُ الاول مياشتې ته دومره فضيلتونه ولے حاصل شوي دي، حضرت امام زَکَريا محمد بن محمود قَزوِيني رحمَةُ اللهُ تعالٰى عَلَيه فرمائي: دا هغه مبارکه مياشت ده چې په دې کښې الله تعالٰى د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجود په برکت په دُنيا والؤ باندې د خير او سعادت دروازے برسيره کړې دي. د دې مياشتې په دولسم تاريخ د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وِلادت شوے دے. (عجائب المخلوقات، ص٦٨)

*ربیعِ پاک تجھ پر اہلسنّت کیوں نہ قرباں ہوں*
*کہ تیری بارہویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا*

(قبالۂ بخشش، ص٣٧)

[د شعر تشريح] يعني د رَبِيعُ الْاَوَّل مياشتې په تا به اَهلِسُنَّت ولے نه قربانيږي، چې ستا په دولسم تاريخ زمونږه خوږ آقا مُحَمَّدِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دُنيا ته تشريف راوړے دے.



www.dawateislami.net

## د ”رَبيعُ الاول“ وئيلو وجه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** يقيناً کومه نيك بختي چې رَبِيعُ الْاَوَّل ته نصيب شوي ده هغه بلې مياشتې ته نه ده نصيب شوي. د رَبِيعُ الْاَوَّل معنٰى څه ده؟ راځئ چې واورو: ربيع د سپرلي موسم ته وائي يعني د يخنئ او ګرمئ په مينځ کښې چې کوم موسم وي هغې ته ربيع وائي. عرب والؤ به د سپرلي وړومبو ورځو ته ”رَبيعُ الاوَّل“ وئيلو، په دې موسم کښې به خريړي (هغه د باران په موسم کښې چې د چترئ په شان څيزونه په زمکه کښې راخيژي هغه) او ګلونه پيدا کيدل او کوم وخت چې به د ميوو پيداوار کيدلو هغې ته به ئې رَبيعُ الآخِر وئيلو. چې کله د مياشتو نومونه کيښودلے شو نو د صفر نه پس دوو مياشتو ته د دې موسمونو د نومونو په مناسبت رَبِيعُ الْاَوَّل او ربيعُ الْآخِر نومونه ورکړے شو. (لسان العرب،١/١٤٣٥ملخصاً)

د رَبيعُ الْاَوَّل د مياشتې شان دا دے چې په دې مياشت کښې د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړے دے، که چرې حُضُور پُرنور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دنيا ته تشريف نه وے راوړے نو نه به اختر وے او نه به شبِ براءَت وے. بلکه د دې دُنيا ټوله رنړا او ښائست د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قدمونو مبارکو د خاورو صدقه ده. د دې مبارکې مياشتې دولسم تاريخ ډير سعادتونو والا دے

ځکه چې زمونږه خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګل په ورځ په دولسم رَبِيعُ الاوَّل دُنيا ته تشريف راوړے وو.

(لطائف المعارف، ص۱۰۴۔مواہب اللدنیة ، المقصدالاول، آیات ولادته۔۔۔الخ، ۷۵/۱)

هُم دا وجه ده چې په دې ورځ عاشقانِ رسول د خپل وَس او طاقت مطابق مَحَافِلِ ميلاد كوى او د الله پاك د رحمتونو نه حِصّه حاصلوي. راځئ چې دې مناسبَت سره يوه واقعه واورو: چنانچه

## د ملائكو انوار

حضرت شاه ولِـيُّ الله مُحَدِّث دِهلوي رحمَةُ اللهُ تعالٰى عَلَيه فرمائي: زه يو ځل په هغه محفلِ ميلاد كښې حاضر شوم كوم به چې په مكه مكرمه كښې د ربِيعُ الاوَّل په دولسم تاريخ په مَوْلِدُالنَّبِى (يعني د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش په ځائے) كښې منعقد كيدلو، كوم وخت چې د ولادت ذِكر كيدلو ما اوليدل چې ناڅاپه د هغه مجلس نه يو څو انوار [يعني نُورونه] اوچت شو، ما په هغې غور اوكړو نو معلومه شوه چې هغه د رحمتِ اِلٰهى او د هغه ملائكو انوار وو كوم چې داسې محفلونو ته حاضريږي. (سيرتِ مصطفٰے،ص۷۲۔۷۳)

اے فَرشیو مبارک اے عَرشیو مبارک
دونوں جہاں کے سرور تشریف لا رہے ہیں

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۳۰۱)

[د شعر تشريح] يعني اے د فرش يعني زمكې والؤ او اے د عرش

والؤ، تاسو ټولو ته مبارك شه چې د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چې د جَشنِ عيدِ ميلادُ النَّبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محفل کښې د ربِّ کائنات رحمتونه نازليږی، ډير انوار راوريږي، د رحمت ملائکے د ميلاد شريف په محفلونو کښې شريکې کيږي او د ميلاد محفلونه جوړوونکي په خپلو نوراني وزرو کښې پټوي، ميلاد شريف مناوولو والؤ نه الله پاك خوشحاليږي او په هغوئي باندې خپل نعمتونو راوروي. يقيناً ميلاد شريف مناوول، د ميلاد په مياشت کښې خپل کورونه ، کوڅے، محلّے بلکه خپل ګاډي په مدني جنډو، پرقيدونکو بلبونو، رنګا رنګه لائټونو باندې ښائسته کول او د ربيعُ الاوّل د مياشتې په راتلو نيك اعمال او د درود شريف کثرت کول، د ميلاد شريف په محفلونو کښې شريك کيدل د اجر و ثواب او د مغفرت ذريعے دي.

مونږ ته پکار دي چې کله هم راته د سنتو ډکه اجتماع يا مدني مذاکره کښې د حاضريدو سعادت را نصيب شي نو پکار ده چې د ادب په انداز او په توجه سره د اوريدلو عادت جوړ کړو. راځئ چې د ترغيب د پاره يوه واقعه واورو: چنانچه

خليفۂ مفتئ اعظم هِند، محدثِ اعظم حِجاز، حضرت شيخ سيّد

محمد بن عَلَوی مالکی رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نقل کوي چې زما والد حضرت سیِّد عباس مالکي رحمۃُاللّٰہُتعالیٰ عَلَیه وئیلي دي چې زه په بیتُ المُقدس کښې د دولسمې شپې په محفلِ میلاد کښې شریك ووم، ما اولیدل چې یو بوډا سړے د شروع نه تر آخِرې پورې ډیر په ادب او احترام په ولاړه په محفلِ میلاد کښې شریك وو، یو کس ترینه ټول محفل کښې په ولاړه د شریك کیدو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه اووئیل چې: ما به مخکښې د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکرِ خیر په وخت کښې تعظیماً اودریدل بِدعَتِ سَیِّئَـه (یعنی بد عمل) ګڼړلو. یو ځل مې خوب اولیدو چې زه په یوه لویه اجتماع کښې شریك یم او خلق د نبـي کریم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د استقبال د پاره ولاړ دي، چې کله نبـي اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو نو ټولو خلقو په ډیر ادب او احترام سره د رسولِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم استقبال اوکړو خو زه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تعظیم کښې ولاړ نه شوم، نبـي کریم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائیل: "**ته به نور نه شې اودریدلے**" کله چې رابیدار شوم نو زه ناست ووم. بیا د یو کال پورې زه نه شوم اودریدلے. په دې حالت او پریشانئ کښې ما دا مَـنَـبنته اوکړه چې که اللّٰه پاك ما ته د دې مرض نه شِفا راکړه نو زه به محفلِ میلاد د شروع نه تر آخرې پورې په ولاړه اورم. د دې منبنتې په برکت اللّٰه **تعالیٰ** ما ته شِفا راکړه نو ما اوس خپل دا


www.dawateislami.net

عادت جوړ کړے دے چې د خپلې منبنتې پورا کولو د پاره د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تعظيم کښې ټول محفل په ولاړه اورم. (الاعلام بفتاوى ائمة الاسلام، ص۹۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله پاك پاره 26 سورۀفتح آيت نمبر 9 کښې اِرشاد فرمائي :

وَ تُعَزِّرُوْهُ وَ تُوَقِّرُوْهُ ؕ (پ۲۶،الفتح:۹) [مَفهُوم]ترجمۂ كنزُالاِيمان: او د رَسُول تعظيم او توقِير اوکړئ.

تفسير صِراطُ الْجِنان کښې د دې آيت کريمه نه لاندې ليك دي: معلومه شوه چې د الله پاك په بارګاه کښې د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم و توقِير انتهائي مطلوب او د ډير زيات اَهَمِّيَّت حامِل دے ځکه چې دلته الله پاك په خپله تَسْبِيْح باندې د خپل حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم و توقِير مُقَدَّم کړے دے. او څوك چې د ايمان راوړلو نه پس د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم کوي، الله پاك د هغوئي د كاميابيدلو او مُراد ته د رسيدلو اعلان داسې فرمائي:

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَ عَزَّرُوْهُ وَ نَصَرُوْهُ وَ اتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۱۵۷) (پ۹،الاعراف:۱۵۷)

[مَفهُوم]ترجمۂ كنزُالاِيمان: نو هغه خلق چې په هغه نبي باندې ايمان راوړي او

د هغه تعظيم اوکړي او د هغه مدد اوکړي او د هغه نُور پيروي اوکړي کوم چې هغه سره نازل کړے شوے دے نو هُم هغه خلق کاميابي حاصلولو والا دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! مونږه د ربيعُ الاول فضائل او د هغې د برکتونو بيان اوريدلو. د دې مياشتې د ټولو نه غټ عظمت او شان دا دے چې دا زمونږه د خوږ نبي مکّي مَدَنى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره نسبت لري. هُم دې نسبت د دې مياشتې شان نور هم زيات کړے دے او د دې دولسم تاريخ باندې لَيْلَةُ الْقَدْر هم رشك [يعني رخه] کوي، ځکه چې په دې مياشت کښې د الله پاك د ټولو نه لوئي رحمت مونږه ګنهګارانو ته نصيب شوے دے، په دې مياشت کښې الله تعالٰى خپل محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته عطا کړے دے، مونږ له پکار دي چې په دې رحمت د الله پاك شکر ادا کړو، په دې رحمت خوشحالي اوکړو، ځکه چې د رحمتِ اِلٰهى په حاصليدلو د خوشحالئ کولو حکم خو الله تعالٰى پخپله فرمائيلے دے، چنانچه

په سيپاره ١١ سورهٔ يُونُس آيت نمبر ٥٨ کښې ارشاد دې:

قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾

(پ١١،يونس:٥٨)

مفهوم تَرْجَمَهٔ کنز الايمان: ته اُو وايه! هُم د الله په فَضل او د هغه په رَحمت او هُم په هغې پکار دي چې خوشالئ اوکړي، دا د هغوئي د ټول جمع کړي دولت نه بهتر دي.

مشهور مفسّرِ قرآن، مُفتی اَحمد یارخان نعیمی رحمۃُاللہِ تعالٰی عَلَیہ د دې آيت مبارکه لاندې فرمائي: اے محبوب! خلقو ته دا زيرے واوروه او حکم هم ورکړه چې د الله پاك په فضل او د هغه په رحمت باندې ډيرې خوشحالئ اوکړئ. عامه خوشحالي خو هر وخت کوئ او خاصه خوشحالي په هغه تاريخونو کښې کوئ کومو کښې چې هغه نعمت راغلے وي يعني رَمَضان کښې چې د الله فضل "**قرآن**" راغلے دے، ربيعُ الاوَّل کښې خاص په دولسم تاريخ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن يعني محمد مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پيدا شوے دے. دا فضل او رحمت يا په دې خوشحالي کول ستاسو د ټول جمع شوي مال او سامان، روپو، مکان، جائيداد، څاروو، کروندے او اولاد وغيره ټولو نه غوره دي چې د دې خوشحالئ فائده شخصي نه بلکه قومي ده. وقتي نه بلکه هميشه ده. صرف په دُنيا کښې نه بلکه په دين او دُنيا دواړو کښې ده، صرف جسماني نه بلکه روحاني هم ده. برباد نه ده بلکه په دې باندې ثواب دے. (تفسیرِ نعیمی، پ۱۱، یونس، تحت الآیۃ:۵۸، ۳۷۸/۱۱ ملخصاً)

خُوشیاں مناؤ بھائیو! سرکار آگئے، شہِ ابرار آگئے
سب جُھوم جُھوم کر کہو سرکار آگئے دونوں جہاں کے مالک و مختار آگئے
خُوشیوں کے لمحے آگئے دِیوانے جُھوم اُٹھے عیدوں کی عید آگئی سرکار آگئے

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۵۱۱)

سرکار کی آمد... مرحبا　سردار کی آمد... مرحبا
آمنہ کے پھول کی آمد... مرحبا
پیارے کی آمد... مرحبا　اچھے کی آمد... مرحبا
سچے کی آمد... مرحبا
سوہنے کی آمد... مرحبا　موہنے کی آمد... مرحبا
مختار کی آمد... مرحبا

مرحبایامصطفی　مرحبایامصطفی　مرحبایامصطفی
مرحبایامصطفی　مرحبایامصطفی　مرحبایامصطفی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې د ربيعُ الاول مياشت او خاص د دې مبارکې مياشتې دولسم تاريخ ډير عظمت او برکت والا دے، ځکه چې د ربيعُ الاول په دولسم تاريخ د کفر و شرك تِيَرے ختمې شوې، د ربيعُ الاول په دولسم تاريخ هر طرف ته رنړا ګانې شوے، هر طرف ته خوشحالئ خورے شوې، جبريل امين عليه السلام د کعبے په چت باندې جنډه اولګوله، د ربيعُ الاول په دولسم تاريخ د کِسرٰی بادشاه په محل باندې زلزله راغله او په محل کښې ئې چاودونه اوشو، د ربيعُ الاول په دولسم تاريخ د زرګاؤ کالو نه بله شوي آتش کده [يعني ډير غټ اور] يخپله مړ شو. د ربيعُ الاول په دولسم تاريخ د شيطان مخ تور شو، او د دې مياشتې دولسم تاريخ د عاشقانِ رسول د پاره د

اخترونو اختر دے. د دې مياشتې دولسم تاريخ د شبِ قدر نه هم افضل دے.

حضرت سيدنا شيخ عبدالحق مُحَدِّث دِهلَوی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”بيشكه د سرورِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش شپه د شبِ قدر نه هم غوره ده ځكه چې د وِلادت شپه د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دنيا ته د تشريف راوړلو شپه ده او كومه شپه چې د سرورِ كائنات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذات مبارك د ظهُور [يعني دُنيا ته د تشريف راوړو] په وجه مُشَرَّفَه ده هغه د هغه شپے نه زياته د شَرف او عزَّت لائق ده كومه چې د فرښتو د نازيليدو په وجه مشرفه شوي ده. (مَاثَبَتَ بِالسُّنّة، ص۱۵۳)

سَحابِ رحمتِ باری ہے بارہویں تاریخ
کرم کا چشمۂ جاری ہے بارہویں تاریخ

ہمیں تو جان سے پیاری ہے بارہویں تاریخ
عَدو کے دِل کو کٹاری ہے بارہویں تاریخ

ہزار عید ہوں ایک ایک لَحظہ پر قُرباں
خُوشی دلوں پہ وہ طاری ہے بارہویں تاریخ

ہمیشہ تُونے غلاموں کے دِل کئے ٹھنڈے
جلے جو تجھ سے وہ ناری ہے بارہویں تاریخ

حسنؔ وِلادتِ سرکار سے ہوا روشن
مرے خدا کو بھی پیاری ہے بارہویں تاریخ

(ذوقِ نعت، ص۱۲۱-۱۲۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** مونږ له پكار دي چې د شريعت په دائره كښې خاص اهتمام سره دا (د دولسمې شريفې) ورځ او خاص طور ټول

ربيعُ الاوَّل په نيکو اعمالو کولو کښې تير کړو، پکار ده چې مونږه په دې مُقَدَّسه مياشت کښې فرضو لمُونځونو سره سره د نفلونو هم اهتمام اوکړو، کثرت سره تلاوتِ قرآن اوکړو، ډيره ډيره صَدَقه و خيرات اوکړو. مسلمانانو ته د نيکۍ دعوت ورکړو او د ګناهونو نه ئې د بچ کولو کوشش اوکړو. په مدني قافلو کښې پخپله سفر کولو سره سره نور اسلامي ورونړه هم ځان سره بوځو، د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع کښې او خاص طور د ربيعُ الاوَّل شريف په وړومبو دولسو ورځو کښې کيدونکو مدني مذاکرو کښې د شريك کيدلو کوشش اوکړو. راځئ چې ربيعُ الاوَّل شريف کښې او خاص کر په دولسم تاريخ کيدونکو د نيکو اعمالو کولو په باره کښې واورو:

## د نفلي روژو اهتما اوکړئ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په دې ورځو کښې د نفلي روژو نيولو اهتمام اوکړئ، ياد ساتئ! مونږ ته د خپل مرګ هيڅ ساعت نه دے معلوم، ځکه مونږ له د نيکو کولو يوه موقع هم ضائع کول نه دي پکار، د دې د يوے يوے ورځې قدر اوکړئ او ډير ډير نيك اعمال پکښې اوکړئ، د الله تعالیٰ رضا حاصلولو د پاره، او د رحمتِ اِلٰهي مستحق جوړيدلو د پاره، او خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د ايصالِ ثواب نذرانے پيش کولو په نيت د دې مياشتې يکم تاريخ نه واخله دولسم تاريخه پورې نفلي روژے اونيسئ، او خاص طور په دولسم تاريخ خو ضرور د روژے نيولو کوشش اوکړئ، ځکه چې زمونږ خوږ آقا مکي

مدني مصطفٰـى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپل مِيلاد شريف مناوولو د پاره د هر ګل په ورځ روژه نيوله. چنانچه

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو قَتَاده رَضِىَ اللهُ تعالٰى عَنۡه فرمائي: د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د ګل [د ورځې] د روژے په باره کښې تپوس اوکړے شو نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: په هُم دې ورځ زما وِلادَت [يعني پيدائش] اوشو او په هُم دې ورځ په ما وحي نازله شوه.
(مسلم، کتاب الصيام، باب استحباب صيام ثلاثة۔۔۔الخ، ص۴۵۵، حديث: ۲۷۵۰)

**اے عاشقانِ رسول!** يقيناً د يو رښتيني عاشقِ رسول نښه دا ده چې هغه د دُنيا د محبت نه ځان خلاصوي او د خپل ژوند په هره مُعامله کښې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت خپل عمل ګرځوي، د دې يو مثال اميرِ اهلسنت، حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادِري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه هم دے، هغوئې د دولسمې او خاص طور د هر ګل شريف روژه نيسي او خپلو مريدانو او محبت کوونکو ته هم د هر ګل شريف د روژے نيولو ترغيب ورکوي. مونږ له پکار دي چې د خوږ مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې پخپله او خپل کور والؤ او دوستانو ته هم د دولسمې شريفې د روژے نيولو دعوت ورکړو او د ربِّ کريم د دې عظيم نعمت شکر ادا کړو او په دربارِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ايصالِ ثواب پيش کړو او د دُنيا او آخرت د برکتونو حقدار جوړ شو.

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# كثرت سره ذِكرِ حبيب كوئ

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د نبيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت زموږ د ايمان بنياد دے او د محبَّت يو علامت د خپل محبوب تذكِره زياته كول هُم دي روايت كيږي دي: "**مَنْ اَحَبَّ شَيْئًا اَكْثَرَ مِنْ ذِكْرِهٖ**" يعني څوك چې د چا سره محبت كوي د هغه تذكِره زياته كوي. (جامع صغير، ص۵۰۷، حديث:۸۳۱۲)

هسې خو موږ له ټول كال د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِكرِ خير كول او د خپل قول و فِعل په ذريعه د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت ښكاره كول پكار دي، د دې ذِكر بهترينه ذريعه په نبـي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرودِ پاك لوستل هُم دي. ځكه چې د دُرودِ پاك لوستلو بيشميره فضائل و بركات دي، مثلاً د **دُرودِ پاك** په بركت د زړونو صفائي كيږي، د **دُرودِ پاك** په بركت په رزق كښې بركت كيږي، د **دُرودِ پاك** په بركت په **پُلِ صراط** باندې آساني نصيب كيږي، د **دُرودِ پاك** په بركت د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب كيږي، موږ له پكار دي چې په دې بركتي مياشت كښې په كثرت سره **دُرودِ پاك** اولولو. راځئ چې په شريكه دُعا اوكړو:

ترے محبوب پر ہر دم درودِ پاک ہم مولیٰ
بچیں بے کار باتوں سے پڑھیں اے کاش کثرت سے

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۹۹)

د فضولو او بےکارو نه مو اوساتې الله
توفیق راکړې په حبیب باندې د درودو اے مولٰی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زيات نوافل ادا کړئ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د ربيعُ الاول په مياشت کښې د نيکو اعمالو کولو په باره کښې اورو، په ربيعُ الاوَّل کښې د الله پاك او د هغه د محبوب نزديکت حاصلولو والا اعمال اوکړئ، د دې يوه بهترينه ذريعه د نفلو کثرت هُم دے، زمونږه بُزرګانو به د فرائضو او واجباتو سره سره ډير زيات نوافل هم ادا کول.

**اے عاشقانِ رسول!** مونږ له هم د فرائضو او واجباتو ادا کولو سره سره نوافل هُم ادا کول پکار دي، ځکه چې د نفل لمُونځ کولو بيشميره فائدے او برکتونه دي، ☆ نفلي لمونځونه کوونکے د **نوافلو** په برکت د خدائے په عبادت ګزارو بندګانو کښې شميرلے کيږی. ☆ د **نوافلو** په برکت د الله پاك محبت نصيب کيږي، ☆ د **نوافلو** په برکت په رزق کښې برکت راځي، ☆ د **نوافلو** په برکت د دُښمنانو د شر او فساد نه حفاظت نصيب کيږي، ☆ د **نوافلو** په برکت د مرګ د سختې نه حفاظت نصيب کيږي، ☆ د **نوافلو** په برکت د شيطان د وسوسو نه حفاظت نصيب



www.dawateislami.net

کیږي، ✫ د **نوافلو** په برکت قبر روښانه او فراخه کیږي، ✫ د **نوافلو** په برکت قبر د جنت د باغونو نه یو باغ جوړیږي. ✫ د **نوافلو** په برکت د قیامت د سختو نه خلاصے حاصلیږي.

## مَدَني مُذاکَرے او جُلُوسِ مِیلاد

اے عاشقانِ مِیلاد! د رَبِیعُ الْاَوَّل په میاشت کښې د نورو نیکو اعمالو کولو سره سره ۞ د هفته وارے مَدَني مُزاکرے نه علاوه د رَبِیعُ الْاَوَّل د یکم تاریخ نه **13** تاریخ پورې مَدَني چینل باندې کیدونکي د روزانه مدني مذاکرو او د مَدَني مذاکرے نه مخکښې د جُلُوسِ مِیلاد سلسله کیږي، په دې کښې د شرکت کولو ضرور کوشش کول پکار دي ۞ په خپل کور کښې بِالْخُصُوص په دې ورځو کښې د مَدَني چینل چلولو اهتمام کول پکار دي چې د کور ټول کسان د فیضانِ مِیلاد نه مالامال شي ۞ د رَبِیعُ الْاَوَّل خوشحالئ مَدَني چینل سره اوکړئ ۞ د مدني مُذاکَرے په ذریعه عِلمِ دِین حاصل کړئ ۞ مَدَني چینل باندې ښودونکي جُلُوسِ مِیلاد سره مدني جنډے اوچتې کړئ او د مرحبا یا مُصطَفیٰ نعرے لګوئ او په جُلُوسِ مِیلاد کښې شامل شئ ۞ د رَبِیعُ الْاَوَّل ورومبو دولسو ورځو کښې خصوصیت سره هره ورځ د محفلِ نعت



www.dawateislami.net

اِهتمام کوئ ﷺ د رَبِیْعُ الْاَوَّل په میاشت کښې عام طور د هر عاشقِ رسول کور او خاص طور د جامعة المدينه (لِلْبَنِيْن ولِلْبَنات) د طلبه و طالباتو او د مدرسةُ المدينه (لِلْبَنِيْن و لِلْبَنات) د ماشومانو کورونه په رنړاګانو او جنډو باندې ښکلې کول پکار دي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## دولس مدني کارونو کښې يو مدني کار "علاقائي دوره"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ربيعُ الاوَّل د برکتونه حاصلولو او د ربيعُ الاوَّل د مياشتې حقيقي فيضان حاصلولو د پاره او خاص طور د دولسمې شريفې شپه په نيکو اعمالو کښې د تيرولو د پاره نن د عاشقانِ رسول د مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول کښې شامل شئ او د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې ډيره ډيره حِصَّه اخلئ او ډير ډير ثوابونه اوګټئ.

ياد ساتئ! د ذِيلي حلقے په دولسو مدني کارونو کښې يو هفته وار مدني کار"**علاقائي دوره**" هم ده. د دې مدني کار بيشميره فائدے دي، مثلاً د " **علاقائي دورے**" په برکت نوي نوي اسلامي ورونړه مدني ماحول ته نِزدې راځي، د " **علاقائي دورے**" په برکت بعض بيلمانځۀ ته د لمُونځ ګزاره جوړيدلو سعادت نصيب کيږي، د "**علاقائي دورے**" په برکت د امير اهلسنت د دُعاګانو نه حصه نصيب کيږي، د " **علاقائي دورے**" په برکت د نيکئ د دعوت ورکولو موقع په لاس راځي.

دولسو مدني كارونو كښې د دې هفته وار مدني كار "**علاقائي دوره**" تفصيلي معلومات حاصلولو د پاره د **مكتبةُ المَدينه** رساله "**علاقائي دوره**" مطالعه كړئ. ټول د دعوتِ اسلامي ذمه داران او خاص طور مجلس مدني قافله نګران او اراكين خو دِ د دې رسالے لازمي مطالعه اوكړي. د دې رسالے په بركت به تاسو ته معلوم شي، ☆ د نيكئ د دعوت شرعي حكم، ☆ د نيكئ د دعوت ديارلس فضائل او فائدے، ☆ د جماتونو د آبادولو سبب ☆ د **علاقائي دورے** مدني ګلونه ☆ د **علاقائي دورے** طريقه ☆ د **علاقائي دورے** آداب ☆ د **علاقائي دورے** متعلق د **مركزي مجلس شوریٰ** د مدني مشورو منتخب مدني ګلونه وغيره.

راځئ چې د ترغيب د پاره د **علاقائي دورے** يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## جمات آباد شو

د كراچئ د يو اسلامي ورور بيان دے چې زمونږ مدني قافله د پنجاب د يو ښار يو جمات ته لاړه. په دروازه جرنده [يعني تاله] لګيدلي وه، دروازه مو چې بيرته كړه نو هر يو څيز د دوړو خاورو نه ډك وو، داسې معلوميدله لكه چې د ډيرې مودے نه جمات بند دې، مونږه ټولو جمات ښه صفا كړو، د مازديګر لمَانځه نه پس د مدني دورے د پاره د لوبو ميدان ته ورغلو او په لوبو كښې مشغولو ځلمو ته مو د نيكئ دعوت وركړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه يو څو ځلمي سمدستي زمونږ سره راتللو ته تيار شو،

جمات ته راغلل، لمُونځ ئې ادا كړو او د سنتو ډك بيان اوريدلو سعادت ئې حاصل كړو، مونږ په هغوئي انفرادي كوشش اوكړو او هغوئي د جمات آبادولو نيت اوكړو. هلته موجود يو سپين ګيري كس چې دا منظر اوليدولو نو په ستركو كښې ئې اوښكې راغلې او هغه اُووئيل چې ما خو به خلقو ته د جمات آبادولو وئيل خو زما خبره چا نه منله؟ **اَلْحَمْدُلِلّٰه**! نن د عاشقانِ رسول د **علاقائي دورے** په بركت زمونږ جمات آباد شو.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د رَبِيعُ الْاَوَّل فضائل او بركات او په دې مُقَدَّسه مياشت كښې كيدونكو د نيكو اعمالو متعلق بيان اوريدلو، زمونږه بُزرګانِ دين به دا مياشت په ډير زيات احترام او ادب او په عبادت او رياضت كښې تيروله. په دې مياشت كښې به ئې خاص طور د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ميلاد شريف مناوولو، ډير خيرات او صدقات به ئې كول، د غريبانو، مسكينانو او بے وسو خلقو مدد به ئې كولو، راځئ چې د ميلاد شريف يوه واقعه واورو: چنانچه

## ربيعُ الاول او د اِربل بادشاه

د اِربَل د بادشاه نوم ابو سعيد مظفر رحمۃُاللهُ تعالٰى عَلَيه وو هغوئي د عظيم فاتِح سلطان صلاحُ الدّين اَيُّوبي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اَوښے [يعنى د خور خاوند] وو، دا بادشاه ډير سخى، نيک اور عادل او عالِم هم وو، ډير بهادر او عقلمند وو. هغوئي ډير ښكلي يادګارونه پريښودي دي. هغوئي به هر كال د ربيعُ الاول د مياشتې ډير ادب و احترام كولو او خاص طور په دې



www.dawateislami.net

مياشت كښې به ئې ميلاد شريف په ډير اهتمام سره مناوولو، ډير لوئې محفل به ئې منعقد كولو (البداية والنهاية،۹/۱۸ملخصاً) په دې محفل كښې د شريك كيدونكو خلقو بيان دے چې مونږه په هغه محفل ميلاد كښې د پخو كړو پينځه سوه چيلو سرونه ليدلي وو، لس زره چرګان، د فيرنئ يو لاك پيالے او د حلوے ديرش زره تالونه مو ليدلي وو. ډيرو علماؤ او صوفياؤ به په هغه محفل ميلاد كښې شركت كولو، بادشاه (ابوسعيد مظفر رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہ) به هغوئي ته قيمتي جامے وركولې، انعامات به ئې وركول، هغه به هر كال په محفلِ ميلاد باندې درې لكه دينار خرچ كولو، د ميلمنو د پاره به د اوسيدلو جدا ځائے وو، هغه به هر كال په هغه كور يو لاك ديناره خرچ كول، د حَرَمَين شريفَين لارې صحيح كولو باندې به ئې ديرش زره ديناره خرچ كول، دا صدقات به د هغه صدقاتو نه علاوه وو كوم به ئې چې پټ وركول.(سبل الهدى والرشاد،۱/۳۶۲بتغير قليل)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چې زمونږه بُزُرګانِ دين رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہم به د دې مياشتې ډير زيات ادب و احترام كولو، په دې مياشت كښې به ئې ډير خيراتونه كول، د خوږ آقا مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ميلاد شريف به ئې مناوولو، ياد ساتئ! د ميلاد شريف بيشميره فضائل و بركات دي. چنانچه

حضرت سيدنا امام عبدُ الرحمان ابنِ جوزي رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہ

فرمائي: په جَشنِ ولادت باندې خوشحالي کولو والؤ د پاره دا خوشحالي د جَهنَّم نه رکاوټ جوړيږي. اے د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتيانو! ستاسو د پاره زيرے دے، تاسو په دُنيا او آخرت کښې د ډير زيات خير حقدار جوړ شوئ. د خوږ آقا حضرت سيدنا اَحمدِ مُجتبٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جشنِ ولادت مناوولو والؤ ته به برکتونه، عزت او فخر نصيب کيږي، د ملغلرو عمامه او شنه جُبه به ور واغوستلے او جنت ته به داخل کړے شي، بيشميره محلات به هغه ته عطا کړے شي او په هر محل کښې به حُوره وي. په خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډير زيات درود شريف لولئ، جشنِ ولادت مناو کړئ او دا ډير عام کړئ.

(مجموع لطيف النبی فی صيغ المولد النبوی القدسی، مولد العروس، ص۲۸۱، ملتقطاً)

## د جشنِ ولادت مناوولو ثواب

شيخ عبدالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائيلي دي: د سرکار مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت په شپه د خوشحالئ کوونکو جزا دا ده چې الله تعالٰى به هغوئي په خپل فضل و کرم جَنَّاتُ النَّعِيْم ته داخل کړي. مسلمانان د هميشه نه د محفلِ ميلاد انعقاد کوي او د وِلادت په خوشحالئ کښې دعوتونه [يعني طعامونه] ورکوي، خوراکونه پخوي او ډيرې صدقے او خيراتونه کوي. او ښه د خوشحالئ اِظهار کوي او د زړه د اِخلاصه خرچے کوي او ورسره د هغوئي صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادَتِ باسعادت د ذِکر اِهتِمام هم کوي او خپل کورونه ښائسته کوي او دَ دغه ښو کارونو په برکت الله تعالٰی په هغوئي باندې خپل رحمتونه نازلوي. (مَاثَبَتَ بالسُّنَّة، ص۱۵۵ ملتقطًا)

لِـهذا مونږ له پکار دي چې د شريعت په دائره کښې په خاص اهتمام سره دا مبارکه مياشت ښه په نيکو اعمالو کولو کښې تيره کړو، په دې کښې اجتماعِ ميلاد منعقد کړو، په لاسونو کښې مدني جنډے اوچتې کړو او د ميلاد شريف په جلوس کښې شريك شو، په دې ورځ ډيره ډيره صدقه او خيرات اوکړو، اِنْ شَآءَ الله د دې به ډير ډير برکتونه حاصل کړو.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د ګرځیدلو سنتونه او آداب

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! راځئ چې د امیر اهلسنت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د رسالے **163** مدني ګلونه نه د ګرځیدلو سنتونه او آداب واورو:

۞ پاره **15** سوره بني اسرائِیل آیت **37** کښې د ربُّ الْعِباد عَزَّوَجَلَّ ارشاد دې:

وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُوْلًا ﴿۳۷﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او په زمکه په لوئي سره [یعني په تکَبُّر] مه ګرځه، بیشکه هیڅ کله به نه زمکه اوشلوے او نه به هیڅ کله په اوچتوالي کښې غرونو ته اورسیږې. ۞ د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د **1197** صفحو کتاب ''بهارِشریعت'' جِلد **3** صفحه **435** کښې فرمانِ مُصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: یو کس دوه څادرې اچولې په لوئي سره [یعنی په فخر] روان وو او په تَکَبُّر کښې وو، هغه په زمکه کښې خخ کړے شو، هغه به ترقیامته پورې مسلسل خخیږي. (صحیح مسلم

ص1156 حديث2088) ۞ حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به بعضې وخت کښې په روانه کښې د يو صحابي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ لاس په خپل لاس مبارك کښې اونيولو. (المعجم الکبير ج7 ص277 حديث 7132) ۞ رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې روان وو نو مخې طرف ته به لږ شان ټيټ شوے تللو، لکه د لوړې نه چې راکوزيږي. (الشَّمائل المحمّدية للترمِذى ص87 رقم118) ۞ په غاړه کښې د سرو زرو يا د هر قسم اوسپنې زنځير اچولے، خلقو ته د ښودلو د پاره خلاص ګريوان په کبر هيڅ کله مه ګرځئ، ځکه چې دا د کم عقلو، کبرژنو او فاسِقانو ګرځيدل دي. په غاړه کښې د سرو زرو چَين يا بريسليټ (Bracelet) اچول د نارينه د پاره حرام، او نور د هر قِسم اوسپنې هم ناجائِزه دي. ۞ که څه وجه نه وي نو د لارې په غاړه غاړه په درميانه رفتارسره ځئ، نه دومره تيز چې خلق ستاسو په تماشه شي چې دا چرته په منډه منډه روان دے! او نه دومره په قلاره چې خلق مو بيمار اوګنړي. د اَمرَد [يعني بے ګيرې هلك] لاس نيول نه دي کار، شَهوت سره د هر يو اسلامي ورور لاس نيول يا مصافَحه کول (يعني لاس مِلاوول) ياغاړه ورکول حرام او جهنّم ته بوتلونکے کار دے. ۞ په لاره تللو کښې



www.dawateislami.net

پريشان نظري (يعني بے حاجته اخوا ديخوا كتل) سُنَّت نه دي، نظر ښكته ساتئ او په وقار [يعني احترام] سره ځئ. حضرت سيِّدنا حَسَّان بن اَبِـي سِنان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د اختر د لـمانځه د پاره لاړو، چې بيرته ئې كور ته تشريف راوړو نو ښځې (يعني بي بي صاحبې) ورته اووئيل: نن دِ څومره ښځې اوليدلې؟ هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خاموشه وو، چې كله هغې ډير ځل تپوس اوكړو نو اوئے فرمائيل: ''دكور نه د وتلو نه واخله بيرته ستا خوا ته راتلو پورې ما (د خپلو ښپو) ګوتو ته كتل.'' (كتابُ الورع مع موسوعه امام ابنِ ابي الدّنيا ج1 ص205) سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ الله والا خلق چې په لاره روان وي نو بے ضرورته او خاص طور د ګنړې په وخت كښې هډو اخوا ديخوا ګوري نه، چې هسې نه چرې په هغه چا مې نظر پريوځي چا ته چې شرعاً د كتلو اِجازت نه وي! دا د هغه بزرګ تقوىٰ وه، مسئله دا ده كه چرې په كومه زنانه باندې بے اختياره نظر پريوځي اوفوراً ئې ترې واړوي نوګنهګار نه دے. ۞ د چا د كور بالكوني [ګيلرئ] يا كړكئ طرف ته بے ضرورته كتل مناسِب نه دي. ۞ په تلَلو يا په پوړو ختلو كوزيدلو كښې د پيزار اواز پيدا كيدل نه دي پكار، زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د

پيزار ”درب“ خوښ نه وو. ۞ که په لاره کښې دوه زنانه ولاړې وي يا روانې وي نو د هغوئي په مينځ کښې مه تيريږئ ځکه چې په حديثِ پاك کښې د دې منع راغلـي ده. (ابوداؤد ج 4 ص 470 حديث 5273) ۞ په روانه، په ولاړه بلکه په ناسته هم د خلقو په مخکښې تُوکل، پوزه سونړول، په پوزه کښې ګوته وهل، غوږونه ګرول، د بدن خِيري په ګوتو راولاړول، د پردے ځائے ګرول وغيره د ادب خلاف دي. ۞ بعضے خلق چې په لار روان وي نو د هغوئي عادت وي چې کوم شے هم مخې له ورځي هغه په لتو وهي، دا قطعاً غير اخلاقي طريقه ده، په دې کښې د ښپو د زخمي کيدو هم خطره وي، او اخبارونه يا د ليك والا ډبي، پيکټې او د مِنرل واټر خالي بوتلې وغيره په لتو وهل بے ادبي هم ده.

قِسما قِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب ”سُنّتیں اور آداب“ او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُـهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے ”**101 مدنی پھول**“ او ”**163 مدني ګلونه**“ هديةً واخلئ او د دې مُطالَعه اوکړئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَـلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصاً

هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹



www.dawateislami.net

خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په مينځ کښې کښينولو، دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم حيران شو چې دا څوك د اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث: ۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د ټولو نه لوئي سَخي

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَارَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

## نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي.

## د دُرود شريف فضيلت

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشَه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا رِوايت فرمائي: ما د پيشمني په وخت كښې په كور كښې جامے ګنډلي چې ناڅاپه مې **ستَن** د لاسه پريوته او په دې ساعت ډِيوه هم مړه شوه. په دې كښې د **مدينے تاجدار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كور ته را داخِل شو نو ټول كور د **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روښانه مخ مبارَك په نُور **روښانه** شو او [په هغه رنړا كښې] **ورَكه شوي ستَن** پيدا شوه. (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص. موسسة الريان بيروت)

سُوزَنِ گُمشُدہ ملتی ہے تبسُّم سے ترے
شام کو صُبح بناتا ہے اُجالا تیرا (ذوقِ نعت)

وركه ستن را پيدا كيږي په مُسكا ستاسو        د ماښامه سحر جوړيږي په رڼړا ستاسو

**مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

❁ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخري پورې بيان واورئ ❁ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ❁ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!        صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! نن زمونږ د بيان موضوع ده **"د تېولو نه لوئي سَخي"** چې په دې كښې به مونږه اِنْ شَآءَاللّٰه ډيرې ښكلې ښكلې خبرې د اوريدلو سعادت حاصلوو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!        صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سركار مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم سخاوت

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله هَوزَني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه رِوايت دے چې په مُقامِ

[1] (معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢)

حَلب (شام) کښې مُـؤَذِّنِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا بِلال رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سره زما ملاقات اوشو او د هغوئي نه مې د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خرچ په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوئي اُووئيل چې د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به څه (مال) وو، د هغې د خرچ کولو ذِمَّه داري به زما وه، د بِعثَت نه وفات شريفه پورې دا کار زما په حواله وو- چې کله به څوک بے لباسه مسلمان د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته راغلو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ما ته حُکم کولو او ما به د چا نه قرض راواخستلو او څادر به واغستلو او هغه ته به مې ورواغوستلو او طعام به مې هُم پرې اوخوړلو- يوه ورځ يو مُشرِک راغـے او ما ته ئې اُووئيل: اے بِلال! ته زما نه سِوا د بل چا نه قرض مه اخله، ما سره ډير مال دے- ما هُم دغسې اوکړل، يوه ورځ ما اودس اوکړو او اذان کولو د پاره اودريدلم نو څه ګورم چې هغه مشرک د ډيرو تاجرانو سره زما خوا ته راغـے او ما ته ئې ډير بد رَد اُووئيل، او دا ئې اُووئيل: "آيا تا ته معلومه ده چې په وعده کښې څو ورځې پاتې دي-" ما اُووئيل: د وعدے وخت نزدے راغلے دے- هغه اُووئيل: صرف څلور ورځې باقي پاتې دي، که په دې موده کښې تا قرض ادا نه کړو نو زه به تا غلام جوړ کړم او څيلئ به دربانديِ څرووم څنګه به چې تا مخکښې څرولې- ما چې دا واوريدل نو زما سره فکر پيدا شو، تر دې چې ما د ماسخُتن لـمونځ اوکړو نو رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم خپل کور مبارک ته تشريف يوړلو، ما ترينه اجازت واغستلو او په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو چې يارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور و پلار دِ په تاسو قربان شي، هغه مشرک چې زه

ترينه قرضه اخلم، هغه ما ته داسې وئيلي دي، ستاسو سره هُم د قرض ادا کولو د پاره څه نشته او زما سره هُم هيڅ نشته، هغه به ما بيا رُسوا کوي، تاسو اجازت راکړئ چې زه هغه خلقو ته ورشم کوم چې مسلمانان شوي دي، تر دې چې **الله** پاک خپل رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دومره مال عطا کړي چې په هغې زه خپل قرض ادا کړم، ما دا اُووئيل او د هغه ځائے نه را اُووتلم- د سحر په وخت کښې چې زه د تللو په اراده بهر اُووتلم نو يو کس په منډه منډه زما خوا ته راغلو او اُوئې وئيل: ”اے بلال! رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو غوښتي ئې-“ زه چې هلته اورسيدلم نو څه ګورم چې سامان بار شوي څلور اوښان موجود دي- ما د دننه ورتللو اجازت اوغوښتلو نو حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: مبارک شه! **الله تعالٰی** ستا د قرض د ادائيګئ ذريعه جوړه کړه، بيا ئې اُوفرمائيل: تا څلور اوښان اوليدل؟ ما عرض اوکړو: آو جي- خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: دا اوښان د فَدَک حاکِم راليږلي دي، دا په هغو باندې بار کړي غَلَّه او کپړے ټولې ته کيږده او د دې په ذريعه خپل قرض ادا کړه- ما د حُکم تعميل اوکړو او هُم دغسې مې اوکړل، بيا زه جُمات ته راغلم او رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته مې سلام عرض کړو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را نه تپوس اوکړو: د هغه مال نه تا ته څه فائده حاصله شوه؟ ما عرض اوکړو: **الله** پاک هغه ټول قرض ادا کړو، کوم چې د هغه په رسول وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل چې آيا د هغه مال نه څه پاتې هُم دي؟ ما عرض اوکړو: آو جي- هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: ”ما ته د هغې نه هُم سبکدوش (يعني بے تَعَلُّقه) کړه! تر څو

پورې چې دا څه ځائے ته اُو نه رسي تر هغې به زه كور ته نه ځم-" هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د ماسخُتن د لـمانځه نه فارغه شولو نو زه ئے اوغوښتلم او د هغه باقي مال د حال تپوس ئے رانه اوكړو، ما عرض اوكړو: هغه زما سره دے- څوک سوالګر ملاو نه شو- نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شپے په جُمات كښې پاتې شولو- بله ورځ ئې د ماسخُتن د لـمانځه نه پس بيا زه اوغوښتلم، ما عرض اوكړو: يَارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! الله پاک تاسو سُبَكدوش كړلئ [يعني هغه مال د الله پاک په لاره كښې وركړے شو]- دا ئې چې واوريدل نو تكبير ئې اُووئيلو او د الله پاک شكر ئې ادا كړو، ځكه چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ويره لرله چې چرته داسې اونشي چې مرګ راشي او هغه مال زما سره وي- د هغې نه پس زه په حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې شا ته روان شوم، تر دې چې هغوئي خپل مكانِ عاليشان ته تشريف يوړلو- (سنن ابو داؤد، كتاب الخراج والفئ والامارة، ج۳، ص۲۳۰-۲۳۲، حديث۳۰۵۵)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليدل چې زمونږه خوږ آقا مَكّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څومره سخاوت كولو چې لږ شان مال به ئې هُم ځان سره ساتل نه خوښول، بلكه تر څو پورې به ئې چې په خلقو نه وو تقسيم كړے تر هغې پورې به نه مُطمئن كيدلو، پخپله د يو څيز د حاجت لرلو باوجود به ئې هغه څيز په غريبانو او محتاجانو صَدَقه كولو او سوالګر ته به ئې دومره ډيره وركړه كوله چې هغه ته به دوباره د غوښتلو حاجت نه پيښيدلو- خو افسوس! زمونږه حال دا دے چې د زړه نه مو د دُنيا مَحبَّت هډو د كميدلو نوم نه اخلي او هر وخت د دُنيا د نعمتونو او سهولتونو زياتولو په

کوشش کښې لګيا اوسو-

حضرت سَيِّدُنا مُجَمِّع انصاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دَ يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په باره کښې بيان کوي چې هغوئي اُوفرمائيل: "د الله تعالٰی دا احسان چې زه ئي د دُنيا (د سهولتونو او اسانو) نه بچ کړې يم، د دے (يعني د دُنيا) د فراخئ (مثلاً د مال دولت وغيره) په صورت کښې د ورکړو شوو نعمتونو نه غوره دے. ځکه چې الله تعالٰی د خپل خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره دُنيا نه ده خوښه کړې، ځکه ما ته هغه نعمتونه کوم چې الله تعالٰی د خپل نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره خوښ کړي دي، د هغه نعمتونو نه خواږه دي،کوم چې هغه د خپل نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره ناخوښه کړي دي. (شُعَبُ الاِيمان ج٤ص١١٧ حديث٤٤٨٩ مُلَخَّصاً) د دُنيا د مال او دولت ډير والے او د دې بنه ډير سهولتونه په لاس راتلل بيشکه نِعمَت دے خو د دې ځيزونو نه بچ اوسيدل د دې نه غټ نِعمَت دے. (نیکی کی دعوت، ص۳۵)

پیچھا مرا دُنیا کی محبّت سے چھڑا دے
یاربّ! مجھے دیوانہ محمد کا بنا دے

دَ دُنيا د محبَّت نه خلاصے راکړې　　ديوانه د محمَّد مې کړې اے خدايا!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دُنيا خوږه او شنه ده

د رَحمَتِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فَرمانِ مُعَظَّم دے: دُنيا خوږه، شنه ده، خوك چې په دې کښې په **حلاله طريقه** مال ګټي او په صحيح حقونو کښې ئي خرچ کوي الله تعالٰی به هغه ته ثواب ورکوي او هغه به جَنَّت ته داخل کړي او

خوك چې په دې كښې په **حرامه طريقه** مال ګټي او په غيرِ حق كښې ئې خرچ كوي، **اللّٰه** تعالىٰ به هغه **دَارُالْهَوَان** (يعني د ذِلَّت كور) ته داخل كړي. (شُعَبُ الايمان ج٤ ص ٣٩٦ حديث ٥٥٢٧)

**حضرت** عَلَّامه عبدُ الرَّؤف مَناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې په **فَيضُ الْقَدِير** كښې ليكي: معلومه شوه چې دُنيا په اصل كښې مذموم [يعني بده نه ده] ځكه چې دا د آخِرت پټے دے. په دې وجه خوك چې د شريعت په اِجازت د دُنيا يو خيز حاصل كړي نو دا خيز به په آخِرت كښې د هغه مدد كوي . (فيضُ القدير ج٣ ص٧٢٨ تحت الحديث ٤٢٧٣) لِـهذا مونږ ته هُم پكار دي چې د ضرورت نه زيات د دُنيا په مال پسې منډې نه وهو، او د خپل وَس مطابق صدقه او خيرات هُم كوو-

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: صَدَقه په مال كښي كمے نه كوي او **اللّٰه** **تعالیٰ** د معاف كولو په وجه د بنده عِزَّت زياتوي او څوك چې د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره اِنكِساري [يعني عاجزي] كوي، نو **اللّٰه** پاک هغه ته اوچتوالے وركوي- (صحيح مسلم ص ١٣٩٧ حديث ٢٥٨٨)

زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه د بے نيازئ دا شان وو چې په خپل كور مبارك كښې به ئې مال ساتل هُم نه خوښول بلكه فوراً به ئے صَدَقه كولو، چنانچه يوه ورځ د مازديګر د لـمانځه سلام اوګرځولو سره سمدستي نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل مكانِ عاليشان ته تشريف يوړلو، بيا ئې زر بيرته بهر ته تشريف راوړلو، صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان حيران شولو! هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل چې ما ته په لـمانځه كښې خيال راغے چې



www.dawateislami.net

د صَدَقے څه سره زر په کور کښې پراته دي، ما ته خوښه نه شوه چې شپه راشي او هغه په کور کښې پراته اوسي، ځکه ورغلم او د هغې د تقسیمولو مې اُووئیل- (صحیح البخاری، کتاب العمل فی الصلاۃ، ج۱، ص۴۱۱، حدیث۱۲۲۱)

حضرتِ سَیِّدُنا ابُوذَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: یوه ورځ زه د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ووم، چې کله هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُحُد غَر اولیدلو نو اُوئے فرمائیل: "که دا غر زما د پاره سره زر جوړ شي نو زه به دا نه خوښووم چې د دې نه دِ یو دِینار هُم ما سره د درې ورځو نه زیات پاتې شي، سِوا د هغه دِینار نه چې هغه زه د قرض ادا کولو د پاره ساتلے پریږدم- (صحیح البخاری، کتاب فی الاستقراض، ج۲، ص۱۰۵، حدیث۲۳۸۸)

## ټولو نه غټ سخي

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: "رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خلقو کښې **ټولو نه زیات سخي دے** او د سخاوت دریاب به ټولو نه زیات هغه وخت په جوش کښې وو چې کله به په رَمَضان کښې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره جِبرئیل عَلَیْہِ السَّلَام ملاقات د پاره حاضریدلو، جِبرئیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام به (د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په) هره شپه د ملاقات د پاره حاضریدلو او نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغوئي سره د قُرآنِ عظیم دَوَر فرمائیلو." پس **رسُولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د تیزې لګیدونکې هوا نه هم زیات د خیر په مُعامَله کښې سخاوت فرمائیلو. (بُخاری ج۱ ص۹ حدیث٦)

واه کیا جُود و کرم ہے شہِ بطحا تیرا نہیں سنتا ہی نہیں مانگنے والا تیرا

دھارے چلتے ہیں عطا کے وہ ہے قطرہ تیرا
تارے کھلتے ہیں سخا کے وہ ہے ذرہ تیرا
اغنیا پلتے ہیں در سے وہ ہے باڑا تیرا
اصفیا چلتے ہیں سر سے وہ ہے رستا تیرا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حضرتِ سَیِّدُنا جابِرِ بن عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چي حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كله هُم يو **غوښتونكي** ته په جواب كښي د لَا (يعني نه) لفظ نه دے فرمائيلے- (شفاء شريف جلد١ص١١١) يو ځل د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار كښي اَويا زره دِرهَمه راوړے شو نو هغه دِرهمونه ئې په يو پزَكي [چټائي] باندې كيښودل او خوا ته اودريدلو او تقسيمول ئې شروع كړل، يو سوالګر ئې هُم تش لاس بيرته اُو نه ليږلو، تر دې چي ترينه فارِغه شولو- (اخلاق النبی وآدابه لابي الشيخ الاصبهاني، واماذكر من جوده وسخائه، الحديث: ٩٥، ص٣٠، فيه ذكر سبعين الف درهم)

لَا وَرَبِّ العَرش جس کو جو مِلا اُن سے مِلا
بَٹتی ہے کونین میں نِعمت رسُولُ الله کی
ہم بھکاری وہ کریم ان کا خُدا ان سے فزوں
اور نہ کہنا نہیں عادت رسُولُ الله کی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

بعضې وخت به داسې هُم اوشو چي نبيِ رحمت شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د چا نه يو څيز واخستلو، قيمت ادا كولو نه پس به ئې هغه څيز هُم هغه ته يا بل كس ته عطا كړلو- يوه ورځ ئې د حضرتِ سَيِّدُنا جابِرِ بن عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه يو اُوښ واخستلو [يعني قيمت ئې ورته ادا كړلو]، بيا ئې هُم هغه اوښ هغوئي ته د عطيه [يعني تُحفے] په طور وركړلو- (صحيح البخاری، كتاب البيوع، ج٢، ص١٨، حديث٢٠٩٧) هُم دغسې ئې د اَميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا

عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه د اوښ يو بچے واخستلو [يعني قيمت ئې ورته ادا کړلو] بيا ئې هُم هغه [د اوښ بچے] حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) ته عطا کړو- (بخاری، ۲/۲۳، حديث:۲۱۱۵)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږ ته پکار دي چې مونږه د خپل خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې سُنَّت باندې هم د عمل کولو په نِيَّت يو بل ته د تُحفه پيش کولو عادت جوړ کړو ځکه چې تُحفه ورکولو سره مَحبَّت زياتيږي او دُښمني لرې کيږي-

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ياد ساتئ چې که تُحفه ورکول اخستل وي يا بل حساب کتاب خو چې هره معامله جائزه او د حلال مال په ذريعه وي، د حرام ګټلو او د حرام مال صدقه کولو ډير دردناک عذاب وي، چنانچه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: څوک چې حرام مال ګټي او بيا ئې صَدَقه کوي هغه به قبول نه کړے شي او که د هغې نه ئې خرچ کوي نو د هغه د پاره به په هغې کښې بَرَکت نه وي او [که د مرګ نه پس ئې] په ځان پسې پريږدي نو دا به د هغه د پاره دوزخ ته د تللو سامان وي- (شرح السنة للبغوی ج۴ ص۲۰۵،۲۰۶ حديث ۲۰۲۳ دار الكتب العلمية بيروت)

ځکه مونږ ته پکار دي چې د مال ګټلو د پاره صرف جائزه لار اختيار کړو او د حرام مال نه ځان لرې اوساتُو او د خپلو ضرورتونو نه علاوه هغه مال د الله پاک په لاره کښې په غريبانانو مسکينانو او حاجت مندو مسلمانانو ورونړو او خويندو باندې خرچ کړو، د جُماتونو، مدرسو په تعمير و اخراجاتو

او د نيکئ په نورو کارونو کښي ئي اولګوو نو اِنۡ شَآءَاللّٰه ډير ډير برکتونه او د دُنيا او د آخرت خيرونه به اوګټو، چنانچه دريمه سيپاره سُوۡرَةُالبَقَرَه آيت نمبر 274 کښي اِرشاد کيږي:

اَلَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ بِالَّيۡلِ وَ النَّهَارِ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً فَلَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ۚ وَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُوۡنَ ﴿۲۷۴﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: هغه خلق چې خپل مال خيرات کوي د شپے او د ورځې، په پټه او ښکاره، د هغوئي د پاره د هغې ثواب دے د هغوئي د ربّ سره، هغوئي ته به نه څه انديښنه وي او نه څه غم۔

هُم دغسې په دريمه سيپاره سُوۡرَةُالبَقَرَه آيت نمبر 261 کښي اِرشاد کيږي:

مَثَلُ الَّذِيۡنَ يُنۡفِقُوۡنَ اَمۡوَالَهُمۡ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنۡۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِيۡ كُلِّ سُنۡۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَ اللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ﴿۲۶۱﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان : د هغوئي مثال، چې خپل مال د الله په لار کښي لګوي د هغه دانے په شان دے چې کومې ووه (7) وَږي اونيول، په هر وَږي کښي سل دانے، او الله به ئي د دې نه هُم زيات کړي د چا لپاره چې اوغواړي، او الله د فراخئ والا عِلم والا دے۔

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږ که د الله پاک په لار کښي مال

خرچ کوو نو هغه د زمکو او آسمانونو او ټولو جهانونو مالِک و خالِق دے، هغه کریم و جَوَّاد عَزَّوَجَلَّ به کرم اوکړي او زمونږه مال به زیات کړي- ډیر خوش نصیبه مسلمانان داسې شته چې د خپل مال حُقُوقِ واجِبه ادا کوي، په خوشحالئ خوشحالئ په وخت زکوٰة او فِطره ادا کوي، خپل مالونه په مور و پلار خویندو وروڼړو او اولاد باندې لګوي، د خپلو خپلوانو او اقرِباء په وفات باندې د هغوئي د اِیصالِ ثواب د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني کارونو کښې خپل مال لګوي، د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم میلاد مناوهي، د دې نه علاوه نیک نِیَّتئ سره شفاخانے جوړوي، خپل مال د قرآن په ختم، په اِجتِماعِ ذِکر نعت او د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو کښې لګوي، د جماتونو او مدرسو په تعمیر کښې حِصَّه شاملوي، په درس و تدریس، درسِ نِظامي یعني عالِم کورس کولو کښې امداد کوي مَثَلًا د استاذانو تنخوا، د طلبه د کتابونو اخستلو او د قیام و طعام په اخراجاتو وغیره پوره کولو کښې خپله حِصَّه شاملوي، د قرآنِ کریم تعلیم عام کولو کښې مدد کوي، د جُمات په انتظامي معاملاتو کښې مَثَلًا د بجلئ، ګیس بِل وغیره ادا کولو کښې حِصَّه شاملوي، د دینِ اسلام د ترقئ او د نیکئ دعوت عام کولو کښې د **الله** پاک ورکړي مال نه خپله حِصَّه لګوي، مَثَلًا غریبانان اسلامي وروڼړو د دعوتِ اسلامي قافلو کښې لیږلو د پاره د هغوئي زادِ راه یعني خرچه ادا کوي، د سُنَّتو ډک درس ورکولو خواهشمندو غریبانانو اسلامي وروڼړو له ”فیضانِ سُنَّت“ واخلي، په خپل دُکان، مارکیټ، جمات، محلّه، دفتر، کالِج وغیره کښې د اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اصلاحي رسالے یا بیانات (میموري کارډ وغیره) تقسیمولو په

ذریعه خپل مال د **الله** پاک په لاره کښې خرچ کوي، د دې تپولو د پاره خوشخبري ده چې **الله** پاک به د هغوئي مال زياتوي او د دې ثواب به د 700 پورې زياتوي او صرف په دې بس نه ده بلکه اِرشاد فرمائي: **وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ** [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او الله به ئې د دې نه هُم زيات کړي د چا لپاره چې اوغواړي-

راځئ چې د ترغيب د پاره د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جُود و عطا نور واقعات واورو چې زمونږ په زړه کښې هُم د دِين د ترويج و اشاعت [يعني د دينِ اسلام د ترقئ او د نيکئ دعوت عام کولو]، د جماتونو د خدمت، د مسلمانانو د مالي مدد او د **الله** پاک په لاره کښې د مال خرچ کولو رغبت زيات شي- چنانچه

## د خوږ آقا ﷺ د سخاوت واقعات

په غزوۀ حُنين کښې نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره زيات سخاوت کړے وو چې د هغې اندازه نه شي لګيدے. هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کلو اوسيدونکو ډيرو خلقو ته سل سل اوښان عطا کړل. (بخاری،۳/۱۱۸،حدیث:۴۳۳۷)

حضرت صفوان بن اُمَيَّه رَضِیَ اللهُ عَنْه د (اسلام قبلولو نه مخکښې د غزوۀ حُنين په موقع باندې د) چيلو سُوال اوکړو، چې د هغې [چيلو] نه د دوو غرونو د مينځ ځنګل ډک وو، حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه تپولې چيلئ هغوئي ته ورکړې. هغوئي خپل قوم ته راغلو او اووئې وئيل: "اے زما

قومه! تاسو اسلام قبول کړئ! په الله مې دِ قَسم وي! محمد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) داسې سخاوت فرمائي چې بيا د محتاجۍ ويره پاتې نه وي.“

(مشكاة المصابيح، كتاب الفضائل والشمائل، ج٢، ص٣٤٦، حديث٥٨٠٦)

حضرت سعِيد بن مُسَيَّب رَضِيَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې حضرت صفوان بن اُمَيَّه رَضِيَ اللهُ عَنْه اوفرمائيل: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حُنين په ورځ ما ته مال را کول شروع کړو، حالانکه هغوئي زما په نظر کښې د ټولو نه زيات ناخوښه وو، پس هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته مسلسل را عطا کولو را عطا کول، تر دې چې زما په نظر کښې دټولو نه محبوب [يعني خوښ] جوړ شو. (سنن الترمذى، كتاب الزكاة، ج٢، ص١٤٧، حديث٦٦٦)

علمائے کرام فرمائي: د حُضورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه يوې ورځې سخاوت د سخي بادشاهانو د ټول عُمر د سخاوت او ورکړې نه زيات وو، ځنګل د چيلو نه ډك دے او حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [ئې خلقو ته] عطا کوي او غوښتونکي مسلسل ګڼړه جوړوي او حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شا ته کيږي. تر دې چې کله ټول مالونه تقسيم شو، نو يو د کلي اوسيدونکي کس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارك نه څادر مبارك راښکلو، چې د هغې په وجه ئې په مبارکه اُوګه او ملا مبارکه باندې د دې راښکلو نښه جوړه شوه، په دې ئې صرف دومره اوفرمائيل: اے خلقو! تادي مه کوئ، وَاللهِ تاسو به ما هيڅ کله بخيل نه وينئ.

(ملتقطاً صحيح البخارى، كتاب الجهاد والسير، باب الشجاعة فى الحرب ـ ـ الخ، الحديث ٢٨٢١، ج٢، ص٢٦٠، ملفوظات، ص١٢٢)

دغه شان د حضرت سَهْل بن سَعْد رَضِيَ اللهُ عَنْه بيان دے چې يوې

زنانه يو څادر راوړو، هغې عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا ما په خپلو لاسو جوړ کړے دے، ما ستاسو د اغوستلو د پاره راوړے دے. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ضرورت وو ځکه ئې هغه څادر واخستلو، بيا خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ خوا ته تشريف راوړلو او هُم هغه څادر ئې د تهبند [يعني لَنګ] په طور تړلے وو. يو صحابي اوليدلو نو عرض ئې اوکړو: څومره ښه څادر دے دا ما ته راواغوندئ. خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آو [يعني ښه]! څه ساعت پس حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مجلس نه پاڅيدلو، بيا ئې بيرته تشريف راوړلو او هغه څادر ئې راټول کړو او هغه صحابي ته اوليږلو. صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم هغه ته اووئيل: تا ښه اونکړل، حالانکه تا ته معلومه ده چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو سوال کوونکي سُوال هُم نه رد کوي. هغه صحابي اووئيل: قَسَم په خُدائے! ما خو صرف د دې د پاره سُوال اوکړو چې کله زه مړ شم نو (د تبَرُّك په طور) دا څادر زما کفن جوړ کړے شي. حضرت سَهْل بن سَعْد رَضِىَ اللهُ عَنْه فرمائي: هُم هغه څادر د هغوئي کفن جوړ شو. (صحيح البخاری، کتاب العمل فی اللباس، ج۴، ص۵۴، حديث ۵۸۱۰)

## د وِصالِ ظاهري نه پس سخاوتِ مُصطفٰی

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل! زمونږ خوږ آقا مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دواړو جهانو سردار دے، الله پاك هغوئي مالك و مختار جوړ کړے دے، د ټولو خزانو کنجياني ئې هم ورته

عطا کړي دي، خو د ځان سره څه پاتې نه ساتي، بلکه ټول تقسيموي. بلکه د خپل ظاهري ژوند په شان د وصال نه پس هم د خپل اُمَّت پريشان حالو خلقو ته ورکړه کوي. که د چا ذِهن کښې وسوسه راشي چې حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د دُنيا نه تشريف وړے دے نو اوس څنګه د سوال کوونکو مدد کوي؟ نو ياد ساتئ چې! د الله پاك ټول انبياء په خپلو خپلو مزاراتو کښې ژوندي دي.

اعلٰی حضرت امامِ اهلسُنَّت شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او ټول انبياء حقيقي، دُنياوي، روحاني او جسماني ژوند سره ژوندي دي. په خپلو قبرونو کښې لمُونځونه کوي، رزق ورکولے کيږي، چرته چې غواړي تشريف وړي، د زمکې او آسمان په سَلطنت کښې تَصَرُّف کوي. رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **اَلْاَنْبِيَاءُ اَحْيَاءٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْن** يعنې انبياء په خپلو قبرونو کښې ژوندي دي او لمُونځ ادا کوي. (مجمع الزوائد باب ذکر الانبياء عليهم السلام ۸/۳۸۶، حديث: ۱۳۸۱۲ از فتاوٰی رضويه، ۱۴/۶۷۵) او په يو بل حديثِ پاك کښې دي: **اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ فَنَبِيُّ اللّٰهِ حَيٌّ يُرْزَقُ** يعنې بيشکه الله پاك په زمکه باندې د انبياؤ بدنونه خوړل حرام کړي دي، د الله نبـيان ژوندي دي او هغوئي ته رزق هم ورکولے کيږي. (سنن ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ذکر وفاته ودفنه صلى الله عليه وسلم، ج۲، ص۲۹۱، الحديث ۱۶۳۷) او امام جلالُ الدين سُيُوطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: انبيائے کرامو ته د مزاراتو نه بهَر د تللو او په آسمانونو زمکو کښې د تَصَرُّف کولو اجازت وي. (الحاوی للفتاوٰی رساله تنوير الحلک دار الفکر بيروت ۲/ ۲۶۳ فتاوٰی رضويه، ج۱۴، ص۶۸۵ تا ۶۹۰)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بیان شوی احادیثو او د عُلمائے کرامو د تصریحاتو نه معلومه شوه چې زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او نور انبیاء عَلَیْہِمُ السَّلام په خپلو خپلو قبرونو کښې ژوندي دي، او هغوئي ته رزق هم ورکولے کیږي، په ټوله دُنیا کښې چې کوم ځائے ته غواړي تشریف وړي او د زمکې او آسمانونو په سَلطنت کښې تَصَرُّف هُم کوي. راځئ چې! د حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِصال نه پس د خپلو اُمَّتیانو د حاجتونو پوره کولو او مدد کولو یو څو واقعات واورو:

حضرت سَیِّدُنا شیخ احمد بن نفیس رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: زه یو ځل په مدینه منوره کښې د سختې لوَږې په حالت کښې د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روضۂ انور ته حاضر شوم، عرض مې اوکړو: یا رَسُولَ اللّٰہ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه اوږے یم. ناڅاپه مې سترګې پټې شوے، په دې دوران کښې یو کس رابیدار کړم او ځان سره د تللو دعوت ئې راکړو، زه هغوئي سره کور ته لاړم، کوربه راته کجورې، غوړي او د غنمو ډوډۍ پیش کړه او اوئې وئیل: ځان ښه موړ کړه، ځکه چې ما ته زما نیکه مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو د میلمستیا حکم راکړے دے. چې کله هُم تاسو ته لوږه محسوسیږي نو زمونږ خوا ته تشریف راوړئ. (حُجَّۃُ اللّٰہِ عَلَی الْعٰلَمِین ص ۵۷۳)

حضرت سَیِّدُنا احمد بن محمد صوفي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: زه د دریو میاشتو پورې په ځنګلونو کښې ګرځیدمه، تر دې چې زما ټوله خرمن اوریژیدله. آخر دا چې زه مدینے مُنَوَّرے ته [د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

وَسَلَّم روضهٔ انور ته] حاضر شوم او ما د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې سلام عرض کړو او اُوده شوم. په خوب کښې راته د نبـي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار سعادت نصيب شو، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: احمد! ته راغلې! اوګوره ستا څه حال شوے دے! ما عرض اوکړو: **اَنَا جَائِعٌ وَاَنَا ضَيْفُکَ يا رَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! يعنې يا رَسُولَ **الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه اوږے يم او ستاسو ميلمه يم. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: لاس کولاو کړه! چې ما لاس کولاو کړو نو په هغې کښې يو څو دِرهمه وو، چې سترګې مې اوغړيدلې نو هغه درهمې زما په لاس کښې موجودې وے، زه بازار ته لاړم او ډوډئ او فالوده مې واخستله او اومې خوړله.

(جَذبُ القُلوب ص۲۰۷، وفاء الوفاء ج ۲ ص ۱۳۸۱، عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، ص۲۷)

مانگیں گے مانگے جائیں گے مُنہ مانگی پائیں گے

سرکار میں نہ "لا" ہے نہ حاجت "اگر" کی ہے

حضرت علامه ابُو الفُرَج عبدُ الرحمان بن علي اِبنِ جَوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل کتاب "**عُيُونُ الْحِکايات**" کښې ليکي: د يو پرهيزګار کس بيان دے چې: "ما مسلسل د دريو کالو نه د حج دُعا کوله، خو زما ارمان نه پوره کيدلو" په څلورم کال د حج موسم وو او زړه مې د حرم په آرزو کښې بے قراره وو. يوه شپه چې اوده شوم نو زما اُوده قِسمَت رابيدار شو، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** په خوب کښې راته د جنابِ رسالت مآب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: "ته دا کال حج له لاړ شه." چې را

بيداره شوم نو زړه مې ډير خوشحاله وو، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ آواز "چې په دې کال حج له لاړ شه." زما په غوږونو کښې د شهدو نه هُم زيات خوږ تاويدلو. چې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه د حج اجازت ميلاؤ شو نو ډير زيات خوشحاله شوم. ناڅاپه را ياد شو چې زما سره خو زادِ راه (يعنې د سفر خرچه) هم نشته! د دې خيال په راتلو زه پريشانه شوم. په دويمه شپه را ته بيا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، خو ما د خپلې غريبۍ ذکر اونکړے شو. دغه شان په دريمه شپه هم راته په خوب کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار نه حکم اوشو چې: " ته دا کال حج له لاړ شه ." ما سوچ اوکړو چې که خوږ آقا مکي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په څلورم ځل زما په خوب کښې تشريف راوړي نو خپل مالي حالت به ورته عرض کووم.

په څلورمه شپه سرورِ کائنات، شاه موجودات صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا په ما رحم اوفرمائيلو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: " ته دا کال حج له لاړ شه." ما په ډيره عاجزۍ عرض اوکړو: "زما خوږه آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما سره خرچه نشته." ارشاد ئې اوفرمائيلو: "ته په خپل کور کښې فلانکے ځائے اوکنه! هلته به ستا د نيکه زغره [يعني فولادي جيکټ] موجود وي." دا ئې اوفرمائيل او تشريف ئې يوړلو. سحر چې رابيداره شوم نو ډير خوشحاله ووم. د سحر د لمانځه نه پس مې چې ښودلے شوے ځائے را اوکنستلو نو هلته واقعي يوه قيمتي زغره موجوده وه، او هغه بالکل صفا سُتره وه، لکه چا چې هډو استعمال کړې نه وي! ما هغه په څلور زره (4000) ديناره خرڅه کړه او د الله پاك شکر مې ادا کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظرِ

عِنايت په وجه زما د حج د اسبابو انتظام پخپله اوشو.

(عیون الحکایات ص۳۲۶ملخصًا،از عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، ص۸۴)

جب بُلایا آقا نے خُود ہی

اِنتظام ہو گئے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ دِينِ اسلام مونږ ته د مسلمانانو د خيرخواهئ، حُسنِ سلوك او د غريبانو د مدد او د يتيمانو د كفالت كولو درس راكړے دے، ځكه هر كال صاحبِ نصاب كسانو باندې د شرائطو موجود كيدلو په صورت كښې زكوٰة فرض دے، د نفلي صدقاتو فضائل ئې هم بيان كړي دي او خلقو ته ئې د سخاوت كولو درس هم وركړے دے او د بُخل مُذَمَّت ئې هُم كړے دے. لِهٰذا مونږ له هم پكار دي چې د زكوٰة په دې اهمه فريضه ادا كولو كښې سُستي نه كوو او خالص د الله د رضا د پاره ئې ادا كوو او د نفلي صدقاتو ذِهن هم جوړ كړو چې صدقه الله پاك خوښوي او د آفتونو، مصيبتونو لرې كولو سره سره د غريبانو مِسكينانو ضرورت هم پورا كوي.

راځئ چې! د سخاوت جذبه پيدا كولو د پاره د سخاوت په فضائلو پينځه فرامِينِ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورو:

(1).... سخاوت د **جنت** د ونو نه يوه ونه ده، چې د هغې ځيلئ زمكې طرف ته راښكته شوي دي، څوك چې د هغې [ځيلو] نه يوه ځيلئ اونيسي، نو

هغه [ځيلئ] ئې جنت ته بوځي.(1)

(2) خو نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **تَجَافَوْا عَنْ ذَنْبِ السَّخِيِّ فَاِنَّ اللّٰهَ اٰخِذٌ بِيَدِهٖ كُلَّمَا عَثَرَ** يعنې د سخي غلطئ مُعاف کړئ، ځکه چې کله هغه خطا کوي نو **الله پاك د هغه لاس نيسي.**(2) يعنې **الله** پاک د هغه مددګار وي چې هغه ته په هلاکت کښې پريوتلو نه خلاصے عطا کوي. (اتحاف السادة المتقين، ۹/ ۷۲۵، ملخصاً)

(3) فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: **اَلْجَنَّةُ دَارُ الْاَسْخِيَآء** يعنې جَنَّت د سخيانو کور دے.(3)

(4) زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: سخي **الله** پاك ته نِزدې دے، جنت ته نزدې دے، خلقو ته نزدې دے، د اور نه لرې دے او کنجوس د **الله** پاک نه لرې دے، د جنت نه لرې دے، د خلقو نه لرې دے، اور ته نِزدې دے- او جاهل سخي د **الله** پاک په نِزد د بخيل عالِم نه بهتر دے.(4)

(5) يو بل حديث کښې اِرشاد فرمائي: اے انسانه! که ته پاتې شوے مال خرچ کړې نو ستا د پاره ښه ده او که هغه حصار اوساتې نو ستا د پاره بده ده او که په قدر د ضرورت ئې ځان سره اوساتے نو په تا ملامتيا نشته او په

---

1...شعب الايمان، باب فى الجود و السخاء، ۷/ ۴۳۴، حديث: ۱۰۸۷۵

2...شعب الايمان، باب فى الجود و السخاء، ۷/ ۴۳۳، حديث: ۱۰۸۶۷

3...فردوس الاخبار، ۱/ ۳۳۳، حديث: ۲۴۳۰

4...سنن الترمذى، كتاب البر و الصلة، باب ماجاء فى السخاء، ۳/ ۳۸۷، حديث: ۱۹۶۸ بتغير قليل

ورکولو کښې د خپل عيال نه شروع کوه او **پاسنے لاس د لاندينې لاس نه بهتر دے.** [1]

د دې حديث په شرح کښې مُفَسِّرِ قرآن ، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: يعنې د خپلو ضرورياتو نه پاتې شوے مال خيرات کول خو ټخپله ستا د پاره فائده مند دي چې د هغې نه ستا څه کار نه اودريږي او تا ته به په دُنيا او آخرت کښې بدله نصيب شي، او دا حصارول ټخپله ستا د پاره بد دي، ځکه چې هغه څيز به سخا يا ضائع شي او ته به د ثواب نه محرومه شې، په دې وجه حکم دے چې نوي جامے درته ملاو شي نو زړے جامے خيرات کړئ، چې نوي خپلئ درته الله پاك عطا کړي نو زړے خپلئ ستا د ضرورت نه پاتې شوې، يو فقير ته ئې ورکړه چې ستا د کوره به خزله اوځي او د هغه به ښيګړه اوشي. نور فرمائي: په دې کښې دوه حُکمونه بيان شوي دي: **يو دا** چې کوم مال په دې وخت کښې زيات دے خو صبا تا ته د دې ضرورت پيښيدے شي نو دا جمع اوساته، داسې نه چې نن نفلي صدقه ورکړې او صبا ټخپله خيرات غواړې، **دويمه دا** چې خيرات اول خپلو خپلوانو ته ورکوه، بيا نورو ته، ځکه چې خپلوانو ته ورکولو کښې صدقه هم ده او صِله رحمي هم ده. (مرآۃ المناجیح شرح مشکاۃ المصابیح، ج۳، ص۷۰-۷۱)

## دولسو مَدَني کارونو کښې يو مَدَني کار " قَافِله"

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ د **قَافِلو** په بَرَکت د ډيرو خلقو په ژوند کښې مَدَني اِنقلاب راغلے دے. **قَافِله** کښې د سفر کولو په وجه د نيکو خلقو

1... صحيح مسلم، كتاب الزكاة، الحديث: ۱۰۳۶، ص۵۱۶

صُحبت حاصليږي. د **قافلے** په بَرَکت بيلمانځه خلقو ته د لـمانځه اَهَمِّيَّت معلوميږي د **قافِلے** په بَرَکت نوي نوي اسلامي وروڼه لـمونځ زده کوي د **قافِلے** په بَرَکت سنتونه او آداب زده کيږي د **قافِلے** په بَرَکت درس او بيان کول زده کيږي د **قافِلے** په بَرَکت اِنفرادي کوشش کول، صدائے مدينه لګول او علاقائي دوره وغيره کول زده کيږي د **قافِلے** په بَرَکت ډيرو خلقو ته د دِيني مسائلو زده کولو سعادت حاصليږي د **قافِلے** په بَرَکت جُماتونو کښې د ذِکر و اَذکار او درس و بيان سلسلے جاري وي د **قافِلے** په بَرَکت جُماتونه آباديږي. د جُماتونو آبادولو به څه وائي! حديث شريف کښې دي: چې کله يو بنده د ذِکر او لـمانځه د پاره جُمات ځائے اوګرځوي نو **اللّٰه تعالٰی** د هغه نه داسې خوشحاليږي څنګه چې خلق د خپل ورَك شوي کس خپل ځائے ته راتلو باندې خوشحاليږي. (ابن ماجه، کتاب المساجد... الخ، باب لزوم المساجد... الخ، ۱/ ۴۳۸، حديث: ۸۰۰)

راځئ چې! د ترغيب د پاره د مَدَني قافِلے يو مَدَني سپرلے واورو:

## د مدني قافِلے په برکت ئې روزګار پيدا شو

د مُلتان (پنجاب، پاکستان) اوسيدونکي يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چې هغه د ډيرې مودے نه د روزګار په سلسله کښې پريشانه وو، ډيرو ځايونو کښې ئې انټرويو هُم ورکړه خو څه کار ئې اُو نه لګيدو، په دې دوران کښې د هغوئي ملاقات دعوتِ اسلامي کښې شامِل يو اسلامي ورور سره اوشو، هغوئي تسلي ورکړه چې ورروه پريشانه کيږئ

مه، تاسو د دعوتِ اسلامي مَدَني قَافِله کښې سفر اوکړئ، هلته د بیروزګارئ نه د خلاصیدو دُعا اوکړئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه د **اللّٰه** کرم به اوشي. یو څو ورځې پس په یوه کمپنئ کښې د هغوئي اِنټروِیو وه، هغوئي اِراده اوکړه چې د انټروِیو نه پس به د درې ورځو مَدَني قَافِله کښې سفر کووم. انټرویو نه پس هغوئي د مَدَني قافِلے مسافر جوړ شو، مَدَني قَافِله کښې د سفر ئې دویمه ورځ وه چې خبر ورته راغے چې تاسو انټرویو کښې کامیاب شوي ئې، چنانچه مَدَني قافلے نه چې بیرته راغلو نو یو څو ورځې پس ورته د کمپنئ له طرفه لیټر [یعني خط] هُم راغے. دغسې اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د مَدَني قافلے په بَرَکت ئې روزګار اولګیدو.

نوکری چاہئے، آیئے آیئے قافلے میں چلیں، قافلے میں چلو
تنگدستی مٹے دور آفت ہٹے لینے کو بَرَکتیں، قافلے میں چلو
دُور بیماریاں اور پریشانیاں ہوں گی بس چل پڑیں، قافلے میں چلو
سُن لے عطّارؔ کی، اپنے غمخوار کی یہ ندا "سب چلیں"! قافلے میں چلو

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۶۷۵،۶۷۲)

نوکري که غواړئ، راشئ راشئ راشئ قافِله کښې لاړ شئ قافِله کښې لاړ شئ
تنګدستي به لرې شي، هُم آفت به لرې شي واخلئ ډیر بَرَکتونه، قافِله کښې لاړ شئ
بیمارئ به لرې شي، پریشانئ به لرې شي بس راځئ چې لاړ شو، قافِله کښې لاړ شئ
دا خبره د عطّارؔ، واورئ د خپل غمخوار ټول په جمع پکښې ځئ، قافِله کښې لاړ شئ

## د تیلي تهون ترغیب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه په ټوله دُنیا کښې د دعوتِ



www.dawateislami.net

اسلامي د 108 نه زيات شُعبه جات قائم دي، په دې شُعبه جاتو کښې مَدرَسةُالْمَدينه او جامِعَةُالْمدِينه هُم شامل دي، چې په دې کښې د علمِ دين او د قرآنِ مجيد د حِفظ و ناظِره فِیْ سَبِیْلِ الله تعليم ورکولے کيږي- په مُلک او بيرونِ مُلک کښې 851 (اته سوه او يو پنځوس) جامِعَاتُ الْمدِينه دي چې په دې کښې د سبق وئيونکو طلبه و طالبات شمير تقريباً 62599 (62 زره او 599) دے، تقريباً 13455 (13 زره او 455) طلبه و طالباتو درسِ نِظامي (يعني عالِم کورس/ عالِمه کورس) مکمل کړے دے او 2140 (2 زره 140) اسلامي خويندو فيضانِ شريعت کورس هُم پوره کړے دے-

په مُلک او بيرونِ مُلک کښې 4201 (څلور زره، دوه سوه او يو) مَدارِسُ الْمَدينه کښې تقريباً 196348 (يو لاکه 96 زره او 348) ماشومان او ماشومانې د قرآنِ کريم په حفظ و ناظره کښې مشغول دي، صرف د دې دوو شُعبه جاتو سالانه اخراجات تقريباً 3 اربه او 73 کروړه روپئ دي-

اِنْ شَآءَالله 15 نومبر 2020، 28 رَبِيْعُ الْاَوَّل 1442 هجري د اتوار په ورځ به د ورځې 2:00 بجو نه واخله بله ورځ سحر 5:00 بجے پورې د ټيلي تهون (يعني د چنده جمع کولو د مُهم) سلسله وي، د پاکستاني کرنسئ مطابق به يو يُونټ 10 زره روپئ وي، د ملک او بيرونِ ملک مَدارِسُ الْمَدينه او جامِعَاتُ الْمدِينه د قيام و انتظام او جُمله اخراجاتو د پاره ډېر ډېر تعان اوکړئ-

15 نومبر 2020ء باندې کيدونکي ټيلي تهون (د چنده جمع کولو



www.dawateislami.net

مُهم) کښي حِصَّه اخستونکو خوش نصيبو **عاشِقانِ رَسُول** د پاره اَميرِ اَهلِسُنَّت حضرت عَلَّامه مولانا محمد الياس عَطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خومره ښکلي دُعا فرمائيلي ده، راځئ چې واورو:

**دعائے عطار:** يا **الله** پاکه! څوک چې کم از کم يو يُونټ په دې تيلي تهون کښي جمع کړي، هغه ته د ايمان سلامتي ورکړې، د بدې خاتمے نه ئې اُوساتې او د ځنکدن په وخت کښې ورته ستا د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب کړې او [دا سعادت ورنصيب کړې چې] محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته کلمه اُووائي او په خپلو قدمونو کښې ئې [په جَنَّتُ الْبَقِيع] اُوده کړې- يا **الله!** دا دُعا د هرې هغې اسلامي خور په حق کښې هُم قبوله کړې چې کومه اسلامي خور د خپل مَحرَم په ذريعه يو يونټ را اوليږي، يا چې په هره طريقه ئې جمع کړي، د ټولو په حق کښې ئې قبوله کړې- کوم غريب ئې چې يخپله نه شي ورکولے خو بل څوک تيار کړي او ترينه ئے جمع کړي، د هغه په حق کښې ئې هُم قبوله کړې-

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اِمامِ اهلسنّت، مجدّدِ دِين و ملّت امام احمدرضاخان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فتاویٰ رضويه جلد23، صفحه 152 کښې د صدقه په فضائلو باندې د احاديثِ طيبّه نه حاصلې شوې فائدے ذکر کړې دي، په هغې کښې يو څو دا هُم دي: ✿ د الله پاک په حکم به (صدقه ورکوونکے) د بد مرګ نه بچ کيږي، (صدقه ورکوونکو د پاره به) اَويا دروازے د بد

مرګ بندې شي ❀ د دوئي (یعنی صدقه ورکوونکو) عُمرونه به زیاتیږي- ❀ (صدقه ورکوونکو سره به) د رزق فراخي او د مال کثرت وي، ❀ (او صدقه ورکوونکے به) د صدقه ورکولو د عادت په وجه کله هُم نه محتاجه کیږي- ❀ (صدقه ورکوونکي) به خیر و برکت حاصلوي- ❀ (صدقه ورکوونکو) نه به آفتونه او مصیبتونه لرې کیږي، ❀ (صدقه ورکوونکو نه به) بده قضا لرې کیږي، ❀ (صدقه ورکوونکو باندې) اویا (70) دروازے د بدئ بندې شي، ❀ (صدقه ورکوونکو نه به) اویا (70) قِسمه مصیبتونه لرې کیږي- ❀ (صدقه ورکوونکو سره به) مددِالٰهی شامليږي- ❀رحمتِ الٰهی به د هغوئي (یعنی صدقه ورکوونکو) د پاره واجب شي- ❀فرښتے به په هغوئي (یعنی صدقه ورکوونکو) باندې دُرود لیږي- د دې نه علاوه نورې هُم ډیرې دِینی او دُنیوی فائدے دي چې هغه صدقه ورکولو سره حاصليږي-

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو ټولو ته هُم تیلی تهون مهم کښې ضرور تعاون اوکړئ، د خپلو مرحومانو د ایصالِ ثواب د پاره یونټ جمع کړئ- که کیدے شي نو د خپل کور د هر کس له طرفه کم از کم یو یو یونټ خو ضرور جمع کړئ او نورو ته هُم د دې ترغیب ورکړئ- د یونټ جمع کولو د پاره څه هدف جوړ کړئ او د اوس نه د دې د پاره رابطے شروع کړئ-

الله پاک دِ مونږ ته د دین په کارونو کښې د زړه د اخلاصه د خرچ کولو توفیق راکړي- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مي خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د ناستې يو څو سنتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې د ناستې يو څو سنتونه او آداب واورو: ❁ سُرِين په زمکه لګوئ او دواړه زنګونان اودروئ او دواړه لاسونه ترينه چاپيره کوئ او په يو لاس بل لاس نيسئ، داسې کښيناستل سُنَّت دي. (خو په دې دوران کښې زنګونان په څادر وغيره پټول مناسب دي) (مِرأةُالمناجيح ج٦.ص۳۷۸) ❁ پرلت وهل هم د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي. ❁ کوم ځائ کښې چې څه لـمر او څه سورے وي هلته مه کښينئ. د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې **خوږ نبی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "چې

کله په تاسو کښې څوك په سوري کښې وي او د هغه نه سورے رُخصت شي او هغه په څه لـمر او څه سوري کښې پاتې شي نو هغه له پکار دي چې د هغه ځائے نه پاځي." (سُنَنُ اَبی داؤد، کتاب الادب باب فِی الجلوس بین الظل والشمس، الحدیث:٤٨٢١، ج٤، ص٢٤٤) ❁ مخ په قبله کښينئ. (رَسائل عطّارِیَّه، حصّه٢، ص٢٢٩) ❁ اعلٰی حضرت، امامِ اهلسنت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ليکي: د پير او اُستاذ په نشست [يعني د ناستې په ځائے] باندې د هغوئي په غير موجودګئ کښې هم مه کښينئ. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج٢٤، ص٣٦٩، ٤٢٤) ❁ چې کله اجتماع يا مجلس ته لاړ شئ نو د مخکښې تللو د پاره په خلقو د پاسه مه اوړئ چرته چې ځائے وي هلته کښينئ. ❁ **چې کله کښينئ نو پيزار اُوباسئ** ستاسو ښپے به آرام مومي. (اَلجامِعُ الصَّغِیر، الحدیث٥٥٤، ص٤٠) ❁ د مجلس نه چې فارِغ شئ او دا دُعا درې ځله اولولئ نو ګناهونه به مو معاف شي. او کوم مسلمان ئې چې مجلِسِ خير او مجلِسِ ذکر کښې اولولي نو د هغه د پاره به په هغه خير مهر اولګولے شي. هغه دُعا دا ده: " **سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ**" تَرجَمه: ستا ذات پاك دے او اے الله! هُم تا لره دي ټول صِفتونه، ستا نه سوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته، ستا نه بخښنه غواړم او ستا طرف ته توبه کووم. (سُنَنُ اَبی داؤد، کتاب الادب، باب فِی کفارة المجلس، الحدیث:٤٨٥٧، ج٤، ص٣٤٧) ❁ چې کله يو عالِم باعمل يا مُتّقي کس يا سيِّد صاحب يا مور و پلار راشي نو **تعظيماً**

[يعني ادباً] اودريدل ثواب دے. ❁ حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيه ليکي: د بزرگانو په راتلو دا دواړه کارونه يعني تعظيمي قيام او استقبال جائز بلکه سُنَّتِ صحابه دے بلکه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتِ قولي دے. (مِراٰةُالمناجيح ج٦، ص٣٧٠)

اے زمونږه خوږه **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د ناستي ولاړي په سُنَّتو او آدابو د عمل کولو توفيق راکړې. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (1) د312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب "سُنَّتيں اور آداب" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ**

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې داخليدلو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمۡ

د حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴾4﴿ د شپې لا که دُرُود شریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغیب والترهیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# شانِ مُصطفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

## نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرود شريف فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام سَخاوِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نقل کوي چې: حُضُورِ انور، مَکِّـي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: **"مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْراً**، چا چې په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اوليږلو **الله** پاک په هغه لَس رَحمتونه نازلوي، **وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ عَشْراً**

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ مِاءَةً او څوک چې په ما لَس ځله دُرود شریف اولیږي، الله پاک په هغه سَل رحمتونه نازلوي، وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ مِاءَةً كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ بَيْنَ عَيْنَيْهِ بَرَاءَةً مِّنَ النِّفَاقِ وَبَرَاءَةً مِّنَ النَّارِ او څوک چې په ما سَل ځله دُرود شریف اولیږي، الله پاک د هغه د دواړو سترګو د مینځه اولیکي چې دا بنده د نِفاق او د دوزخ د اور نه بَري دے، وَاَسْكَنَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الشُّهَدَاء او د قِیامت په ورځ به هغه د شهیدانو سره ساتي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

| | |
|---|---|
| اے شہنشاہِ مدینہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام | زینتِ عرشِ معلّٰی اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام |
| مومنو پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر دُرود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام |
| میں وہ سُنّی ہوں جمیلِ قادری مرنے کے بعد | میرا لاشہ بھی کہے گا اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

مُحترمو اسلامي ورونړو! د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[3]

---

1... القول البديع، الباب الثاني في ثواب الصلاة على رسول الله... الخ، ص ۲۳۳

2... قبالۂ بخشش، ص 164

3... معجم کبیر سهل بن سعد الساعدی... الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲

**مَدَني ګل:** نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

❁ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بیان واورئ ❁ پوره تَوجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ❁ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده "**شانِ مُصطفیٰ** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم". په دې بیان کښې به مونږ اورو: چې وَنې د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره څنګه رواني شوې؟، د عِزَّت او کَرامَت د ټولو نه زیات اسباب څه دي؟ د جَنَّت او د دوزخ د کُنجیانو مالِک څوک دے؟ د شفاعت حاصلولو بهترینه ذریعه څه ده؟ او د دې نه علاوه به د عِشقِ رَسُول نه مالامال نورې ډیرې فائده مندې خبرې هُم د اوریدلو سعادت حاصلوو. اِنْ شَآءَاللّٰہ

وہ خَتمُ الانبیاء تشریف فرما ہونے والے ہیں نبی ہر ایک پہلے سے سنا تا یہ خبر آیا
رَبیعِ پاک تجھ پر اہلِ سنت کیوں نہ قرباں ہوں کہ تیری بارہویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا
چلو اے مُفلسو جو آج مانگوگے وہ پاؤ گے کہ صدقہ بانٹتا ارض و سما کا تاجور آیا [1]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

[1]... قبالۂ بخشش، ص65

# وَنې د حُضُور ﷺ په اِطاعت کښې روانې شوې

د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې مونږه رَسُولُالله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره روان شو، تر دې چې په يوه فراخه دَره [يعني د دوو غرونو د مينځه ځائے] کښې مو پړاؤ واچولو. حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قضائے حاجت د پاره تشريف يوړلو، ما د اوبو لوښے راواغستو او په حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې شا ته روان شوم. هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخوا ديخوا نظر مبارک اوګرځولو خو د ستر او پردے د پاره څه څيز ښکاره نه شو. ناڅاپه د دَرے غاړې ته دوه وَنې ښکاره شوې. حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغو کښې د يوې [وَنې] خوا ته تشريف يوړلو، د هغې د څيلو نه ئې يوه څيله او خاخ اونيولو او ورته ئې اُوفرمائيل: "د **الله** پاک په حُڪم ما سره زما په اِطاعَت [يعني فرمانبردارئ] کښې روانه شه" هغه وَنه د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره سر ښکته کړې داسې روانه شوه څنګه چې د پيزوان والا اوښ د خپل قائد سره سر ښکته کړے روان وي، تر دې چې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بلې وَنې خوا ته تشريف راوړلو او د هغې خاخ ئې اونيولو او ورته ئې اُوفرمائيل: "د **الله** پاک په حُڪم زما اِتّباع اوکړه او ما پسې راروانه شه" هغه ونه هُم د وړومبۍ وَنې په شان په حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې روانه شوه تر دې چې دواړه [وَنې يوې بلې ته] نزدې شوې او خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي تر مينځه اودريدلو او حُڪم ئې ورکړو، د **الله** پاک په حُڪم را يو ځائے

شئ او په ما پرده جوړه کړئ چنانچه هغه دواړه د يوې بلې سره اولګيدلې.

حضرت جابِر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زه په منډه د هغه ځائے نه اُووَتلم چې چرې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د نزدې کيدلو د احساس په وجه نور د لرې تللو تکليف اُو نه فرمائي. زه لرې لاړم او کښيناستلم او په يو خيال کښې ورک شوم. چې ناڅاپه مې اوکتل نو حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راروان دے تشريف راوړي او هغه دواړه وَنې جُدا شوي دي او په خپل خپل ځائے ولاړې دي.[1]

اپنے مولیٰ کی ہے بس شان عظیم　　　جانور بھی کریں جن کی تعظیم

سنگ کرتے ہیں ادب سے تسلیم　　　پیڑ سجدے میں گرا کرتے ہیں[2]

د شعر وضاحَت: د الله پاک د آخري نبي، مُحَمَّدِ عَـرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان داسې عظيم دے چې ځناور هُم د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعظيم کوي او کاڼړي ئې هُم احترام کوي او دُرُود و سلام پرې وائي او ونې ئې په دربار کښې حاضرېږي او سجده کوي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1]...الوفاء، ابن جوزی، مترجم، ص ۳۴۴، لاہور

[2]...حدائق بخشش ص ۱۱۲

# شانِ مُصطَفٰی ﷺ

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** زمونږ د آقا، مَکّـِي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مقام او مرتبه د ټولو نبیانو نه اوچته ده، د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شان به څه وائي! د خوږ نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان دا دے چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه وخت هُم وو چې کله زمکه او آسمان هُم نه وو جوړ شوي او دا ټول جهان هُم نه وو جوړ شوے. ﷲ پخپله فرمائي: "د ټولو نه مخکښې **الله** پاک زما نُور پیدا کړو او هُم زما د نُور نه ئې هر څیز پیدا کړو".

زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان دا دے چې د حضرتِ جَبرئیل عَلَیۡہِ السَّلَام نه ئې تپوس اوفرمائیلو: ستا عُمر څومره دے، [جبرئیل امین عَلَیۡہِ السَّلَام] عرض اوکړو: په څلورم حِجابِ عظمت کښې (70) اویا زره کاله پس یو ستورے راخیژي، ما هغه (72) دوه اَویا زره ځله لیدلے دے. [حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] اُوفرمائیل: اے جِبرئیل! هغه ستورے زه یم. دا دے شانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، چې **الله** پاک فرمائي: چې تاسو نه وے نو ما به دُنیا نه وے پیدا کړي. شانِ مُصطَفٰی دا دے چې زمونږ د خوږ خوږ نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُوم حضرتِ آدم عَلَیۡہِ السَّلَام د ځان د پاره وسیله جوړ کړو. شان مُصطَفٰی دا دے چې خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګوتې مبارکې په اِشاره سپوږمۍ دوه ټُکړے کړه . شان مُصطَفٰی دا دے چې حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لرګے [د بلب په شان] روښانه کړلو او صحابهٔ کرام د هغې په رڼړا کښې کورونو ته اورسیدل.

شان مُصطَفیٰ دا دے چې صحابي ته ئې يو لرګے په لاس کښې ورکړو نو هغې د تُورې په شان د کافرانو څټونه کټ کول شروع کړل. شان مُصطَفیٰ دا دے چې د بعضې [نارِينه] د پاره ئې سره زر حلال کړل او د بعضې کس ګواهي ئې د دوو برابر قرار کړه. يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو شان خو دا دے چې ټول ستاسو حاجت مند دي هيڅ څوک هُم ستاسو نه بے نيازه کيدے نه شي.

سيِّدي اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي.

*خلیل اللہ کو حاجت رسول اللہ کی ہے     وہ جہنم میں گیا جو اُن سے مستغنی ہوا* [1]

**د شعر مختصر وضاحت:** زما د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان خو دا دے چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه هيڅ څوک هُم نه شي بے نيازه کيدلے، څوک چې بے نيازه شي د هغه ځائے به جَهنَّم وي ځکه چې د هغوئي حاجت خو انبيائے کرام هُم لري او د **الله** پاک خليل ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هُم د هغوئي مُحتاجه دے.

## د عِزَّت و کرامَت د ټولو نه زيات اَسباب

امام فخرُ الدِّين رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کُفّارو هلاک کولو د پاره صرف يوه فرښته کافي ده ځکه چې د حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَام د قوم ښارونه د حضرت جِبرِيل عَلَيْهِ السَّلَام د وزرو نه په يو وزر باندې تباه و برباد کړے

[1] ... حدائق بخشش ص ۱۵۲



www.dawateislami.net

شو او د حضرت صالِح عَلَیْہِ السَّلَام د قوم ثمود علاقے صرف په یوه چغه تباه کړے شوې، خو **اللّٰه** پاک په ټولو نبیانو عَلَیْہِمُ السَّلَام باندې، تر دې چې په **اُولُو الْعَزم** یعني صاحِبِ هِمَّت او اوچتې اِرادے لرونکو رسولانو باندې ئې هُم په هر څیز کښې خپل حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته فضیلت عطا کړے دے او **اللّٰه** پاک خپل حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د کرامت او اعزاز هغه اَسباب عطا کړي دي چې بل چا ته ئې نه دي عطا کړي، په هغو کښې یو دا دے چې د آسمان نه ئې لښکرې راکوزې کړې او په آیت کښې ئې ' **وَمَاۤ اَنْزَلْنَا** ' او ' **وَمَا كُنَّا مُنْزِلِیْنَ** ' فرمائیلو باندې لکه چې دې طرف ته اشاره اوفرمائیله چې اے حبیبب! صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، د فرښتو لښکر نازلول انتهائي عَظمت والا کار دے چې د دې د پاره ستاسو نه علاوه بل څوک اهلیت نه لري او مونږ به ستاسو نه علاوه د بل چا د پاره داسې اونکړو.[1]

خدا نے اس قدر اُونچا کیا پایہ محمد کا
نہ پہچانا کسی نے آج تک رُتبہ محمد کا
بحکمِ حق اترتے ہیں فرشتے خاص رحمت کے
کیا کرتے ہیں جب اہلِ سُنَن چرچا محمد کا
نہیں ہے جو غلامِ مصطفٰے بندہ ہے شیطاں کا
وہی ہے بندۂ حق جو ہوا بندہ[2] محمد کا
جمیلِ قادری ایسی سُنا، رنگیں غزل کوئی
کہ بے خود ہو یہاں ہر ایک مستانہ محمد کا[3]

---

[1]... تفسیر قرطبی، یس، تحت الآیة: ۲۸، ۸ / ۱۸، الجزء الخامس عشر

[2] [بندہ بمعنیٰ غُلام]

[3]... قبالۂ بخشش، ص۵۰تا۵۳

# حُضُور ﷺ مالِک و مُختار دے

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ د نُور والا آقا، مَکِّـي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خنګه اعلٰی شان دے چې **اللّٰه تعالٰی** هغوئي د شرعي اَحکامو مالِک و مُختار جوړ کړے رالیږلے دے هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې چا ته څه حُکم غواړي ورکولے شي، د چا د پاره چې څه څیز غواړي جائز یا ناجائزه کولے ئې شي، پاره 22 سورةُالاحزاب آیت نمبر 36 کښې اِرشاد کیږي:

وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّ لَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ یَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِیَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَ مَنْ یَّعْصِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِیْنًا ؕ﴿۳۶﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او یو مسلمان نارینه او یوې مسلمانې زنانه ته [دا حق] نه رسي چې کله **اللّٰه** او د هغه رَسُول څه حُکم اُوفرمائي نو ګنې هغوئي ته دِ د خپلې مُعامَلے څه اختیار وي او څوک چې حُکم اُو نه مني د **اللّٰه** او د هغه د رَسُول، هغه بیشکه ګمراه شو په ښکاره ګمراهئ۔

تفسیر صِراطُ الْجِنان جِلد 8 کښې دي: د دې آیت نه دا هُم معلومه شوه چې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاک په عطا په شَرعي اَحکامو کښې خود مُختاره دے. هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې چا ته څه اوغواړي حُکم ورکولے شي، د چا د پاره چې څه څیز اوغواړي جائز یا ناجائزه کولے ئې

شي او څوک چې د کوم حُکم نه اوغواړي جُدا کولے ئې شي.[1] په حضرتِ سَیِّدُنا داؤد عَلَیْہِ السَّلَام باندې نازِل شوي مُقَدَّس کتاب "زَبُور شریف" کښې دي: اَحمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مالِک شو د ټولې زمکې او د ټولو اُمَّتونو د څښتونو.[2]

اللّٰہ اللّٰہ! شَہِ کونین جَلالت تیری
فرش کیا عرش پہ جاری ہے حکومت تیری[3]

آقا کی آمد مرحبا — داتا کی آمد مرحبا
مولیٰ کی آمد مرحبا — اَولیٰ کی آمد مرحبا
اعلیٰ کی آمد مرحبا — والا کی آمد مرحبا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جَنَّت او دوزخ کُنجانې ئې په لاس مبارک کښې ورکړې

مُفتي امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: څوک چې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل مالِک نه ګڼړي هغه به د سُنَّتو د خوږوالي نه محرومه اوسي، ټوله زمکه د مَکِّي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مِلک ده، تمام

1 ...... تفسیر صراط الجنان، پ۲۲، الاحزاب، تحت الآیۃ: ۳۶، ۸/۳۵.
2 ... فتاویٰ رضویہ، ۳۰/۴۴۵.
3 ... ذوقِ نعت، ص۲۴۷.

جَنَّت د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جاګِير دے، **مَلَكُوْتُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ** (يعني د آسمانونو اور زمکې ټوله بادشاهی) د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د فرمان تر لاندې (يعني حُکم منلو والا) دي، حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جَنَّت او دوزخ کُنجيانې [چابيانې] په لاس مبارک کښې ورکړے شوې، رِزق او خير او د هر قِسمه عطاګانې د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار نه تقسيميږي، دُنيا او آخرت د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عطا يوه حِصَّه ده.[1] رَسُوْلُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل **ربّ** تعالیٰ په عطا د جَنَّت مالِک دے، جَنَّت عطا کوونکے دے، چا ته چې غواړي ور عطا ئې کړي.[2] د بخاري شريف په حديث نمبر 17 کښې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: **اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَّاللّٰهُ يُعْطِيْ** يعني **الله** ئې ما ته عطا کوي او زه ئې تقسيموم.[3]

رَبّ ہے مُعطی یہ ہیں قاسم     رِزق اُس کا ہے کھلاتے یہ ہیں

اُس کی بخشش اِن کا صدقہ     دیتا وہ ہے دِلاتے یہ ہیں[4]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... بہارِ شریعت، ۱/۸۱-۸۳، حصہ:۱.

2... فتاویٰ رضویہ، ۱۴/ ۶۶۷.

3... بخاری، کتاب العلم، باب من یرد الله به خیرا یفقه فی الدین، ۱/۴۲، حدیث:۷۱.

4... حدائقِ بخشش، ص۴۸۱-۴۸۲.

# چې کوم طرف ته به ئې اِشاره فرمائیله سپوږمئ به هُم هغه طرف ته ښکته شوه

د **الله** پاک په عطا مالِک و مُختار، د **الله** په کرم په غیبو خبردار نبي (یعني د غیبو علم لرونکي) صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لـمر سترګې ته حُکم ورکړو چې څه ساعت اودریږه هغه فوراً اودریدله.[1]

د عاشقانو د امام، اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د فرمانِ عالیشان خُلاصه ده: دا حدیث د هغه حدیث نه علاوه دے په کوم کښې ئې چې د مولا علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د پاره د لـمر سترګې ته د اودریدلو [یعني بیرته په شا د راتللو] حُکم اِرشاد فرمائیلے وو. اَلْحَمْدُلِلّٰه دې ته خِلافَتِ رَبُّ الْعِزَّت وائي. په ټول مخلوقِ اِلٰهی باندې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حُکم اِطاعَت او فرمانبرداري لازِمه ده هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُدائے [حبیب] دے او څه چې د **الله** دي هغه ټول د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي. هغوئي [د **الله** پاک] د ټولو نه لوئ محبوب (یعني ګران) دے، د پیٔ څښلو په دوران کښې [یعني هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ماشوم والي کښې به هُم] سپوږمئ د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غُلامي کوله (یعني فرمانبرداري به ئې کوله) چې کوم طرف ته به ئې اِشاره کوله هُم هغه طرف ته به ښکته شوله، چې د پیٔ څښلو په دَوران کښې ئې دومره

---

1... معجم اوسط، باب العين، من اسمه علی، ۳/۱۱٦، حدیث: ۴۰۳.

زبردست حکومت وو نو بیا (د اعلانِ نُبُوَّت نه پس) چې د خِلافَةُ الْكُبْرٰى ظهور په خپل کمال دے نو بیا د لمر څه مجال دے چې د هغوئي د حُکم نه مخ واړوي (یعني فرمانبرداري اونکړي).[1]

چاند اِشارے کا ہِلا حکم کا باندھا سورج
واہ کیا بات شہا تیری توانائی کی[2]

د شعر مختصر وضاحت: سُبْحٰنَ الله! زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه طاقت او اختیارات دي چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګوتې مبارکې اِشاره اوشوه نو سپوږمۍ داسې اخوا دیخوا تلله لکه د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اشارے سره چې د مخکښې نه عادت وي (څنګه به چې په مبارک ماشوم والي کښې سپوږمۍ د هغوئي د زړه خوشحالولو د پاره د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګوتې مبارکې د اِشارے سره اخوا دیخوا حرکت کولو)

یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لمر سترګه هُم ستاسو د حُکم تابِع ده چې د حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د یو لمانځه د پاره مو پریوتلي سترګه بیرته را اوګرځوله.

مُنوّر کی آمد مرحبا — مُعطّر کی آمد مرحبا
شاہِ بحر و بر کی آمد مرحبا — رسولِ انور کی آمد مرحبا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... فتاویٰ رضویہ، ۳۰/۴۸۵-۴۸۸ ملخصاً.

[2] ... حدائقِ بخشش، ص ۱۵۴.



www.dawateislami.net

# اَحکام حُضُور ﷺ ته حواله دي

حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: اَحکامِ تشريعية (يعني د حلال او حرام احکام) د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قبضه کښې ورکړے شوي دي چې په چا باندې څه غواړي حرام کړي او د چا د پاره چې څه غواړي پرې حلال ئې کړي او کوم فرض چې غواړي ورته معاف ئې کړي.[1]

عَلَّامه زَرقاني رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: **الله** پاک حُضُورِ پُرنُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنيا او آخرت د ټولو زمکو مالِک جوړ کړے دے، حضورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې د جَنَّت د زمکې نه څومره غواړي چا له غواړي ور عطا ئې کړي نو د دُنيا د زمکې به څه تذکره کوو [يعني د دُنيا زمکه څه خيز دے]![2]

# د احکامو د مالک کيدلو دوه رِوايات

د رَحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اختياراتو مُتَعَلِّق دوه حديثونه عرض کووم: (1) د صحيح مُسلِم په حديث شريف کښې دي: د **الله** پاک خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خُطبه اولوستله او اُوئې فرمائيل: اے خلقو! په تاسو حج فرض کړے شو لِهذا حج اوکړئ. يو کس عرض اوکړو: يارَسُولَ

---

[1]... بہارِ شریعت، ۱/۸۴، حصہ:۱.

[2]... شرح زرقانی علی المواهب اللدنية، الفصل السادس فی امرائه و رسله...الخ، ۴۹/۵.

الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آیا هر کال؟ حضور عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام خاموشي اُوفرمائیله، هغوئي درېٖ ځله دا تپوس اوکړو. [خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] اِرشاد اُوفرمائیلو: که ما آو وئیلے وے نو په تاسو به واجِب شوے وو او تاسو به نه شوے کولے. (یعني که ما آو وئیلے وے نو په تاسو به هر کال حج فرض شوے وے او تاسو به دا نه شوے کولے) [1] (2) د بُخاري او مُسلِم په حدیث کښې دي چې حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: که ما په خپل اُمَّت بوج نه ګڼړلے نو هغوئي ته به مې د هر لمانځه سره یا د هر لمانځه په وخت کښې د مِسواک [کولو] حُکم ورکړے وے. [2]

کنجی تمہیں دی اپنے خزانوں کی خدا نے — محبوب کیا مالک و مختار بنایا
اللہ کی رحمت ہے کہ ایسے کی یہ قسمت — عاصی کا تمہیں حامی و غمخوار بنایا[3]

## حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم به د شفاعت دروازه بیرته کوي

په یو حدیثِ پاک کښې د "تَورَیت شریف" نه د حضور نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا اوصاف (یعني صفتونه) منقول دي: زما د بنده اَحمدِ مُختار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پیدائش ځائے مَکّه مُکرَّمه او د هجرت

---

1... مسلم، کتاب الحج، باب فرض الحج مرة فی العمر، ص ۵۳۶، حدیث: ۳۲۵۷.

2... ترمذی، ابواب الطهارة، باب ما جاء فی السواک، ۱/۱۰۰، حدیث: ۲۳.

3... ذوقِ نعت، ص ۴۸.

ځائےمدينه طيبه دے، د هغوئي اُمَّت په هر حال كښې د **الله** كثير (يعني ډير صِفَت) كوونكي دي.[1] د قيامت په ورځ د شَفاعتِ كُبرىٰ مرتبه د حُضُور سرورِ كائنات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خصوصياتو كښې ده چې تر څو حضورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت دروازه برسيره نه كړي تر هغې به بل چا ته د شفاعت مجال نه وي، بلكه حقيقتاً چې څومره شفاعت كوونكي دي هغوئي به د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته شفاعت راوړي، شَفاعتِ كُبرىٰ د مُؤمِن، كافر، فرمانبردار او ګنهګار ټولو د پاره دے يعني د قيامت په ورځ د حساب شروع كيدلو انتظار چې ډير زيات سخت به وي، خلق به وائي چې كاش! جَهنَّم ته دې غوزار كړے شو خو چې د دې انتظار نه خلاص شو، د دې مصيبت نه خلاصے به كافرو ته هُم د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر ملاويږي او په دې وجه به مخكښې او وروستو راتلونكي ملګري او مُخالِفين، مُؤمِنين او كافِرين ټول د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صِفَت كوي، د هُم دې نوم "**مقامِ محمود**" دے .[2]

کیا ہی ذوق افزا شفاعت ہے تمہاری واہ واہ قرض لیتی ہے گنہ پرہیز گاری واہ واہ

مکّی کی آمد مرحبا مَدَنی کی آمد مرحبا

عَرَبی کی آمد مرحبا قَرَشی کی آمد مرحبا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... تاريخ ابن عساكر، باب ما جاء من ان الشام يكون ملك اهل الاسلام، ١/١٨٦، ١٨٧.

[2]... بہارِ شریعت، ۱/۷۰، حصہ: ۱بتغیر قلیل.

## د شفاعت مختلف قِسمونه

اے عاشقانِ مِيلاد! د شفاعت نور قسمونه هُم دي، مَثَلًا ډير به داسې وي چې بے حسابه به جَنَّت ته [د شفاعت په ذريعه] داخل کړے شي، د څلور اربه او نوي کروړه شمير خو معلوم دے او د دې نه ډير زيات نور دي چې هغه د الله پاک او د هغه د حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عِلم کښې دي [يعني بے حسابه جَنَّت داخليدونکي]، ډير به هغه هُم وي چې د هغوئي حساب به شوے وي او د جَهنَّم مُستحِق شوي به وي، د هغوئي شفاعت به کوي او د جَهنَّم نه به ئې بچ کړي او د بعضو شفاعت به اوکړي د جَهنَّم به ئې را اُوباسي، او د بعضو درجات به اوچتوي او د بعضو نه به عذاب کم کړي، د هر قِسمه شفاعت د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره ثابت دے. د شفاعت مَنصب حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ورکړے شوے دے څنګه چې د بُخاري شريف په حديث نمبر 335 کښې **شفيعُ الْمُذنِبِين** [يعني د ګنهګارو شفاعت کوونکے] خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **اُعْطِيْتُ الشَّفَاعَةَ** يعني ما ته شفاعت راکړے شو.[1]

## د دُرُود شريف وئيوونکي د پاره شفاعت

په حديث شريف کښې دي: چا چې دا اُووئيل: "اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى

[1]... بخاری، کتاب التیمم، باب التیمم، ۱/۱۳۳، حدیث: ۳۳۵.



www.dawateislami.net

مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ ' [1] د هغه د پاره زما شفاعت واجب شو. [2]

زمونږ ګنهګارانو شفاعت کوونکي خوږ مَکِّـي مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: چا چې په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درود شریف اووئیلو هغه ته به د قیامت په ورځ زما شفاعت نصیب کیږي. [3]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شفاعت حاصلولو یوه بهترینه ذریعه

اے عاشقانِ رَسُول! د الله پاک د آخري نبي مَکِّـي مَدَني مُحَمَّدِ عَـرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت حاصلولو یوه بهترینه ذریعه کثرت سره دُرود شریف وئیل هُم دي، یعني ډیر ډیر درود شریف وئیل هُم د شفاعت بهترینه ذریعه ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د نیک جوړیدلو طریقه په نوم د "**نیک اعمال**" رساله کښې هُم هره ورځ کم از کم د 313 ځله درود شریف وئیلو ترغیب ورکړے شوے دے- خومره به ښه وي چې مونږ د کوم خوږ آقا مَکِّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جشنِ وِلادت خوشحالئ لـمانځو

---

[1]... اے الله!حضرت محمد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې رَحمت نازِل کړې اور هغوئي ته د قیامت په ورځ په خپله بارګاه کښې مُقَرَّب مَقام عطا کړې.

[2]... معجم کبیر ،رویفع بن ثابت الانصاری، ۲۵/۵، حدیث:۴۴۸۰.

[3]... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، باب مایقول اذا اصبح و اذا امسی، ۱۰/۱۶۳، حدیث: ۱۷۰۲۲.

[يعني مناوو] په هغه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې هره ورځ کم از کم د 313 ځله درود شريف وئيلو عادت جوړ کړو!

راځئ چې د شفاعت سوال کولو د پاره ټول په شريکه دُرودِ شفاعت اُووائيو، **الله** پاک دې مونږه د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت نه نه محرومه کوي: "**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ**"

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د لُعابِ دَهَن کمال

اے **عاشقانِ رَسُول!** سیِّدِ عالم نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د پاره رحمت جوړ کړے شوے تشريف راوړے دے، د هغه رحمت دا شان وو چې **الله** پاک د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لُعابِ دَهَن (يعني لاړو مبارکو) کښې هغه بَرَکت ايښودے وو چې په هغې کښې د زخميانو او بيمارانو د پاره شِفاء وه او د هغې په بَرَکت به د زهرو اثر هُم ختميدلو. چنانچه چې کله د **الله** پاک حبيب صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غارِ ثور ته اورسيدلو نو مخکښې حضرتِ سیِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ غار ته ورداخِل شو، صفائي ئې اوکړه، ټول سُوري ئې بند کړل، آخري دوه سُورو د پاره ئې څه څيز اُو نه موندلو نو هغې ته ئې خپلې ښپې کيښودلې او بند ئې کړل، بيا ئې رسُولِ کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دننه د تشريف راوړلو درخواست اوکړو: رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دننه تشريف يوړلو او د خپل وفادار يارِ غار و يارِ

مزار صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۀُ په وروون ئې سر مبارك كيښودلو او آرام فرما (يعني اوده) شولو. په هغه غار كښې يو مار وو هغه [مار صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۀُ] په ښپه اوچيچلو خو قربان د عشق و مَحَبَّت د هٔغه اعلٰى نمونے نه چې د درد د زياتوالي او تكليف باوجود ئې صرف په دې وجه چې د خوږ مصطفٰى صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په آرام او راحت كښې خلل را نه شي بالكل داسې خاموشه وو چې حَرَكت ئې هُم نه كولو، خو د تكليف د زياتوالي په وجه ئې بے اِختياره د ستركو مباركو نه اوښكې روانې شوې او چې د اوښكو يو ځو څاڅكے د محبوبِ كريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارك باندې قُربان شو نو رسولِ بيمثال صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رابيدار شولو او تپوس ئې اوكړو: اے ابوبكر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۀُ) ولے ژاړئ؟ حضرتِ سيّدُنا ابوبكر صِدّيقِ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۀُ د مار چيچلو واقعه عرض كړه. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مار چيچلي ځائے باندې خپل لُعابِ دَهَن (يعني لاړې مباركې) پورې كړې نو فوراً درد ختم شو او زخم هُم ښه شولو.[1]

دغسې د حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۀُ د ستركو بيمارئ د پاره لُعابِ دهن [يعني لاړې مباركې] د ستركو شفاء جوړې شولې، د حضرت رفاعه بن رافع رَضِیَ اللّٰہُ عَنۀُ ستركه د جنگِ بدر په ورځ په تِير اولګيدله او ستركه ئې اُووتله خو د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لُعابِ دهن داسې جوړ شولو چې درد ئې هُم ختم شو او د ستركې بينائي ئې هُم برقراره پاتې شوه.

[1]... تفسير روح البيان، پ١٠، التوبه، تحت الآية:٣، ٤٠/٢٥٣

د حضرت ابو قَتاده رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مخ په تیر اولګیدلو نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیۡم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرې لُعابِ دَهَن اولګولو نو فوراً وِینه هُم بنده شوه او بیا ټول ژوند هغوئي کله په تِیر او تُوره نه وو زخمي شوے.

**اے عاشقانِ رَسُول!** حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **الله** پاک دومره مُعجزات ورکړي وو چې د هغې شمیر تر اوسه پورې چا بیان نه کړے شو، د نهمې صدئ هجرئ بزرګ حضرت علامه جلال الدین سُیُوطی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ چې د 500 نه زیات کتابونه ئې تصنیف کړي دي، هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د 20 کالو سخت کوشش نه پس د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خصائصو باندې کتابونه اولیکل چې په هغو کښې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو زرو (1000) نه زیات مُعجزات بیان شوي دي، او دا ټول مُعجِزات نه دي بلکه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُعجزاتو نه څه مُعجِزات دي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان ډیر اوچت دے۔

**د نبي کریم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د شان به څه وائې چې الله پاک** هغوئي د ټولو نبیانو عَلَیۡہِمُ السَّلَام نه مخکښې پیدا کړلو او د ټولو نه آخره کښې ئې دُنیا ته را اولیږلو.[1]

[1]...المواهب اللدنیة مع شرح زرقانی، المقصد الاول...الخ، فی تشریف اللّٰه تعالٰی له...الخ، ج۱، ص۷٦.

۩ **د نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې په عالَمِ اَرواح کښې **الله** پاک نُبُوَّت ورکړے وو او په هُم هغه جهان کښې د نورو انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام روحونو د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رُوحِ انور نه فيض حاصل کړو. [1] ۩ **د نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې په عالَم اَرواح کښي د نورو انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام د رُوحونو نه **الله** پاک عهد واخستلو چې که هغوئي د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمانه اومومي نو په هغوئي دې ايمان راوړي او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد دې اوکړي. [2] ۩ **د نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي نوم مبارک د عرش په ښپه او په هر آسمان او د جَنَّت په ونو او محلاتو باندې او د حُورو په سينو باندې او د فرښتو د سترګو تر مينځه ليکلے شوے دے. [3] ۩ **د نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُوم مُبارک **مُحَمَّد** د **الله** پاک د نوم **مَحمُود** نه اَخذ شوے دے. [4] ۩ **د نبي کريم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه**

---

[1]... المواهب اللدنية مع شرح زرقاني، المقصد الاول...الخ، في تشريف الله تعالى له...الخ، ج۱، ص۶۳.

[2]... المواهب اللدنية مع شرح زرقاني، المقصد الاول...الخ، في تشريف الله تعالى له...الخ، ج۱، ص۷۷.

[3]... الخصائص الكبرىٰ، باب: خصوصيته بكتابة اسمه الشريف مع اسم الله تعالى..الخ، ج۱، ص۱۲ .۱۳.

[4]... الخصائص الكبرىٰ، باب: اختصاصه صلى الله عليه وسلم باشتقاق اسمه الشريف...الخ، ج۱، ص۱۳۴

**وائي** چې د هغوئي د اَسمائے مبارکه نه تقريباً اَويا (70) نومونه هُم هغه دي کوم چې د **الله** پاک نومونه دي ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو نُوم **اَحمد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مخکښې تر کومه راستې چې دُنيا پيدا شوي ده د بل هيڅ چا دا نُوم نه وو چې په دې خبره کښې هيڅ چا ته څه د شک او شُبهے گُنجائش پاتې نه شي چې د قرآنِ مجيد نه مخکښې آسماني کتابونو کښې چې کوم د **اَحمد** ذِکر دے هغه هُم دوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.[1] ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلې شا ته هُم داسې ليدل څنګه به ئې چې مخې ته ليدل. د شپے به ئې په تِياره کښې داسې ليدل څنګه به ئې چې د ورځې په رڼړا کښې ليدل. ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لُعابِ دهن [يعني لاړو مبارکو] به تراوې اوبه خوږې کړلې او د ېئو د ماشومانو د پاره به ئې د ېئو کار کولو .[2]

۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې بشر دے چې د بدن سَورے ئې نه وو ځکه چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور هُم دے او د نُور سَورے نه وي. ۩ **د نبي کريم**

---

1... شرح الزرقانی علی المواهب، المقصد الثانی...الخ، الفصل الاول فی اسمائه...الخ، ج۴، ص۲۳۴, ۲۳۲ ملخصًا.

2... الخصائص الکبریٰ، باب: الایات فی فمه الشریف وریقه واسنانه، ج۱، ص۱۰۵

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي چې الله** پاک هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل شریعت مُختارِ کُل جوړ کړے دے، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې د چا د پاره څه غواړي حلال ئې کړي او د چا د پاره چې څه غواړي حَرام ئې کړي. ۩ **د نبي کریم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوریدلو قُوَّت د ټولو نه زیات وو، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د آسمانونو نه د فرښتو د وَزَرو آوازونه اوریدل، او حضرتِ جِبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام به چې لا په سِدرةُ الْمُنْتَهٰی کښې وو نو خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغوئي د وَزَرو آواز واوریدلو او چې کله به هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام د وَحِي راوړلو د پاره راکوزیدل شروع کړل نو د هغوئي په خوشبو به پوهه شولو. دغسې د آسمان د دروازو بیرته کیدلو آواز به ئې هُم اوریدلو.

حکیم کی آمد مرحبا　　　عظیم کی آمد مرحبا
اچھے کی آمد مرحبا　　　پیارے کی آمد مرحبا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## 12 نیکو اعمالو کښې یو نیک عمل ”صَدائے مدینه“

اے عاشقانِ رَسُول اسلامي ورونړو! ❖ د الله پرهیزګار بندګان بیماري د الله رحمت ګڼړي ❖ د الله پرهیزګار بندګان د بیمارئ په وجه د پریشانئ اظهار نه کوي ❖ د الله پرهیزګار بندګان بیمارئ کښې هُم د الله په رضا

باندې راضي اوسي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارۍ کښې هم بے صبري او ناشُکري نه کوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان خپل مصيبتونه او بيمارۍ پټوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارۍ کښې هُم د **الله** شُکر ادا کوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارۍ کښې هُم ګيلے قيصے نه کوي. لِـهذا مونږ ته هُم پکار دي چې د الله د پرهيزګارو بندګانو په نقشِ قدم روان شو او بيمارۍ کښې د شُکر او صبر نه کار اخلو، د **الله** په رضا باندې راضي اوسو او هر چا ته خپل درد تکليف نه بيانوو بلکه د بيمارۍ بَرَکتونه حاصل کړو.

د **الله** د پرهيزګارو بندګانو په نقشِ قدم باندې د چليدلو جذبه حاصلولو او د بيمارۍ حقيقي بَرَکتونه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مَدَني تَحرِيك دعوتِ اسلامي سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقے دولس مَدَني کارونه په ځان باندې لازِم کړئ. دولس مَدَني کارونو کښې يو مَدَني کار ''صدائے مدينه'' هُم دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه د **دعوتِ اسلامي** د مرکزي **مجلسِ** شُورىٰ له طرفه د دې مَدَني کار رِساله په نوم د ''صدائے مدينه'' منظر عام ته راغلي ده.

12 مَدَني کارونو کښې د دې مَدَني کار يعني د ''صدائے مدينه'' باره کښې تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه رِساله ''صدائے مدينه'' اولوَلئ، ټول اسلامي ورونړه او بِالخصوص تنظيمي ذِمَّه داران دا رساله ضرور اولوَلئ، دا رساله د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د بستے نه طلب کولو سره سره د

دعوتِ اسلامي ويب سائټ باندې هُم لوستلے شئ.

د دې رسالے د مطالعے په بَرَکت به تاسو ته دا معلومات حاصل شي، ❖ صدائے مدينه څه ته وائي؟ ❖ صدائے مدينه کښې مسلمانانو د پاره دُعا ❖ د صدائے مدينه دُنيوي فائدے ❖ د صدائے مدينه يو څو مَدَني ګلونه ❖ کوڅه کښې د صدائے مدينه لګولو طريقه ❖ د صدائے مدينه مدني سپرلي وغيره وغيره.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت د تَهَجُّد د لـمانځه سعادت حاصليدے شي ❖ د صدائے مدينه په بَرَکت د لـمانځه حفاظت کيږي ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت د جُمات وړومبي صَف کښې تکبيرِ اُولیٰ سره د سحر د لـمانځه ادا کولو سعادت حاصليدے شي ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت "د نيکئ دعوت" ورکولو ثواب هم ګټلے شي. ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت د عاشقانِ رسول مَدَني تَحريك دعوتِ اسلامي مشهوري او نيك نامي کيږي ❖ "صدائے مدينه" لګولو والا مسلمانانو ته بيا بيا د حج او خوږے مدينے ليدلو دُعا کوي، که **الله** اوغواړي نو دا دُعاګاني به د هغه په حق کښې هُم قبولې شي.

❖ "صدائے مدينه" کښې د پيدل ګرځيدو په وجه به ستاسو صحت هُم ښه کيږي، دا يوه اضافي فائده ده، نِيَّت صرف د ثواب ګټل دے ❖ د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاڅولو ته "صدائے مدينه" لګول وائي او مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاڅول

سُنَّتِ مُصطَفیٰ او سُنَّتِ صحابه نه ثابِت دي، چنانچه

اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ به چې [سحر] جُمات ته راروان وو نو [په لاره راتلو راتلو کښې به ئې] د سحر د لـمانځه د پاره خلق راپاڅول. (طبقات کبریٰ، ذکر استخلاف عمر، ۳/۲۶۳مفهوماً)

# د نګرانِ شوریٰ حاجي محمد عمران ایپ (Application) تعارُف

دعوتِ اسلامي په ټوله دُنیا کښې د دِین په تبلیغ کښې مصروفِ عمل دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ (I.T Department) د **عاشِقانِ رَسُول** د پاره یو ډیر شاندار کار کړے دے چې د نګران شوریٰ حاجي محمد عمران عطاري مَدَّظِلُّہُ الۡعَالِی په نوم ئې هُم یو ایپ، په نوم د **مولانا محمد عمران عطاري** په صورت کښې کړے دے دا ایپ لاؤنچ شوے دے، په دې کښې د حاجي محمد عمران عطاري مَدَّظِلُّہُ الۡعَالِی آډیو (Audio)، ویډیو (Video) بیانات، شارټ کلپ، مختلف مصروفیات، مدنی چینل ریډیو ، ډاؤن لوډ، د سرچ او شیئرنګ سهولتونه موجود دي.

په دې ایپلیکیشن کښې په مَدَني چینل کیدونکي پروګرامونه هُم شامل کړے کیږي. په دې کښې د موجود "Chat Live" آپشن په ذریعه تاسو خپلې فائده مندې مشورے هُم ورکولے شئ، لِـهذا نن دا موبائل ایپلي کیشن د پلے سټور یا ایپ سټور نه ډاون لوډ کړئ او نورو ته هُم د دې ترغیب ورکړئ.

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه كتابونه (۱) د 312 صفحو كتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو كتاب "سُنَّتیں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے "**101 مدنی پھول**" او "**163 مدني ګلونه**" هديةً واخلئ او د دې مُطالَعه اوكړئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو كښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# د لباس ۱٤ مَدَني ګلونه

اَوَّل **درې فرامِينِ مُصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ: ❁ د پيرې د سترګو او د خلقو د سِتر په مينځ كښې پرده دا ده چې كله څوك جامې ويستل غواړي نو [مخكښې دِ] بِسْمِ اللّٰه اولولي. (الْمُعجَمُ الاَوسط ج۲ ص۵۹ حديث۲۵۰٤) **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: څنګه چې ديوالونه او پَردے د خلقو د نظر نه پناهي جوړيږي دغسې به دا د **اللّٰه تعالٰی** ذِكر د پيريانو د سترګو نه پرده جوړيږي او شيطان به هغه (يعني شرمګاه) نه شي ليدلے. (مِراٰة ج۱ص۲٦۸)

❁ څوك چې جامې واغوندي او دا اولولي: **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ كَسَانِيْ هٰذَا وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّيْ وَلَا قُوَّةٍ** (ترجمه: ټول صِفَتونه اللّٰه تعالٰی لره دي چا



www.dawateislami.net

چې ما ته دا جامې واغوستلې او زما د طاقت او قُوَّت نه بغير ئې ما ته عطا کړې) نو د هغه تير شوي او راروان ګُناهونه به معاف شي. (شُعَبُ الایمان ج5ص181 حدیث6285) ❁ څوك چې د قدرت [يعني وَس لرلو] باوجود ښے جامې اغوستل د تواضُع (يعني د عاجزئ) په طور پرېږدي، **الله تعالیٰ** به هغه ته د ګرامت حُلّه وراغوندي. (ابوداؤدج٤ص٣٢٦حدیث٤٧٧٨) ❁ د حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك لباس به اکثر د سپينې کپړے وو. (کَشۡفُ الۡاِلۡتِباس فِی اِسۡتِحۡبَابِ اللِّباس لِلشَّیخ عبدُالحق الدِّھلَوی ص٣٦) ❁ لباس د حلالې ګټې پکار دے او کوم لباس چې د حرامې ګټې نه حاصل شوے وي، په هغې کښې فرض او نفل يو لمونځ هم نه قبليږي. (ایضًا ص٤١) ❁ **منقول دي:** چا چې په ناسته عِمامه اوتړله يا ئې په ولاړه سَراوِيل (يعني پاجامه يا پرتوګ) واغوستو نو **الله تعالیٰ** به هغه په داسې مرض کښې اخته کړي چې د هغې علاج نشته. (ایضًاص٣٩) ❁ د اغوستلو په وخت کښې د ښي طرف نه شروع کوئ (چې دا سنّت دي) مثلاً چې کُرته [يا قميص] اغوندئ نو مخکښې په ښي لِستوڼي کښې ښے لاس داخلوئ بيا ګڅ لاس په ګڅ لِستوڼي کښې. (ایضًاص٤٣) ❁هم دغسې پاجامه [يا پرتوګ] اغوستلو کښې مخکښې په ښئ پينڅه کښې ښئ ښپه داخلوئ او چې کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دې برعکس (يعني برخِلاف) کوئ، يعني د ګڅ طرف نه شروع کوئ. ❁ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي ادارے مَکۡتَبَةُ الۡمَدِینه چاپ شوي د ١١٩٧ صفحو کتاب **بهارِشريعت**، جلد ٣، صفحه ٤٠٩ کښې



www.dawateislami.net

دي: سُنَّت دا دي چې د لمَن اوګږدوالے د پنډۍ د نيمې پورې او د لِستونړي اوګدوالے زيات نه زيات د ګوتو د پستو سرونو پورې او پلن والے ئې يو لويشت پکار دے. (ردُّالمُحتار ج۹ ص۵۹۷) ✿ سُنَّت دا دي چې د نارينه تهبند يا پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] د ګيټۍ [يعني پړکو] نه بره وي. (مِراٰة ج٦ ص٩٤) ✿ نارينه دِ د نارينؤ او ښځې دِ د ښځو جامې اغوندي، په وړو ماشومانو کښې هم د دې خبرې لحاظ ساتۍ ✿ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۱۲۵۰ صفحو كتاب بهارِ شريعت جِلد اَوّل صفحه ٤٨١ کښې دي: د نارينه د پاره د نامه د لاندې نه واخله د زنګنونو د لاندې پورې "عورت" (يعني پرده) ده، د دې پټول فرض دي. نوم په دې کښې شامِل نه دے او زنګنونه پکښې شامِل دي. (دُرِّمُختار، ردُّالمُحتار ج۲، ص۹۳) په دې زمانه کښې ډير خلق داسې شته چې تهبند يا پرتوګ داسې اغوندي چې د سپوږزو (يعني د نامه لاندې راوتلي ځائ) څه حصه ئې پکښې ښکاري، که په کُرته [يعني قميص] وغيره کښې داسې پټ وي چې د پوستکـي (يعني څرمنې) رنګ پکښې نه ځليږي نو خير دے، ګني حرام دي او که په لـمانځه کښې د څلورمې حصې په قدر ښکاره وو نو لـمُونځ نه کيږي (بهارِشريعت) خصوصًا د حج او د عُمرے اِحرام والؤ ته په دې کښې د سخت احتياط ضرورت دے. ✿ نن صبا بعضې خلق په ښکاره د خلقو په مخکښې جانګے (نيم پتلون) اغوستے ګرځي او په هغې کښې د هغوئي زنګنونه او ورنونه ښکاري دا حرام

دي، د داسې خلقو ښکاره زنګونانو او ورنونو ته کتل هم **حرام** دي. بِالخصوص د لوبو په میدان، د ورزش کولو ځايونو کښې او د سمندر په غاړه داسې نظارے زياتې وي. لِهٰذا داسې مقاماتو ته په تګ کښې سخت احتياط ضروري دے- ✿ د **تکبُّر** په طور چې کوم لباس وي هغه ممنوع [يعني منع] دے. تکبُّر شته او که نه، د دې پيژندګلو دِ داسې اوکړي چې د دې کپړو [يعني جامو] اغوستلو نه مخکښې چې د ده کوم حالت وو، که د اغوستلو نه وروستو هم د ده هُم هغه حالت وي نو معلومه شوه چې په دې جامو کښې تکبُّر پيدا نه شو. خو که هغه حالت ئې اوس نه وي پاتې نو بيا تکبُّر پيدا شو. لِهٰذا! د داسې جامو نه دِ ځان بچ ساتي ځکه چې تکبُّر ډير خراب عيب دے. (ردُّالمُحتار ج ۹، ص۵۷۹، بهارِشريعت ج۳ ص۴۰۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ



www.dawateislami.net

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې داخليدلو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سيّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپې لا که دُرُود شريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښېنولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لَوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث: ۴۴۱۵



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کیدونکې د دعوتِ اسلامي د سُنّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره تول شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیت د پاره مَدَني قافلو کښې عاشقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښار ذمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ



فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com